بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## د مضمونونو فهرست



| شمېره | مضمونونه | صفحه |
|---|---|---|
| 1 | تلاوت او ترجمه قرآن یو څو آداب او د طلبانو د پاره اهم هدایات | |
| 2 | قرآن او صاحب قرآن | |
| 3 | سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَة | |
| 4 | د هاتیانو والو قصه | |
| 5 | د آخري لس سورتونو د سیرت النبيﷺ سره تعلق | |
| 6 | سُوۡرَةُ الۡفِيۡل | |
| 7 | سُوۡرَةُ قُرَيۡش | |
| 8 | سُوۡرَةُ الۡمَاعُوۡن | |
| 9 | سُوۡرَةُ الۡكَوۡثَر | |
| 10 | سُوۡرَةُ الۡكَافِرُوۡن | |
| 11 | سُوۡرَةُ النَّصۡر | |
| 12 | سُوۡرَةُ اللَّهَب | |
| 13 | سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص | |
| 14 | سُوۡرَةُ الۡفَلَق | |
| 15 | سُوۡرَةُ النَّاس | |
| 16 | قصه د آدم عليه السلام | |
| 17 | قصه د نوح عليه السلام | |
| 18 | قصه د هود عليه السلام | |
| 19 | قصه د صالح عليه السلام | |
| 20 | قصه دشعیب عليه السلام | |
| 21 | قصه دیونس عليه السلام | |
| 22 | سُوۡرَةُ الصّٰٓفّٰت | |
| 23 | "د ګرانو الفاظو معني" | |
| 24 | "مطالعه قرآن حکیم د طلباوو او طالباتو د پاره د مکمل نصاب تفصیل | |



## دَ تلاوت او دَ قرآن مجید دَ ترجمي یوڅو آداب

١ ـ پاک صفا او په اودس سره دَ قرآنِ حکیم تلاوت کول پکار دي ـ

۲ ـ دَ تلاوت شروع کولو نه مخکښې تعوّذ (اعوذبِالله) او تسمیه (بِسمِ الله) وئېل پکار دي ـ
۳ ـ دَ تجوید سره دَ تلاوت کوشش کول پکار دے ـ
۴ ـ دَ تلاوت کولو په وخت دَ ربّ العالمین او دَ هغهٔ دَ کلام عظمت هم پهٔ زړهٔ کښې کښېنول پکار دي ـ

۵ ـ تلاوت په درو آواز او په اوچت آواز کېدلے شي ـ البته دا خیال ساتل پکار دي چې په اوچت آواز کولو سره دَ چا پهٔ څهٔ کار یا آرام کښې خلل واقع نهٔ شي ـ

۶ ـ دَ سجدې دَ تلاوت پهٔ آیت باندې سجده کول پکار دي ـ
۷ ـ کله چې بل تِلاوت کوي، نو هغه په خاموشۍ او توجه سره اورېدل پکار دي ـ
۸ ـ دَ ترجمې او تشریحاتو دَ مطالعې په وخت کښې ښهٔ غور او فکر کول پکار دي، دَ دې د پاره چې دَ آیاتونو مفهوم په ښه طریقه په ذهن کښې کښېني ـ
۹ ـ الله تعالٰی او دَ هغهٔ دَ رسولﷺ دَ محبت او اطاعت د جذبې نه ډک دَ دین احکام زده کول او پهٔ دې باندې د عمل کولو پهٔ نیت د قرآنِ حکیم په غور سره مطالعه کول پکار دي ـ
۱۰ـ د الله تعالٰی او دَ رسول اللهﷺ دَ عظمت او رفعت او دَ جنت او دَ خو شحالۍ والو دَ آیتونو دَ ترجمې وئېلو پهٔ وخت خوشحالي ظاهرول او دَ شکر سره دَ جنت دعاء غوښتل پکار دي ـ
۱۱ ـ دَ الله تعالٰی دَ غضب، جهنّم او دَ هغهٔ دَ عذاب والا آیاتونو دَ ترجمې پهٔ وخت دَ الله دَ و یرې سره دَ عذاب دَ جهنم نهدبچکیدو دعاء غوښتل پکار دي ـ
۱۲ ـ دَ تلاوت پهٔ آخر کښې دَ خپل ځان مور او پلار استاذانو وفات شوي مسلمانان او د پوره امتِ مسلمه د پاره دَ سلامتۍ کامیابۍ او مغفرت دعاء غوښتل پکار دي ـ

## دَ طلبانو د پاره اهم هدایات

ټول طلباء او طالبات د دې نصاب دَ مطالعې په دوخت دا لاندې خبرې په ذهن کښې کښېنوئ ـ
۱ ـ دَ مطالعه قرآنِ حکیم دَ کتاب اَدب او حفاظت وکړئ او دَ دې جلدبندي هم وکړئ ـ دا خیال کول پکار دي چې تاسو آینده هم د دې نه فائده واخلئ اودحفاظت مکمل انتظام وکړئ ـ
۲ ـ په مطالعه قرآنِ حکیم کښې دَ پېښ شوې ترجمې انتخاب دَ ډېرو علمآءِ کرامو او د دیني بزرګانو دَ مشهورو ترجمو نه شوے ده ـ په دې حوالې سره د دې معززو شخصیاتو عظیم جدوجهد او د دې ډېرو خدماتو مونږ لره قدر کول پکار دي او دوي خپل محسِنین ګنړل پکار دي او مونږ دوي ته خِراجِ تحسین پېښ کول پکاردې کوموخلقوچې ددې نصاب دښه جوړول صرف داکلاس پهٔ وجه داکارکړےدے ـ
۳ ـ په دې نصاب کښې دَ قرآنِ حکیم ترجمه او دَ دې دَ بنیادي تعلیماتو نه دَ خبرداری کوشش شوے دے ـ دَ دیني مسائلو او دَ قرآنِ

حکيم دَ احکاماتو دَ تفصيل د پاره علمآءِ کِرامو ته رجوع کول پکار دي ـ

۴ ـ دَ دې نصاب يواهم مقصد دَ قرآنِ حکيم دَ بنيادي زده کولوپاره د پېغاماتو او هِدایاتو نه طلباء خبرول دي ـ البته دَ دې مطالعې په نتيجه کښې ځان د دې قابل ګنړل چې مونږ دَ قرآنِ حکيم نه پۀ خپله مسائل او احکامات راوستلےشو او مونږ ته دَ اهلِ علمو نه دَ څۀ ازده کولو ضرورت نشته، هيڅ کله دا صحيح نۀ ده ـ

۵ ـ دَ قرآنِ حکيم دَ مطالعې سره دَ نبي کريمﷺ دَ احاديثِ مبارکوو او دَ سيرت النبيﷺ مطالعه هم ډيره ضروري ده ځکه چې دَ قرآني احکاماتو او تعليماتو وضاحت نبيﷺ دَ خپل قول او عمل په ذريعه باندې کړے دے ـ ګويا دَ قرآنِ حکيم عملي وضاحت دَ نبيﷺ دَ اسوه حسنه نه پۀ اسانے سره حاصليږي اسانيږي ـ په دې سلسله کښې دَ خپلو استاذانو او علماوو نه ځان خبر کړئ ـ

# قرآن او صاحب قرآن

## دَ قرآنِ حکيم ـ ـ ـ ـ تلاوت،تجويد او دَ فهم قرآن اهميت:

قرآنِ حکيم دَ الله تعالٰي هغه عظيم او آخري کتاب دے، چې دَ انسانانو دَ هدايت د پاره الله دَ تعالٰي دَ لوحِ محفوظ نه په خپل آخري رسول نبي کريمﷺباندې دَ وحې په صورت کښې د جبرئيلِ امين عليه السَّلام په ذريعه د درويشت (۲۳) کلونو په زمانه کښې نازل کړو ـ

## دَ تلاوت قرآن اهميت او فضيلت

دَ قرآنِ حکيم تلاوت دَ يو لوے عبادت کېدلو سره سره دَ ايمان دَ تروتازه ساتلو هم يو مؤثر ترينه ذريعه ده ـ زمونږ خوږ نبيﷺ دَ قرآنِ حکيم دَ تِلاوت ډير زيات اجر ثواب او فضيلت بيان کړے دے ـ دَ نبيﷺ دَ حديثونو مبارکوو په رنړائي کښې څو فضائل دا دي:

### فرمانِ نبويﷺ:

۱ ـ'' چې کوم کس دَ الله تعالٰي دَ کتاب (قرآنِ حکيم ) يو حرف هم اوواي ددې په بدله کښې ده ته يوه نيکي ميلاويږي او دَ يوې نيکۍ ثواب دَ لسو نيکو برابر ميلاويږي ـ (جامع ترمذي)

۲ ـ ''څوک چې دَ قرآن ماهر وي هغه به دَ معززو ملائکو سره وي ،چې کوم کس ( دَ څۀ معذورۍ په وجه ) په قرآن کښې انښلي او په دې کښې مشقت اوچتوي، نو دۀ ته به د دې دوه چنده اجر ميلاويږي ـ (صحيح بخاري،صحيح مسلم)

## دَ قرآنِ حکيم په باره کښې بنيادي معلومات

| ټول آياتونه | ټول سورتونه | ټول منزلونه | ټولي رکوع کاني | ټولي سيپاري |
|---|---|---|---|---|
| ۶۲۳۶ | ۱۱۴ | ۷ | ۵۵۸ | ۳۰ |

## دَ تجويد تعريف او اهميت

تجويد هغه علم دے چې په هغې سره دَ قرآنِ حکيم هر حرف دَ صحيح مخرجونو او صفاتو سره ادا کولو آيتونه اوپۀ مناسب ځايونو باندې دَ وقف کولو طريقه راشي ـ

دَ تجويد حکم دا دے چې د دې علم دومره زدَه کول په هر مسلمان باندې لازم دي چې په دې باندې دَ تلاوت په دوران دَ غلطو نه بچ شي د پاره ددې چې انسان دَ ګناهګارېدلو نه بچ شي ـ دغه وجه ده چې دَ تجويد دَ علم زده کولو سره دَ تلاوت په وخت دَ غلطيانو نه حفاظت کيدلے شي ـ په قرآنِ حکيم او احاديثِ مبارکوو کښې هم دَ تجويد سره دَ تلاوتِ قرآنِ حکيم حکم شوے دے ـ دَ الله تعالٰي ارشاد دے" او قرآن ښۀ په قلاره ښکاره واضح لوله ـ (سورت المزمل۷۳،آيت۴) يعني هر حرف صفا صفا او صحيح ادا کول ـ

نبي کریم ﷺ به په خپل تلاوت کښې د دې خبرې خیال ساتلو ـ دَ امِّ سلمه رضي الله عنها نه بعضې خلقو دَ نبي کریم ﷺ دَ شپې دَ مونځ باره کښې دَ تلاوتِ قرآنِ حکیم دَ کېفیت معلومولو تپوس وکړو، نو هغې رضي الله عنها اوفرمايل چې: نبي کریم ﷺ به تلاوت داسې کولو چې هر هر حرف به ئې واضح ادا کولو ـ (جامع ترمذي، سنن ابي داؤد، سنن نسائي)

فرمانِ نبوي ﷺ: دَ قیامت په ورځ به حافظِ قرآن ته اووئیلے شي چې قرآن لوله او دَ جنت په درجو ورخېژه او په قلاره قلاره ئې لوله څنګه چې تا په دنیا کښې په قلاره قلاره لوستلو، لِهٰذا ستا مقام هغه دے چې کله تهٔ دَ قرآن آخري آیت ته ورسېږې ـ (جامع ترمذي، سنن ابي داؤد)

دَ قرآنِ حکیم دَ تلاوت کولو په وخت انسان کله داسې غلطي وکړي چې په هغې سره معنٰي بدلېږي یا دَ قرآنِ حکیم خکولےوالے ختمیږي ـ دَ تجوید په اصطلاح کښې دې ته "لحن" وئیلے شي ـ د دې دوه قسمه دي "لحنِ جلي او" لحنِ خفي"

١ ـ لحنِ جلي ( د دې نه مراد "غټه ښکاره او واضحه غلطي ده )

دَ لحنِ جلي څلور صورتونه دي:

١ ـ یو حرف بدلول او بل دویم وئېل، لکه: دقُلْ پهٔ ځائے (اووایه) کُلْ (اوخوره) د قَلْب پهٔ ځائے (زړهٔ) کَلْب (سپے) دذَلَّ پهٔ ځائے (ذلیل شولو) زَلَّ (اوښویدلو) دعَلِیْمٌ پهٔ ځائے (پوهې والا) داَلِیْمٌ پهٔ ځائے (دردناک) او دإِسْم پهٔ ځائے (نوم) إِثْم (ګناه) وئیل ـ

٢ ـ حرف کمول یا زیاتول، لکه: خَلَقْنَا (مونږ پېدا کړي) د دې په ځاے خَلَقْنَ (دې ټولو زنانوو پېدا کړي) قَالَ (هغه یو وئیلي وو) د دې په ځاے قَالَا (هغه دوو وئیلي وو) وئېل ـ

٣ ـ ساکن متحرک کول او متحرک ساکن کول، لکه: جَعَلْنَا (مونږ جوړکړي) د دې په ځاے جَعَلَنَا (هغه مونږ جوړ کړي وو) او جَعَلَنَا، جَعَلْنَا وئیل ـ

٤ ـ په حرکاتو او سکناتو کښې غلطي کول، یعنې دَ زور په ځاے زیر یا پېښ وئېل، یعني زور، زیر، پېښ، جزم یا تشدید وغیره بدلول، لکه: اَنْعَمْتَ (تا انعام کړے) د دې په ځاے اَنْعَمْتُ (ما انعام کړے) قَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ (مړ کړلو داؤد علیه السلام جالوت لره ) د دې په ځاے قَتَلَ

**دَاوُدَ جَالُوتُ** (مړ کړلو جالوت داؤد عليه السلام لره) مَعَاذَالله، دغهٔ رنګې **مُنۡذِرِيۡن** (ويرولو والا) د دې په ځاے **مُنۡذَرِيۡن** (ويرولے شوي) وئيل ـ

په لحنِ جلي سره معنٰي غلط کېږي ـ داسې غلطي سخته سنګينه ده او په قصد سره داسې کولو والا به ګناهګار وي ـ دَ لحنِ جلي د غلطيانو نه لازمي دَ بچکېدلو کوشش پکار دے او په صحيح طريقه تلاوت زده کول پکار دي ـ

۲ ـ لحنِ خفي (د دې نه مراد: وړوکي، باريکه، سپکه يا پټه غلطي ده)

دَ صفاتِ عارضه غلطيانو ته لحنِ خفي وايي ـ لکه په "راء" چې زور يا پېښ وي، نو ډک وئيل پکار دي ليکن څوک ئې باريک اوواييـ وغيره ـ په لحنِ خفي سره دَ حرفونو حسن او زينت ختميږي، دَ داسې قسم غلطيانو نه هم بچ کېدل پکار دي، د دې د پاره چې په شائسته طريقه باندې دَ قرآنِ حکيم تلاوت وکړے شي ـ

## دَ فهمِ قرآن اهميت

څرنګه چې دَ تجويد سره دَ قرآنِ حکيم تلاوت ضروري دے دغهٔ رنګې دَ قرآنِ حکيم نه دَ هدايت حاصلولو د پاره د دې پوهې کوشش هم ضروري دے د دې د پاره چې معلومه شي چې الله تعالٰي زمونږ نه څهٔ غواړي ،مونږ ته دَ زندګۍ تيرولو څهٔ هدايت راکوي، د دې د پاره چې مونږ پهٔ دې ډير عمل وکړو ـ په قرآنِ حکيم کښې يو ځاے ارشاد دے"(دغه قرآن) کتاب دے چې مونږه تا ته نازل کړے دے، برکت والا دے، د دې د پاره چې دوي د دې په آياتونو کښې فکر وکړي او دَ دې د پاره چې د خالصو عقلونو والا ترې پند او نصيحت واخلي ـ (سورت ص، آيت: ۲۹)

فرمانِ نبوي ﷺ: اے قرآن والو! قرآنِ کريم ته تکيه مهٔ لګوئ بلکه دَ شپې او ورځې په وختونو کښې د دې تلاوت کوئ څنګه چې د دې حق دے او دا خور کړئ او د دې سره پهٔ لګولې زړهٔ ،پهٔ شکلې خوږآواز سره ئې لولئ او په دې کښې غور کوئ د دې د پاره چې تاسو کامياب شئ او د دې زر اجر اختسلو فکر مهٔ کوئ ـ بېشکه (دَ الله **سُبۡحَانَهٗ وَتَعَالٰى** دَ طرف نه ) د دې اجر او ثواب (په خپل وخت ميلاوېدلو والا) دے" (بيهقي)

حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائي :" دَ قرآنِ حکيم تدبّر دا نهٔ دے چې د دې حروف حفظ کړے شي او د دې هدايت پريښودلے شي (چې د دې نتيجه به دا شي چې) ما ټول قرآنِ کريم ولوستلو ليکن د دهٔ په اخلاقو او اعمالو به ئې هيڅ اثر په نظر نهٔ راځي ـ (تفسيرابن کثير)

معلومه شوه چې د دې کتابِ عظيم دَ نازلېدلو مقصد دادے چې د دې دَ تلاوت سره په دې کښې سوچ اوکړے شي، د دې دَ مضامينو نه خبرېدل حاصل شي او د دې مطابق عمل اوکړے شي مونږله دژوندتيرولودپاره کوم هدايات راکړےشوي دي ـ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَللّٰھُمَّ

صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ

کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ

اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ

اَللّٰھُمَّ

بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ

کَمَا بَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ

اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ

# صاحبِ قرآن ـ ـ ـ ـ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ خَاتَمُ

زمونږ خوږ نبيﷺ دَ الله **سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ** محبوب ترين بنده او آخرى رسول دے پۀ کوم باندې چې الله **سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ** خپل مکمل او آخري کتاب قرآنِ حکيم نازل کړے دے ـ خوږ نبيﷺ صرف د يووشت کاله جدوجهد نه وروسته اسلام په عالَمِ عرب کښې غالبه کړو او انسانيت ته ئې دَ انفرادي او اجتماعي زندګی تېرولو بهترينه طريقه اوښودله ـ خوږ نبيﷺ الله **سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ** دَ ټول انسانيت د پاره رحمت رالېږلے دے، دَ خوږ نبيﷺ زندګي دَ تمام انسانيت د پاره بهترينه طريقه ګرځولے شوې ده ـ



## دَ نبيﷺ شان دَ قرآنِ حکيم په ژبه باندې

١ ـ دَ الله **سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ** دَ طرف نه دَ خوږ نبيﷺ دَ اوچتوالي ذکر

" او مونږ ستاسو(ﷺ) په خاطر ستاسو(ﷺ) ذکر اوچت کړے دے ـ (سورت الانشراح ۹۴ آيت:۴)

٢ ـ دَ نبيﷺ دَ الله **سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ** په ډېرو ورکړو سره راضي کول ـ

"او خامخا به زرستارب تاسوته دومره درکړي، نو تۀ به راضي (خوشحاله) شې ـ (سورت الضحٰي ۹۴ آيت:۵ )

٣ ـ دَ نبيﷺ زندګي بهترينه نمونه ده ـ

"يقينًا ستاسو د پاره دَ الله دَ رسول (ﷺ په ذات مبارکه) کښې بهترينه نمونه ده ـ (سورت الاحزاب۳۳، آيت۲۱)

۴ ـ دَ نبیﷺ أعلٰی أخلاق أو کردار

" يقينًا تاسو (ﷺ) دَ أخلاق په أعلٰی مرتبه باندې يئ ـ (سورت القلم۶۸، آيت:۴)

۵ ـ دَ نبیﷺ اتِّباع دَ محبَّت اِلٰهي دَ حصول أو دَ مغفرت ذريعه ده ـ

(اے نبيﷺ!) تاسو اوايئ: کهٔ چرې تاسو د الله سره مينه کوئ، نو بيا زما اتباع وکړئ، الله به تاسو سره مينه وکړي او تاسو ته به ستاسو ګناهونه وبخښي او الله ډير بخښونکے، بې حده رحم کونکے دے ـ (سورت آل عمران۳، آيت:۳۱)

۶ ـ نبیﷺ دَ تمام جهانونو د پاره رحمت او دَ ټولو خلقو د پاره رسول دے ـ

" او مونږ تاسو نهٔ ئې ليږلي  مګر د مخلوقاتو دپاره رحمت ـ (سورت انبياء۲۱، آيت:۱۰۷)

" او مونږ تاسو نهٔ ئې ليږلي  مګر د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زيرے ورکونکے او ويرونکے او ليکن اکثره خلق نهٔ پوهيږي ـ (سورت سبا۳۴، آيت:۲۸)

۷ ـ نبیﷺ دَ قرآنِ حکيم تشريح کونکے دے ـ

"په ښکاره معجزو او کتابونو سره او مونږ تا ته ذکر (وقرآن) نازل کړې دے، پاره ددې چې تهٔ خلقو ته هغه څهٔ ښهٔ واضحه کړې چې دوي ته نازل کړے شوي دي ـ (سورت النحل۱۶، آيت:۴۴)

۸ ـ په نبیﷺ باندې دَ درود او سلام حکم ـ

"بېشکه الله او د هغهٔ ملائک په نبي درود ليګي، اے ايمان والو راوړے دے! تاسو په دغهٔ (نبي) باندې درود وايئ او سلام اووايئ، اوښه ډير سلام وايئ ـ (سورت الاحزاب۳۳، آيت:۵۶)

۹ ـ دَ نبیﷺ دشان مختلف حالتونه

"اے نبيﷺ ! بېشکه مونږ تهٔ ګواهي ورکونکے او زيرے ورکونکے او ويرونکے ليږلے ئې ـ

او الله تهٔ دَ هغهٔ په حکم سره، بَلَونکي او رنړا کونکې ډيوه مو ليږلې يې ـ (سورت الاحزاب، آيتونه:۴۵، ۴۶)

۱۰ ـ دَ نبیﷺ فرمان دَ وحي مطابق ؤ ـ

"او دے له خپل خواهش نه خبرې نهٔ کوي، نهٔ دے دا (قرآن) مګر وحي چې (هغوئ طرف ته) وحي کولے شي ـ (سورت النجم، آيت:۳،۴)

۱۱ ـ نبیﷺ خاتم الانبياء دے

محمّد (ﷺ) ستاسو په سړو کښې د هيچا پلار نهٔ دے ليکن د الله رسول دے او د نبيانو (دَ لړی) ختمونکے دے ـ (سورت الاحزاب، آيت:۴۰)

## دَ نبی کریمﷺ ژوند مبارک ـ ـ ـ ـ

### د ولادتِ مبارکه نه د وحي تراغازه پورې

١ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ ټولو نه اوَّل نورِمحمَّدَ (رو ح محمَّدﷺ) پېدا کړو ـ
٢ ـ دَ نبي ﷺپېدائش نیک بخت دَ ګل په ورځ د ربیع الاوَّل په میاشت کښې وشو ـ
٣ ـ دَ نبيﷺ نوم مبارک محمَّداو اَحمد (ﷺ) دے او کنیت ئې ابوالقاسمﷺ دے ـ
٤ ـ دَ نبيﷺدَ پلارنوم عبدالله او دَ نیکهٔ نوم ئې عبدالمطلِّب دے ـ
٥ ـ دَ نبيﷺ دَ مور نوم آمنه بنت وهب دے ـ
٦ـ دَ نبيﷺ دَ پېدائش باسعادت په وخت چې کوم نور ظاهر شوے ؤ،دې ظاهرشوي نوردَ شام د ملک محلات روښانه کړي وو ـ
٧ـ دَ نبيﷺ په شودو (یعنې رضاعت) ورکولو والو کښې بي بي آمنه،بي بي حلیمه سعدیه رضى الله عنها او ثُوَیْبَه رضى الله عنها شاملې وې ـ
٨ ـ دَ نبيﷺ دَ شقِّ صدر مبارک اول واقعه په ماشوموالي کښې پېښه شوې وه ـ
٩ ـ دَ نبيﷺ عمر شپږ کاله ؤ چې مور صاحبه بي بي آمنه وفات شوه،هر کله چې دَ هغوئ دَ پلار عبدالله وفات دَ نبيﷺ دَ پېدائش نه مخکښې شوے ؤ ـ
١٠ـ دَ نبيﷺعمر مبارک اتهٔ کاله ؤ چې دَ نبيﷺ نیکهٔ عبدالمطلِّب وفات شو ـ
١١ـ نبيﷺ دَ (١٢) دولسو کالو په عمر کښې دَ جناب ابوطالب سره د شام ملک طرفته په سفر باندې لاړ و ـ
١٢ـ نبيﷺ د ◌ پنځویشت کاله په عمر کښې دَ امّ المؤمنین خَدِیجةُ الْکُبْرٰى رضى الله عنها سره نکاح وکړله ـ
١٣ـ دَ نبيﷺ پاکیزه ځامن درې وو: (قاسم ﷺ، عبدالله ﷺ، ابراهیم ﷺ) چې ټول په ماشوموالي کښې وفات شوي وو او څلور ئې پاکدامنې لورګانې وې (زینب رَضِيَ اللّٰہ عنها، رُقیَّه رَضِیَ اللّٰہ عنها، اُمِّ کلثوم رَضِیَ اللّٰہ عنها، فاطمه رَضِیَ اللّٰہ عنها) ـ
١٤ـ نبيﷺ دَ اعلانِ نبوَّت نه مخکښې هم په صادق او امین لقب باندې مشهور ؤ ـ
١٥ـ دَ نبيﷺ عمر مبارک چې٤٠ کاله شو نو دَ وحي دَ نزول آغاز وشو ـ

### دَ وحي دَ آغاز نه دَ هجرت مدینه پورې (مکّی دور)

١ ـ په نبيﷺ باندې دَ وحي دَ نزول نه وروسته امّ المؤمنين خَدِيجة الکبرىٰ رضى الله عنها، ابوبکر صدّيق ﷺ، على المرتضىٰ ﷺ او زيد بن حارثه ﷺ اسلام راوړو ـ
٢ ـ نبىﷺ دَ وحي دنزول نه وروسته ابتداءً دَ درې کالو پورې غيراعلانيه طور باندې دَ تبليغ آغازوکړو ـ
٣ ـ دَ نبىﷺ عمر تقريباً دريځلويښت کاله شو چې نبىﷺ اِعلانِيه دَ تبليغ دَ کار آغاز وکړلو ـ
٤ ـ دنبىﷺ دَ ظهورِ نبوت پهٔ پنځم کال دَ حبشه هجرت وشولو ـ
٥ ـ دَ نبىﷺ دَ ظهور نبوت په شپږم کال حمزه بن عبدالمطلِّب ﷺ او عمر فاروق ﷺ اسلام راوړلو ـ
٦ ـ دَ نبىﷺ دقبيلي سره قريشو مکمَّل تعلقات ختم کړل او دَ درې کاله پورې ئې په شِعَبِ ابي طالب کښې بند کړل ـ
٧ ـ دَ نبىﷺ دَ ظهور نبوّت په (١٠) لسم کال ابوطالب او خديجة الکبرىٰ رضى الله عنها وفات شو ـ دې کال ته "عام الحزن "(دَ غم کال) وائي ـ
٨ ـ دَ نبىﷺ دَ ظهور نبوّت په (١٠) لسم کال دَ طائف سفر وکړلو او په دغهٔ کال دَ نبىﷺ بارګاه ته جنّات (پيران ) حاضر شو اسلام ئې قبول کړو ـ
٩ ـ دَ نبىﷺ دَ مکې ژوند په آخري دور کښې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نبىﷺ ته داسې معجزه ورکړه چې پهٔ دې کښې نبىﷺ دَ ربّ کائنات سره دمعراج ملاقات او د خبرو خصوصي شرافت حاصل شو ـ
١٠ ـ دَ نبىﷺ دَ ظهورِ نبوت په (١٣) د يارلسم کال هجرت وکړلو ـ

## دَ هجرتِ مدينه نه تر وِصال پورې (مدنى دور)

١ ـ نبىﷺ دَ مسجدِ قبا او مسجدنبوى شريف بنياد په اوله هجري کښې کېښودو چې دَ مسلمانانو د پاره مرکز وګرځولے شو ـ
٢ ـ انصار (دَ مدينې منوّرې اوسېدونکي صحابه کرام ) او مهاجرين (دَ مکې مکرَّمې نه راغلي صحابه کرام ) په مېنځ کښې دَ مواخات (وروروليٍ) قيام په اول کال دَ هجرت کښې اوشو ـ
٣ ـ مدينې منوّرې ته نزدې چې کوم يهود آباد وو، دهغوئ سره د هجرت پهٔ اول کال کښې (سياسي او دفاعي) معاهده وکړه چې ورته "ميثاقِ مدينه" وائي ـ
٤ ـ غزوه بدر (دَ مسلمانانو شانداره فتحه) تحويل قبله، دَ روژې فرضيت، صدقه فطر او دَ عيدالفطر (وړکي اختر) دَ مونځ حکم په (٢) دويم کال دَ هجرت وشو ـ
٥ ـ غزوه د اُحُد هجرت پهٔ دريم کال اوشو ـ
٦ ـ غزوه احزاب (دَ کافرانو شرمناک شکست) په پنځم کال دَ هجرت اوشو ـ

۷ ـ صلح حُديبيه (دَ مسلمانانو کولاؤ فتحه) په (۶) شپږم کال دَ هجرت اوشوه ـ
۸ ـ فتح خيبر (دَ يهودو شکست) په اووم کال دَ هجرت باندې شوې وه ـ
۹ـ فتح مکّه (بيت الله) دَ۳۶۰ بوتانو نه پاکول او دَ عربو په زمکه دَ الله دَ دين غلبه پهٔ اتم کال دَ هجرت وشوه ـ
۱۰ـ غزوه تبوک (دَ سلطنت روم خلاف) په (۹) نهم کال دَ هجرت اوشوه ـ
۱۱ـ دَ اسلام جامو اغستلو والا منافقينو دَ مسجدضرار تعمير وکړودکوم چې کله رسول الله ﷺ دَ غزوه تبوک نه واپس شو، نو دَ ورانولو او سوزولو حکم يې وکړلو ـ
۱۲ ـ حجّة الوَدَاع په (۱۱) يوولسم کال دَ هجرت وشو ـ
۱۳ ـ د نبیﷺ وصال مبارک دَ ربيع الاول مياشت دَ ګل په ورځ وشو ـ

## دَ رسول اللهﷺ دَ امت سره تعلق

(دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعالَى ار

۱ ـ مونږ پهٔ تاسو کښې يو عظيم رسول در ولېږلو ـ
۲ ـ هغه پهٔ تاسوباندې زمونږ آياتونه وائي او تاسو پاک او صفا کوي ـ
۳ ـ هغه تاسو ته کتاب او حکمت ښائي ـ
۴ ـ تاسو ته هغه څيزونه ښائي چې تاسو نهٔ پېژندل ـ

## دَ نبی کريمﷺ دَ امّتی کېدلو په حېثيت زمونږ ذمه واريانې

۱ ـ په نبیﷺباندې ايمان راوړي ـ
۲ ـ دَ نبیﷺسره محبّت کولوسره دَ نبیﷺتعظيم او عزت وکړي ـ
۳ ـ دَ نبیﷺدَ دين مدد اوکړي ـ
۴ ـ په نبیﷺ باندې نازله شوې رڼا دَ قرآنِ حکيم اتباع وکړه او پهٔ دې ثابت قدم پاتی شي ـ

## دَ رسول اللهﷺ انفراديت په زبانِ

۱ـ نبیﷺفرمائيلي: زهٔ د خپل ذات او د کورنی په اعتبار باندې دَ ټولو خلقو نه بهتر يم ـ
۲ ـ نبیﷺ فرمائيلي: زهٔ به دَ قيامت په ورځ دَ ټولو انسانانو سردار يم ـ

۳ ـ نبیﷺ فرمائیلي: دَ قیامت په ورځ به زما په لاس کښې دَ حمد جهنډا وي او ټول انبیاء کرام عَلَیْهِم السَّلام به زما دَ جنډې لاندې وي ـ

۴ ـ نبیﷺ فرمائیلي: چې کله زۀ تاسو ته ستاسو دپلار،اولاد او دَ ټولو خلقو نه زیات محبوب نۀ شم تاسو مؤمنان نۀ شئ کېدلے ـ

۵ ـ نبیﷺ فرمائیلي: اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ما ته عطیه راکوي او زۀ ئې تقسیموم ـ

۶ ـ نبیﷺ فرمائیلي: زۀ دَ ټولو انبیاوو قائد یم ـ

۷ ـ نبیﷺ فرمائیلي: زۀ په تاسو باندې ګواه یم، زما ملاقات به په حوضِ کوثر باندې کېږي او زۀ اوس دا وخت خپل حوضِ کوثر وینم ـ

۸ ـ نبیﷺ فرمائیلي: چې دَ قیامت په ورځ به زما امّتیان دَ ټولو انبیاء کرام علیهم السلام دَ امتیانو نه زیات وي ـ

۹ـ نبیﷺ فرمائیلي: چې زۀ هغه وخت نبی ووم چې کله آدم علیه السلام دَ روح اوډَجسم په مېنځ کښې ؤ ـ

۱۰ ـ نبیﷺ فرمائیلي: چې دَ قیامت په ورځ ټول مخلوق حتٰی چې ابراهیم علیه السلام به هم ما طرف ته متوجِّه وي ـ

۱۱ ـ نبیﷺ فرمائیلي: چې دَ قیامت په ورځ به دَ ټولو نه مخکښې زۀ سفارش کوم او دَ ټولو نه مخکښې به زما سفارش قبلولے شي ـ

> زمونږ خوږ نبی محمَّدرسول اللهﷺ خاتم النَّبیِّین دے دَ نبیﷺ نه بعد نۀ څوک رسول کېدلے شي او نۀ څوک نبی.

۱ ـ نبیﷺ فرمائیلي: زما په امت کښې به ۳۰ کذاب (دروغژن) وي چې په دې کښې به هر یو دا دعوې کوي چې هغه نبی دے، حالانکه زۀ خاتم النَّبیِّین یم، زما نه بعد بل نبی نشته دے ـ

۲ ـ نبیﷺ فرمائیلي: بېشکه دَ رسالت او نبوَّت سلسله ختمه شوې ده زما نه بعد به نۀ څوک رسول راشي او نۀ څوک نبی ـ

۳ ـ نبیﷺ دَ یوې خطبې په دوران کښې وفرمائل: زۀ په ټولو انبیآء کرام علیهم السلام کښې آخري نبي یم او تاسو په ټولو امّتونو کښې آخري امّت یئ ـ

عملي خبره: که مونږ دَ دنیا او آخرت فلاح او نجات غواړو، نو دَ رسول اللهﷺ دَ محبَّت او اتباع په جذبې باندې قربانیدلوسره، دَ نبیﷺ تعظیم او احترام په ځاے راوړو او په قرآن او سنت باندې عمل وکړو او په دې باندې ثابت قدم پاتې

١ ـ نبیﷺ به په ناسته ولاړهٔ کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ذکر کولو ـ
٢ ـ نبیﷺ هیڅ کله دَ چا نه دَ خپل ذات د پاره انتقام نهٔ دے اخستے، سِېوا د دې نه چې کله به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی احکامات ماتېدل ـ
٣ ـ نبیﷺ دَ ټولو خلقو نه زیات شائسته، دَ ټولو نه زیات سخي او دَ ټولو نه زیات بهادر ؤ ـ
٤ ـ نبیﷺ همېشه دَ مشکلاتوسره په اول نمبر کښې ؤ او دَ ثابت قدمی مظاهره به ئې کوله ـ
٥ ـ نبیﷺ همېشه دَ تکبر او غرور نه ځان ساتلو ـ
٦ ـ نبیﷺ به دَ خپلوانو حق ادا کولو او دَ محتاجو بوج به ئې اوچتولو ـ
٧ ـ نبیﷺ به دَ مېلمنو مېلمستوب کولو او دَ حق په لار کښې دَ مشکلاتو والو خلقو مدد به یې کولو ـ
٨ ـ نبیﷺ دَ سَیِّد المرسلین کېدلو باوجود دَ خپل لباس خیال ساتلو او دَ کور کار به یې هم پخپله کولو ـ
٩ ـ نبیﷺبه دَ ضرورت مطابق خبرې کولې ـ
١٠ ـ نبیﷺ به همېشه هغه خبره کوله چې په کوم باندې به دَ اجر او ثواب امېد ؤ ـ
١١ ـ نبیﷺبه اکثر تبسم کولو او مُسکے به ؤ ـ
١٢ ـ نبیﷺبه دَ صحابه کرامو سره په انتهائي خوش اخلاقی او نرمی سره ژوندتیرولو ـ
١٣ ـ نبیﷺ به د هیچا جائز درخواست نهٔ رد کولو ـ
١۴ ـ دَ نبیﷺ په نظر کښې به دَ چا اهمیت او مرتبه دَ هغه شائسته معاملې خاص کر دَ خلقو دَ خیرخواهی او همدردی په بنیاد باندې وو ـ
١۵ ـ نبیﷺ نه سخت مزاجه ؤ او نهٔ تیز مزاجه بلکې انتهائي شفقت او رحمت کولو والا ؤ ـ
١۶ ـ نبیﷺ به دَ خلقو په عېبونواوکمو پسې نهٔ ور پسې کېدو ـ
١٧ ـ نبیﷺ به په مزاح یعنې په توقو کښې هم رشتیا وئېل ـ

۱۸ ــ نبیﷺ به په خوراک کښې عېب نۀ راویستلو، که خواهش ته به ئې کیدو، نو خوړلو به ئې او که نۀ به کېدو، نو پرېښودلو به ئې ــ

۱۹ ــ دَ نبیﷺ هر فرمان دَ حکمت او هوښیارتوب نه ډک ؤ ــ

## دَ زنانوو دَ حقونو متعلق څو فرامینِ

۱ ــ نبیﷺ دَ حجَّة الوداع په موقع اوفرمائل: ــ ــ ــ خلقو! تاسو دَ زنانوو په باره کښې دَ الله نه ویرېږئ ځکه دوي تاسو دَ الله په امان سره اخستي دي او تاسو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى په کلمه (نکاح) سره دوي دَ خپلو ځانونو د پاره حلال کړي دي، ستاسو په دوي حق دادے چې دوي به ستاسو په بسترو باندي چالره دَ راتګ اجازت نۀ ورکوي، چې د چاپۀ راتګ تاسو خفه کیږئ او که چرته یې داسي وکړل، نو تاسو ورله داسي سزا ورکړئ چې د دي **نه زخم جوړنۀ شي او دَ دوي په تاسو دا حق دے چې تاسو دَخپل حېثیت مطابق دوئ له خوراک او لباس ورکړئ ــ**

۲ ــ نبیﷺ فرمایي په تاسو کښې بهتر هغه دے چې دَ خپل کور والو سره ښۀ وي او زۀ دَ خپل کور والو سره ستاسو دَ ټولو نه ښۀ یم ــ

۳ ــ نبیﷺفرمائي چې په مسلمانانو کښې بهترین ایمان والا هغه دے چې دَ هغه اخلاق ډیر ښۀ وي او هغه (خاص کر ) دَ خپلي بي بي سره دَ ټولو نه زیات نرمي کولو والا وي ــ

۴ ــ نبیﷺ فرمائي چې کوم کس دَ دوو (۲) لوریانو (ښۀ) پرورش وکړو، تر دي چې بالغه شوې، نبی ﷺ خپلي دوه ګوتې میلاو کړې (اشاره ئې وکړه) وې فرمائل چې دَ قیامت په ورځ به زۀ او هغه داسي (یعني یوځاے) یې وو ــ

## دَ نبی کریمﷺ په تعظیم او عزت کښې دَ صحابه

(۱) دَ نبی کریمﷺ نه به چاپیره صحابه کرام داسې په ادب سره ناست وو،داسي به معلومیده لکه چې دَ دوي په سرونو مرغۍ ناستي وي ــ

(۲) دَ صلح حدیبیه په موقع باندي عروه بن مسعودﷺ دَ نبی کریمﷺ د پاره دَ صحابه کرام رضي الله عنهم ادب او تعظیم داسي شانته بیانوي چې کله نبی کریمﷺ اودس کولو، نو صحابه کرامو رضي الله عنهم د دې اوبو حاصلولودپاره ډیرزیات کوشش کولو ــ

(۳) چې کله به نبی کریمﷺ خبره کوله، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل آوازونه ښکته کړل او تعظیمًا به ئې دَ نبیﷺ مخې ته خپل نظرونه ښکته کول ـ

(۴) ابوهریرهؓ فرمایي: چې ما دَ نبی کریمﷺ نه زیات حَسین (ښائسته) نۀ دے لیدلے (دَ نبی کریمﷺ مخ دومره نوراني ؤ) چې دَ نبی کریمﷺمخ مبارک دَ نمر پشانته روښانه ښکاریدو او چې کله به نبی کریمﷺ مسکے شو، نو (نوکله کله به) دیوالونه هم روښانه ښکاریدل ـ

(۵) چې کله به نبی کریمﷺ ویښتان کټ کول، نو صحابه کرام رضي الله عنهم به دَ نبی کریمﷺ ویښتان په خپلو لاسونو کښې (بطور تبّرک) راخستل ـ

دَ حضرت محمّدرسول اللهﷺ خاتم النبیِّین دَ پاکیزه تعلیماتونه څو خبرې

۱ ـ مونځ: " په عملونو کښې دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په نزد دَ ټولو نه زیات محبوب عمل په خپل وخت مونځ کول دي ـ (صحیح بخاري)

۲ ـ علم : "چې کوم کس دَ علم په تلاش کښې وځي، دا دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په لاره کښې دے ترڅو چې واپس شوے نۀ وي ـ (جامع ترمذي)

۳ ـ وخت : پنځۀ خبرې دَ پنځوو نه مخکښې غنیمت وګڼړه (۱)ځواني دَ بوډاوالي نه مخکښې (۲) صحت دَ بیمارۍ نه مخکښې (۳) مالداري دَ غریبۍ نه مخکښې (۴) فراغت دَ مصروفیت نه مخکښې (۵) ژوند د مرګ نه مخکښې ـ (جامع ترمذي)

۴ ـ والدین : ’’هغه کس دي رسوا شي، هغه کس دي ذلیله شي، هغه کس دي خوار شي چې خپل مور او پلار دَ بوډاوالي په حالت کښې بیاموmي او دَ هغوي دَ خدمت په وجه جنت ته داخل نۀ شي ـ (صحیح مسلم)

۵ ـ دوست : "انسان دَ خپل دوست په دین باندې وي، نو هر کس له پکار دي چې هغه اوګوري چې دا څوک دوست جوړي ـ (جامع ترمذي)

۶ ـ اتحاد: **"مسلمانان په رحم دلۍ او په خپل مینځ محبت او الفت کښې دَ یو جسم پشان دي،** چې کله دَ بدن یو اندام ته تکلیف وي، نو ټول بدن ته تکلیف محسوسیږي ـ (صحیح بخاري)

۷ ـ سلام : "اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ته یقینًا هغه کس نزدې دے چې په سلام کښې مخکښې والے کوي ـ (سنن ابی داؤد)

۸ ـ ادب : "هغه کس زمونږ نه نۀ دے چې زمونږ په ماشومانو باندې شفقت نۀ کوي او دَ مشرانو ادب نۀ کوي ـ (جامع ترمذي)

۹ ـ شکر: "څوک چې دَ خلقو شکر نۀ ادا کوي، نو هغه دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شکر هم نۀ ادا کئ ـ (جامع ترمذي)

۱۰ـ رحم د لی : " اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په هغۀ چا رحم نۀ کوي چې

## (دَ علم او عمل خبرې)

۱ ـ دَ نبی کریم ﷺ ژوند مبارک زمونږ لپاره بهترینه نمونه ده، مونږ لره په خپل روزمره معمولات کښې دَ نبی کریم ﷺ مبارک ژوندډلاري ډیوه جوړول پکار دي ـ

۲ ـ دَ نبی کریم ﷺ اتباع دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ محبّت او مغفرت دَ حصول ذریعه ده، لِهٰذا مونږ لره دَ نبی کریم ﷺ کامل اتّباع کول پکار دي ـ

۳ ـ دَ نبی کریم ﷺ تابعداری سره سره مونږلره شائسته اخلاق زده کول او خورول پکار دي ـ

۴ ـ په نبی کریم ﷺ باندې مونږ لره په کثرت سره درود وئیل پکار دي ـ

۵ ـ مونږ لره په دې مکمَّل یقین کول پکار دي چې نبی کریم ﷺ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آخری نبی دے او دَ نبی کریم ﷺ نه بعد دَ قیامت پورې هیڅ نبی نۀ راځي ـ

۶ ـ په وخت باندې مونځ کول دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په نزد محبوب ترین عمل دے،لِهٰذا مونږ لره په باقاعدگی سره په وخت باندې مونځ کول پکار دي ـ

۷ ـ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ رحمت دَ حاصلولو یو ذریعه په خلقو باندې رحم کول دي ـ

۸ ـ لوریانو ښۀ تربیت کولو والا به دَ قیامت په ورځ نبی کریم ﷺ ته نزدې وي ـ

## ځان پرې پوهٔ کړئ او حَل ئې کړئ

۱ ـ دَ لاندې لیکلے شوو سوالاتو جوابونه ورکړئ :

۱ ـ دَ نبی کریم ﷺ دَ والدگرامی او دَ والده صاحبې نوم مبارک ولیکئ؟

------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
----

۲ ـ دَ نبی کریم ﷺ تول څومره ځامن او لوریانې وې دَ دوی نه دَ ۳ دریوو نومونه ولیکئ ؟

------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
----

۳ ــ نبی کریمﷺ دَ اعلانِ نبوّت نه مخکښې په کومو القاباتوسره یادیدلو؟
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
----

۴ ــ په نبی کریمﷺ باندې دَ وحي دَ نزول نه بعداول کومو څلورو خلقو ایمان راوړے ؤ؟
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
----

۵ ــ نبي کریمﷺ ته دَ مکی زندگی په آخري دور کښې کومه معجزه ورکړې شوه؟
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
------------------------------------------------------------
----

۲ ــ خالي ځایونه ډک کړئ؟

(۱)"اے نبی کریمﷺ! بېشکه مونږ تاسو ته ــ ــ ــ ــ ــ ــ ورکولو ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ اورولووالا او دَ عذاب نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ والا جوړ کړے لېږلے او دَ الله دَ طرف نه د هغي پۀ حکم سره بللو والا او روښانه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ( جوړ کړے لیږلے ئې) ــ

(۲) نبیﷺفرمائیلي: چې کله زۀ تاسو ته ستاسو ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ او دَ ټولو خلقو نه زیات ــ ــ ــ ــ ــ ــ نۀ شم تاسو ــ ــ ــ ــ ــ نۀ شئ کیدلے ــ

(۳) نبیﷺفرمائیلي: چې دَ قیامت په ورځ به دَ ټولو نه مخکښې زۀ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ کوم او دَ ټولو نه مخکښې به زما ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ قبلولے شي ــ

(۴) نبی کریمﷺفرمائي: په تاسو کښې ښۀ هغه دے چې دَ خپل ــ ــ ــ ــ والو سره ښۀ وي او زۀ دَ خپل ــ ــ ــ ــ والو دَ پاره په تاسو ټولو کښې ښۀ یم ــ

(۵) نبی کریمﷺچې ــ ــ ــ ــ ــ ــ فرمائل، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل آوازونه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ کولو او تعظیمًا به دَ نبیﷺ مخې ته خپل نظرونه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ کوله ــ

(۶) نبی کریم ﷺ همېشه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ مخکښې کیدلو د پاره دَ ټولو نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ وو او ــ ــ ــ ــ ــ ــ مظاهره کوله ــ

کورنی هله زله

په هفته کښې يوه ورځ مقرر کړئ او ټول کور والو دَ نبی کريمﷺ دَ حياتِ مبارکه په يوطرف باندې دَ مذاکرې اهتمام کوئ او په يو منتخب شوي موضوع باندې دَ کور افراد په خپل مېنځ کښې تبادله خيال کوئ ـ

د استاد لاس ليک سره د تاريخ ________ د مور پلار لاس ليک/د مشر لاس ليک سره د تاريخ ________

# سُورۃُ الفَاتِحَة

## تعارف

سورة الفاتحه دَ قرآن حکيم اولنے سورت دے، دَ دې سورت څو نومونه دي، د دي مشهور نوم سورة الفاتحه ده، ځکه چې دا دَ قرآن افتتاحی سورة دے، دَ دې تلاوة په هر مونځ کښې کولے شي، د دې وجې دي ته "سورة الصَّلٰوة" هم وائي، د دې سورت نوم "سُوْرَة المناجات" هم دے، ځکه چې په دې سورت کښې دَ دعاء غوښتلو طريقه ښودلې شوې ده،په دې سورت کښېبنده دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی تعريف اوشکراداکوي دخلې بندگی اظهارکوي اودالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰیٰ په هدايت (نيغه لاره) داستقامت دعاغواړي سُوْرَة الفاتحه دعاء ده او ټول قرآن حکيم دَ الله دَ طرفه د دې دعاء جواب دے ـ دَ سورة الفاتحه دَ تلاوت په اختتام آمين وئيل مسنون دي ـ د دې مطلب دا دے اے الله دغه رنگې اوکړه، اے الله! قبول يې کړه ـ په احاديثو مبارکوو کښې دَ سورة الفاتحه ډير فضايل بيان شوي دي، نبي کريمﷺ فرمايي: دَ سورة الفاتحه پشان سورة نۀ په تورات کښې نازل شوے دے، نۀ په زبور کښې، نۀ په انجيل کښې او نۀ په باقی قرآن کښې (جامع ترمذی)

په يو موقعه باندې نبی عليه السلام يو صحابیؓ ته اوفرمائل: چې زۀ تا ته دَ قرآن په سورتونو کښې يو عظيم ترين سورت او نۀ ښايم (بيا) نبي عليه السلام اوفرمائل (هغه سورة) يعنې اَلحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (۱)اَلسَّبْعُ الْمَثَانِی دے ( اووۀ پيره لوستلو والا آياتونه دي چې په مونځ کښې باربار لوستلے شی) او دغه " القرآن العظيم" دے چې ما ته راکړے شوے دے (صحيح بخاری)
نبی عليه السلام ته داسي دوه(۲) نورونه ورکړے شوي دي چې مخکښې د نبی عليه السلام نه چا ته نۀ دي ورکړے شوي، يعني سورة الفاتحه او دَ سورة البقره آخری دوه آياتونه (صحيح مسلم)

فرمانِ نبویﷺ

"قرآنِ حکيم سيدها لار ده ـ

(ترمذی)

## دَ تَعَوُّذ "اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ" فضیلت

دَ قرآن حکیم دَ تلاوت نه مخکښي تَعَوُّذ وئېل د دي وجې ضروري دي چې دَ شېطان دَ غتو چلونو نه لوے چال دا دے چې دَ الله پېغام دَ هغهٔ بندګانو ته و نهٔ رسېږي ـ دَ اعوذ بالله دَ وئيلو د وجې نه انسان دَ شېطان مردود دَ شر نه اوځى او دَ الله په پناهى او حفاظت کښې راځى او دَ شېطانى وسوسو نه لري کېږي ـ د دي وجې نه الله تعالٰي ارشاد فرمائلے " چې کله تاسو د قرآن مجيد تلاوت کوئ، نو دَ شېطان مردود دَ شر او چلونو نه پناه طلب کوئ ـ (سورة النحل ۱۶، آيت:۹۸) البته دا په خاص طور ياد لرئ چې تعوّذ دَ قرآن حصه نهٔ ده ـ

**عملى خبره:** لکه څرنګه چې مونږه په سورة الفاتحه کښې دَ ټول امَّتِ مسلمه لپاره دعاء غواړو، هم دغهٔ رنګې مونږه په خپلو ټولو دعاګانو کښې هم پوره امَّت مسلمه شريک کول پکاردي ـ

## دَ تسميه "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" فضيلت

دَ [illegible] دَ
الله په نوم شروع کولے شي، اودهغه درضادپاره کولےشي کوم عمل چيدالله دنوم نه شروع شي نو پهٔ دي کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى برکت او مدد شامل وى ـ دَ ټولو نه په اوله وحي کښې هم دَ رب په نوم دَ وئيلو حکم شوے دے ـ (سورة العلق ۹۶ آيت :۱) په يو حديث کښې نبى عليه السلام فرمايي :" چې کوم جائز کار د الله د نوم بسم الله نه غير شروع شى، نو هغه نا مکمل او بې برکته وى ـ (مسند احمد)

# سُوْرَةُ الْفَاتِحَة

سورة الفاتحه ١ ټول آياتونه :٧، ټولې ركوع ګاني :١

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ .... بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع كوم چې لوے مهربان او نهايت رحم كولو والا دے ـ |
| اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ ٠٠١ |
| ټول صفتونه خاص دالله دپاره دي، چې پالونكے د ټول عالم دے ـ |
| الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۙ ٠٠٢ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۭ ٠٠٣ |
| چې ډير مهربان او ډيرزيات مهربان دے ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاوند د ورځې دَ بدلې دے ـ |
| اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ۭ ٠٠٤ |
| خاص تا لره عبادت كوو مونږ او خاص لتا نه مدد غواړو ـ |
| اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۙ ٠٠٥ |
| **مونږه پۀ نيغه لاره روان كړې** |
| صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ڏ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ |
| په لار دَ هغۀ كسانو چې انعام كړے تا په هغوي باندې چې غضب نۀ دے شوے په هغوي باندې |
| وَلَا الضَّاۗلِّيْنَ ٠٠٧ |
| او نۀ لاردهغه كسانوچې ګمراه ( بې لارې)دي ـ (آمين) |

آيا تاسو پوهېږئ؟
چې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى انعام يافته خلق انبياء كرام عليهم السلام،صديقين،شهيدان او نيكان دي ـ

(سورة النساء٤، آيت٦٩)

## اَهمي نــکتـي

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ټولو صفتونو حقدار دے ځکه هغه زمونږ پیداکوؤنکے، مالك، رب او محسنِ حقیقی دے ـ (سورة الفاتحه، آیت:۱)

۲ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰیٰ د ټولو خپل مخلوقاتو پاللو والا او د دې ضرورتونه پوره کولو والا دے ـ (سورة الفاتحه، آیت:۱)

۳ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰیٰ په خپل مخلوق باندې ډیر زیات مهربان دے ـ (الفاتحه، آیت:۲)

۴ ـ دَ قیامت ورځ دَ بدلې او سزا ورځ ده، په دې ورځ به صرف د الله بادشاهت وي، ټول اختیار به دَ هغهٔ سره وي او دَ سفارش اختیار به هم دَ هغهٔ له طرفه وي ـ (سورة الفاتحه، آیت:۳)

۵ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ذات دَ عبادت لائق دے ـ مونږ له دَ هغهٔ عبادت کول پکار دي ـ (سورة الفاتحه، آیت: ۴)

۶ ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه مدد غوښتل پکار دي ځکه هغه حقیقتًا او مستقلاً دَ مدد کولو والا دے ـ (سُوْرَة الفاتحه، آیت: ۴)

۷ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰیٰ ښودلې شوې لار دَ هدایت او کامیابی لاره ده، مونږ هر وخت ته هدایت ته محتاج یو ـ (سُوْرَة الفاتحه، آیت: ۵)

۸ ـ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰیٰ دَ انعام یافته بندګانو پیروي کول پکار دي ـ (سُوْرَة الفاتحه ، آیت: ۶)

۹ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ نافرمانی کولو والا نه ناراضه کیږي ـ مونږ لره دَ هغوی دَ نافرمانی نه بچ کېدل پکار دي ـ (سُوْرَة الفاتحه، آیت:۷)

۱۰ـ چې کوم خلك دَ الله تعالٰی دَ انعام یافته بندګانو تابعداري نهٔ کوی، نو هغه ګمراه کېږي ـ (سُوْرَة الفاتحه، آیت:۷)

## ځان پوهه كړئ او حل يې كړئ

١ خالي ځايونه ډك كړئ:

١: دَ ټول ______________________________ حقدار الله تعالٰي دے ـ

٢ : مونږ هر وخت ______________________________ته محتاج يو ـ

٣ : دَ قيامت ورځ **د**______________________________ او د سزا ورځ ده ـ

٤ : دَ الله تعالٰى انعام يافته بنداګانو پيروى نۀ كولو والا ______________________________كيږى ـ

٥ : دَ سورة الفاتحه د تلاوت په آخر كښې ______________________________وئيل پكار دي ـ

معلوم كړئ: دَ رب، رحمٰن، رحيم، عبادت او هدايت وضاحت دَ

٢ دَ لاندي ليكلي شوو سوالونو جوابونه وركړئ ـ

١ : الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ ټولو صفتونو حقدار ولې دے؟

------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

----

٢: دَ حديث شريف مطابق دَ صراط المستقيم نه څه مراد ده؟

------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

----

٣ : دَ الله انعام يافته بندګان څوك دي؟

------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

------------------------------------------------------------

----

۳ ـ د لاندې اولنی کالم الفاظ دَ دویم کالم متعلقه الفاظو سره میلاو کړئ او یو شانته رنګ ورکړئ:

| | |
|---|---|
| سُوْرَةُ الفاتحه | افتتاحي سُورَة |
| سُوْرَةُ المناجات | په مونځ کښې ویل |
| الصراط المستقیم | د دعاغوښتلو طریقه |
| الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی | دَ انعام یافته بندګانو لاره |
| سُوْرَةُ الصلوٰة | رب العالمین |

۴ " دَ علم او عمل دَ خبرو په مدد سره د الله صفتونه اولیکئ



سوچ اوکړئ !!! تاسو دَ مونځ ادا کولو لپاره جماعت ته ځئ چې تاسو ته یو دوست دَ لوبو کولو مشوره درکړله، نو په دې صورت کښې به تاسو څهٔ کوئ ؟

## کورنی سرګرمي

- سورة الفاتحه دَ ترجمې سره یاده کړئ او خپل کور والو ته ئې واوروئ ـ
- دَ سورة الفاتحه په تعارف کښې دورکړےشوونومونه علاوه دَ سورة الفاتحه نه علاوه څلور نومونه اولیکئ ـ
- دَ قرآنِ حکیم په کوم یو سورة کښې ډیر اسمآءِ حسنٰی په یو ځل راغلي دي دَ دوي نه لس نومونه په ښائسته شکل کښې په

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/ دکورد مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

## دَ هاتهی والو قصه

دَ الله كور خانه كعبه ده، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ كورخانه كعبه دَ عبادت د پاره اول كور جوړ شوے دے ، چې په مكّه مكرَمه كښې دے، دَحضرت آدم عليه السلام دَ زماني نه دا كور دَ عبادت، عزت او احترام مركز دے ـ مسلمانان خانه كعبې طرف ته مخ كوي او مونځ ادا كوي او د دې طواف كوي ـ خانه كعبه دالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ لويو نشاناتو نه يوه عظيمه نشانه ده، دَ نوح عليه السلام په قوم چې كوم طوفان راغلے ؤو، نو دَ هغې وجې نه دَ خانه كعبې تول ډيوالونه غورځيدلي وو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ حضرت ابراهيم عليه السلام ته دَ وحې په ذريعه باندې دَ كعبې دَ بنيادونو نشاندهي اوكړه، نو په دغۀ بنيادونو باندې ابراهيم عليه السلام او دَ هغۀ بچے حضرت اسمٰعيل عليه السلام دَ خانه كعبې ډيوالونه اوچت كړل ـ

## دَ ابرهه د عبادت ځاے

دَ حبشو بادشاه ابرهه الاشرم دَ يمن ګورنر مقرر كړو ـ ابرهه دَ يمن په علاقه "صنعاء"كښې يو ډيره ښائسته او غټ د عبادت ځاے جوړ كړو ـ د دې دَ جوړولو مقصد دا ؤ چې خلق دَ خانه كعبې په ځاے د دې ګرجې (د عبادت ځاے) عبادت لره راځي ـ دا خبره اهل مكه او دعرب نورو قبائلو ته بلكل ناخوښه وه، لهٰذا په دې وجه خلقو كښې يو كس د ابرهه په عبادت ګاه كښې ګندګي وغورځوله ـ ابرهه لره ډيره غصه ورغله،هغه سوچ اوكړو چې ترڅو پورې خانه كعبه موجوده وي، نو خلق دې ګرجې لره عبادت له نۀ راځي ـ

## دَ هاتهي والا فوځ

ابرهه يو لوے فوځ راجمع كړو او يو څو غټ طاقتور هاتهيان ئې دَ ځان سره بوتلل ـ د دې وجې نه دې ته واقعه دَ "اصحاب الفيل" وائي ( دَ هاتهيانو والا په نوم باندې ذكر كړے شوه ) ـ ابرهه خپل لښكر مكّې مكرَّمې طرف ته روان كړو او د دوي اراده (معاذالله) دَ خانه كعبې دَ ورانولو وه ـ مكې ته دَ رسيدلو نه مخكښې ابرهه مكِّې ته پيغام اوليږلو چې زمونږ اراده صرف دَ خانه كعبې دَ ورانولو ده او دَ مكې والا سره جنګ كول نۀ غواړو او كه چرته دوي دَ لارې بندولو كوشش وكړو، نوهغه به دوئ تول به برباد كړي ـ

## دَ مكې والواوښان

كله چې مكې مكرمې ته نزدې راورسيدل، نو دَ ابرهه فوځ دَ مكې والو اوښان او شپونكيان اونيول ـ په دوي كښې دوه سوه (٢٠٠)

اوښان ذَ نبی علیه السلام ذَ نیکۀ عبدالمطلِّب هم وو ـ حضرت دعبدالمطلِّب ذَ قرېشو ذَ ټولو نه لوے سردار هم ؤ ـ هغۀ ذَ ابرهه ذَ ملاقات د پاره دهغوی خواله راغلے ـ ابرهه چې هغه کله اولیدلو، نو ډېر متاثره شو ـ عبدالمطلب ذَ اوچت قد والا، نهایت ښائسته، باوقاره سړیتوب مالك ؤو ـ حضرت عبدالمطلِّب ابرهه ته اوئیل چې تاسو کوم دوه سوه (۲۰۰) اوښان زما نیولي هغه ما ته واپس کړه،ابرهه پۀ دې خبره حېران شو او وې وئېل چې زما خیال راغلےوو چې تۀ به ما ته ذَ خانه کعبې ذَ نۀ ورانولو خبره کوې کله چې تۀ صرف د اوښانو خبره کوې،نوزۀ دې مایوسه کړم ـ حضرت عبدالمطلِّب جواب ورکړو چې اوښان زما دي ذَ دې وجې نه زۀ ذَ اوښانو خبره کوم ـ خانه کعبه ذَ الله کور دے او هغه به ذَ خپل کور حفاظت په خپله باندې کوي ـ بیا ابرهه هغۀ ته خپل اوښان واپس کړل ـ

ذَ ابرهه ذَ میلاوېدلو نه وروسته واپس راغلوحضرت عبدالمطلِّب مکې والو ته ذَ غرونو ذَ ختلو او ښار خالي کولو حکم اوکړو او په خپله یې ذَ خانه کعبې ددروازه کنډه اونیوله او ذَ الله نه یې دعا اوغوښتله ـ "اے الله! ذَ خپل کور حفاظت اوکړه او ابرهه او ذَ هغۀ لښکر نه خپل عزت والا کور بچ کړه" ـ ذَ دۀ ذَ دعا نه وروسته حضرت عبدالمطلِّب ذَ خپلو ملګرو سره یو طرف او بل طرف ته غرونو ته

## ذَ هاتهیانو والو په خانه کعبه باندې حمله

ابرهه ذَ خانه کعبې دورانولو د پاره یو غټ لښکر تیار کړو چې پۀ دې کښې په زرګونو فوځ او څو هاتهیان هم وو ـ هغه هم په خپله په یو غټ طاقت هاتهي سور ؤو او د لښکر سره مکې ته راروان ؤو، چې کله لښکر وادی محسَّر ته ورسېدو، نو ذَ ابرهه هاتهي په زمکه کېناستلو، مخکښې نۀ تلو، لیکن چې کله به ئې ذَ مکې نه علاوه مخ اړولو، نو په تېزی سره به ئې تېښته شروع کوله ـ

## ذَ هاتهیانو والو انجام

پۀ دغۀ دوران کښې ګوري چې په فضا کښې ذَ سمندر ذَ طرف نه ذَ مرغو سېل راغلے او په ټول لښکر باندې راخواره شو ـ دا وړې وړې مرغۍ وې چې ذَ دوي پښو (پنجو) او مښوکو (خولو) کښې کاڼي اوچت کړي وو ـ دې مرغو ذَ الله په حکم باندې دا کاڼړی ذَ ابرهه په لښکر باندې غورځول شروع کړۀ ـ په چا باندې به چې دا کاڼړے لګېدلو، هغه به خوَریدو او غوښه به ئې دوړېدله او آخر به مړ کېدو ـ په پوره لښکر کښې ګډوډي پرېشاني راغله او ټول کافر هلاك شو ـ په خپله

هم دَ ابرهه غل انجام شو، دَ هغهٔ گوتې ورژيدي شوې او صنعاء ته په رسېدلو رسېدلو کښې يې حالت خراب شو بيائي سينه وچاوده اوزړهٔ ئې راوتلوا ومړشوـ دَ باقی خلقو دَ بدن اجزاء هم دغهٔ رنگې اوغورځېدل لکه خوړلي شوي بوس ـ مکّی والو ټول منظر په خپلو سترگو اوليدو او ياد يې کړو ـ د دي واقعې د وجې نه دي کال ته "عام الفيل" (د هاتهيانو والو کال) وئيلے شي ـ په دغه کال ټول کائنات د توحيد په نور منوّر شولو ـ زمونږ خوږ نبي خاتم الانبياء سيّدنا محمدﷺ په مکّه کښې پېدا شو ـ

## ددي قصی نه حاصل شوےسبق

د دي نه مونږ ته دا سبق ميلاو شو، لکه څنگه چې په دي واقعه کښې الله رب العزت دَ خپل کور معجزانه طريقه باندې حفاظت اوکړو ـ هغه به آينده هم دَ خپل کور حفاظت کوي ـ

چې کوم خلق دَ الله دَ کور او دين (معاذالله) دَ ختمولو سازشونه کوي، هغه به په غلطو مقصدونو کښې کامياب نهٔ شی ـ الله به ئې پهٔ دي خراب مقصد کښې کامياب نهٔ کړي ـ دغهٔ رنگې دَ الله د دين دشمنان دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى دَ عذاب نه ويريدل هم دي ـ

آيا تاسو پوهيږئ ؟

وادی محسَّر منٰی ته نزدې دَ يو ځاے نوم دے ـ دَ الله تعالٰی د رسولﷺ په ځينې ځايونو کښې په تېزی باندې دَ تيريدلو معمول ؤو، چې په کوم ځاے باندې به عذاب نازل شوے ؤو ـ دغهٔ رنگې نبی عليه السلام په وادی محسَّر هم تېز تېر يدلو ـ

# دَ سیرت النبیﷺ د آخری۱۰ لسو

سورة الفیل: په دي سورة کښي چي دَ فیل واقعي ذکر دے، دا په هغهٔ کال مخي ته راغله چي په کوم کال دَ نبيﷺ ولادت باسعادت شوے ؤ ـ

سورة قریش: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ دَ خاندان او قبیلي قرېشو ذکر دے ـ

سورة الماعون: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ دَ دشمنانوکردار بیان شوے دے ـ

سورة الکوثر: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ دَ اوچت شان او په نبيﷺ باندي دَ الله د انعاماتو ذکر دے ـ

سورة الکافرون: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ دَ دعوت توحید دَ مشرکانه دین لاتعلّقی او په دین حق باندي دَ ثابت قدمی ذکر دے ـ

سورة النَّصر: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ دَ فتحي او دَ دین حق دَ غلبي بیان دے ـ

سورة اللهب: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ د دشمنانو انجام شودلے شوے دے ـ

سورة الاخلاص: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ دعوت حق یعني توحید دَ باری تعالی طرف ته دَ رابللو ذکر دے ـ

سورة الفلق: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ په ذریعه دَ ننه شرونو نه دَ بچ کېدو د دعاء تلقین یعني دَ الله په پناه او په حفاظت دَ راتګ ذکر دے ـ

سورة الناس: په دي سورة کښي دَ نبيﷺ په ذریعه دَ اندرونی شرونو نه دَ بچ کېدو د دعاء تلقین یعني دَ الله په پناه او په حفاظت دَ راتګ ذکر دے ـ

اَهمي

# سُوْرَتُ الْفِيْلِ

## سُوْرَتُ الْفِيْلِ، ټول آیاتونه: ۵،ټولي رکوع ګاني: ۱

**شانِ نزول او پېژندګلو:** دَ قرآنِ حکیم بعضې سورتونه او بعضې آیاتونه په خاص وجوهاتو او حالاتو کښې نازل شوي دي، دَ دغۀ وجوهاتو او حالاتو بیان کولو ته د دي سورت یا آیت شانِ نزول وائي ـ دا سورت دَ ابرهه په خانه کعبه باندې دَ حملې کولو په باره کښې نازل شو ـ دا واقعه دَ نبي اکرمﷺ دَ پېدائش مبارک نه پنځوس (۵۰) ورځې مخکښې پېښ شوه ـ په سورت الفیل کښې اوښودل شو چې څنګه اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په خپل قدرت سره ابرهه او دَ هغۀ لښکر هلاک کړو او دَ خانه کعبې او دَ قریش مکّه حفاظت یې وکړو ـ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ابرهه او دَ هغۀ په لښکر باندې وړې وړې مرغۍ راولېږلې چې په هغوي یې واړۀ واړۀ کاڼي راوغورځول او پوره لښکر یې تباه کړو ـ

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ....بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے ـ |
| اَلَمْ تَرَ کَیْفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِاَصْحٰبِ الْفِیْلِ ؕ۰۰۱ |
| اے نبيﷺ! أیا تا و نۀ لېدل چې ستا رب د هاتیانو والو سره څۀ سلوک وکړۀ ـ |
| اَلَمْ یَجْعَلْ کَیْدَهُمْ فِیْ تَضْلِیْلٍ ۙ۰۰۲ |
| أیا د هغوي چل (مکر) یې بےکاره او تاوان کښې نۀ وګرځولۍ؟ |
| وَّاَرْسَلَ عَلَیْهِمْ طَیْرًا اَبَابِیْلَ ۙ۰۰۳ |
| او په دوي باندې یې ډلې ډلې مرغان راخوشې کړل ـ |
| تَرْمِیْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّیْلٍ ۙ۰۰۴ |
| چې دغو (مرغانو) به دوي لره په داسې کاڼو ویشتل چې له ختو نه جوړ، په اور پخ شوي وو ـ |
| فَجَعَلَهُمْ کَعَصْفٍ مَّاْکُوْلٍ ۰۰۵ |
| نو دغه (خلق) یې دَ خوړلي شوو بُسو په شان وګرځول ـ |

**فرمانِ نبویﷺ:** "زما دَ امّت نه به اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان بې حسابه جنت ته داخلېږي، دَ هغوي په صفتونو کښې یودا هم ده چې هغوی به اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی باندې توکّل کوله والا وی ـ (صحیح بخاری)

## دَ علم او عمل خبرې

۱ـ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ ټولو نه زیات طاقت والا دے ـ هغه دَ خپل کور او دین حفاظت په خپله کولو والا دے ـ (سُوْرَتُ الْفِیْلِ، آیت:۱)

۲ـ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ دین خلاف سازشونو والا لره الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ عذاب نه وېره پکار ده ـ (سُوْرَتُ الْفِیْلِ، آیت:۲)

۳ ـ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ دین دشمنان نۀ کامیابېږي ـ (سُوْرَتُ الْفِیْلِ، آیات:۲،۵)

۴ـ دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ طاقت سره مقابله کولو والا په ظاهره په کمزوري مخلوق سره تباه شوي او دَ هغوي غرور دَ خاورو سره مېلاو شوے دے ـ (سُوْرَتُ الْفِیْلِ، آیات:۳،۴)

۵ ـ مونږ لره دَ دین دَ دشمنانو دَ طاقت نه مرعوب کېدل نۀ دي پکار ـ مونږ لره غ... باندي پکار ده، ځکه هغه حقیقتًا ... الا دے ـ (سُوْرَتُ الْفِیْلِ، آیت:۸)

ځان پوهه کړئ او

۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) دَ صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:

**کالم (الف)**

- ❖ دَ اصحاب الفیل نه مراد
- ❖ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په اصحاب الفیل باندي
- ❖ مرغو په اصحاب الفیل باندي
- ❖ دَ کانړو په باران

**کالم (ب)**

- ❖ دَ نبیﷺ دَ پېدائش کال
- ❖ اصحاب الفیل دَ خوړلو شوو بوسو پشان شو
- ❖ دَ هاتیانو والا دي
- ❖ دَ مرغو سیلونه سیلونه راغلۀ

٢ ــ دَ لاندي ليکلے شوو الفاظو په مدد سره خالي ځايونه ډک ڪړئ.

حضرت آدم عليه السلام، يمن، عبادت خانه ، قريش، نبی کريمﷺ، ابرهه،

نه__________ورځې مخکښې پېښه شوه ــ

(٢) په خانه کعبه باندې__________حمله وکړه چې__________ګورنر ؤ ــ

(٣) عيسائي ګورنر ابرهه__________کښې يو ډېر شائسته __________ جوړ کړلو ــ

(٤) خانه کعبه__________ زمانې نه __________ او دَ عزت او احترام ؤ ــ

(٥) عبدالطلِّب__________دَ ټولو نه غټ __________ؤ ــ

**عملي خبره :** دَ اللهسُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی لښکري دَ اللهسُبۡحَانَهُ وَتَعَالٰی نه سېوا څوک نۀ پېژني چې هغه دَ هغوي نه څه کار اخلي، اګرچې دغه لښکرې په ظاهري طور باندې کمزورې په نظر راځي ــ مونږ لره پکار دي چې په هرحال کښې دَ خپل خالق او مالک مخې ته په عاجزۍ او تابعدارۍ سره شکته شو ــ

٣ ــ په لاندي ليکلي شوي جملو باندې صحيح (✓) يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| شمار | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ١ | په ګرجاګهر (د عبادت ځاے) باندې مکې والا او نور عرب ډېر زيات خوشحاله وو ــ | | |
| ٢ | دَ عربو نه يو کس دَ ابرهه په ګرجاګهر (د عبادت ځاے)کښې ګندګي وکړه ــ | | |
| ٣ | حضرت دَ عبدالطلِّب په ملاقات باندې چې ابرهه ا د وليدلو نو ډېر غصه شو ــ | | |
| ۴ | ابرهه يو غټ فوځ جمع کړلو چې په هغۀ کښې هاتهيانې هم وو ــ | | |
| ۵ | دَ ابرهه لښکر چې وادي محسَّر ته ورسېدلو، نو مخې ته نۀ تللو ــ | | |

۴ ـ دَ سورت الفيل متعلق لاندي ليکلے شوي الفاظ په شکته خانو ډک کړئ.

دَ بازانو سيل، دَ وادي محسَّر نه مخکښې نۀ تلل، دَ هاتهيانو والا هلاکت، دَ اوښانو لښکر، دَ يمن ګورنر ابرهه، دَ ګرجاګهر (د عبادت ځاے) تعمير، زلزله او باران، دَ حضرت عبدالمطلِّب دعاء، په وادي طوىٰ کښې قيام، دَ خانه کعبې دَ ورانولو اراده، دَ وړو وړو مرغو راتلل، په کاڼو ويشتل



معلوم کړئ: دَ هاتهي والو اصل چال، دَ ابرهه مقصدونه او دَ ابابيل وضاحت دَ خپل استاذانو کرامو نه معلوم کړئ ـ

۵ ـ دَ لاندې ليکلے شؤو سوالونو جوابونه ورکړئ ـ

١ـ دَ هاتهيانو والا مکې مکرمې ته ولې راغلي ؤو؟

٢ ـ دَ هاتهي دَ پاڅولو په کوشش څۀ واقعه پېښه شوه؟

٣ ـ دَ هاتهيانو والا دَ قيصې نه مونږ ته څۀ سبق ميلاؤ شو يوه خبره وليکئ؟

۴ ـ عبدالمطلِّب دَ خانه کعبې کنډه ونيوله او کومه دعاء يې وکړه؟

سوچ وکړئ!!! ټول جماتونه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى کورونه دي ـ که چرته تاسو داسي خبره وينئ چې دَ مسجد دَ آدابو نه خلاف وي، نو په داسي صورت کښې به تاسو څه کوئ ـ

## کورنۍ مشغولتیا

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ ـ
- دَ خانه کعبې مخکني او نوي تصویران جمع کړئ په چارټ یې ولګوئ ـ
- دَ خپل کور والو په مدد سره دَ خانه کعبې دَ مختلفو حصو دَ

- ☐ غلافِ کعبه
- ☐ دَ کعبې دروازه
- ☐ ملتزم
- ☐ رکنِ شامی
- ☐ دَ اوبو (زمزم) ځاے
- ☐ حجرِاسود
- ☐ حطیم
- ☐ رکنِ حجرِاسود
- ☐ مقام ابراهیم علیه السلام
- ☐ رکنِ عراقی
- ☐ رکنِ یمانی
- ☐ دَ ګټو نه جوړ شوی دَ کعبې بنیادونه




د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

# سُوْرَةُ قُرَيْش

سُوْرَةُ قُرَيْش: ۱۰۶، ټول اياتونه: ۴، ټولي رکوع ګاني: ۱

شان نزول او پېژندګلو: دا سورت دَ مکي قريش او په دوي باندي دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ احساناتو په باره کښي نازل شوے ـ قريش دَ محمّدرسول الله خاتم النبيّينﷺ دَ قبيلي نوم دے ـ دَ قراش خلق دَ اسماعيل عليه السلام اولاد دے ـ دَ دا تعلق او دَ بيټ الله انتظامات سنبالولو په وجه دوي ته په ټول عرب کښي عزت او امن حاصل ؤ ـ دَ دوي تجارتي قافلي به دَ لوټ مار نه محفوظ وي ـ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ يوې غټي علاقي تجارتي هلي زلي دَ دوي په لاس کښي ايښي وي ـ دوي به دَ يخني په موسم کښي يمن طرف ته تلل چي دا يوه ګرمه علاقه ده او دَ ګرمي په موسم کښي به شام ته تلل چي دا يوه يخه علاقه ده ـ په دي عظيم نعمتونو باندي اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ دوي نه دَ شکرکولو، دَ شرک نه بچ کېدل او دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ عبادت کولو حکم کړے دے ـ

> فرمان نبويﷺ: الله تعالٰي په ټول اولاد اسماعيل عليه السلام کښي کنانه او په کنانه کښي ئې قريش او په قريشو کښي ئې بني هاشم او په بني هاشم کښي ئې زۀ منتخب کړم (صحيح مسلم)

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښي راځم د شېطان رټلي شوي نه ـــــــــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چي لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ـ |
| لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۙ۰۰۱ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۚ۰۰۲ |
| دَ قريشو له يو بل سره د الفت له وجي نه د ژمي او اوړي په سفر کښي د دوي د الفت په وجه |
| فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۙ۰۰۳ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ا |
| نو لازم دي چي دوي د دي كور دَ رب عبادت وکړي هغه (رب) چي دوی ته يې له لوږي نه (د بچ کولو لپاره) طعام ورکړے دے |
| وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۴۰۰ |
| او دوي ته يې له وېرې نه (د ساتلو لپاره) امن (او بې خوفي) ورکړي ده ـ |

آيا تاسو ته پوهېږئ؟

دَ عربو په قبائلو کښي قريش دَ ټولو نه زيات معزّز قبيله وه چي دَ هغې مشر سردارعبدالمطلّب ؤ ـ دَ قريش يو شاخ بنی هاشم ؤ ـ دا خاندان ډير محترم ګنړلے شو ـ دَ عبد المطلّب زوے عبدالله په کور کښي اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى آخری رسول سيدنا محمّدمصطفىٰ احمد مجتبىٰﷺ پېدا شو ـ

دَ نبی ﷺ خاندان ته دَ بيت الله انتظام او دَ حاجيانو دَ خدمت اعزاز هم حاصلوو ـ

## اَهمي نکتي

**عملي خبره:** زمونږ سره چې څهٔ دي دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى فضل دے، د دي وجې نه مونږ همېشه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى احسانات ياد کړو او د دي شکر ادا کول پکار دي ـ

## دَ علم او

۱ ــ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپل بندګان دَ روزی ګټلو سره دَ اشنا کولو الفت ورکوي ــ (سورت قریش، آیت:۱)
۲ ــ دَ ګرمی او یخنی تجارتي سفر هم دَ الله فضل دے ــ (سورت قریش، آیت:۲)
۳ ــ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په نعمتونو شکر ادا کول هم عبادت دے ــ (سورت قریش، آیت:۳)
۴ ــ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی زمونږ رب دے او هغه دَ عبادت لائق دے ــ (سورت

## پوهه شي او حل یې

۱ ــ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملي سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| دَ قریش خلق | بنوهاشم وو |
| دَ نبی کریمﷺ تعلق ؤ ــ | دَ تجارتي سفر سره الفت ؤ ــ |
| **قریش دَ ګرمی او یخنی په موسم** کښې ــ | **په مکّه مکرَّمه کښې آباد وو ــ** |
| دَ قریش قبیلې یو شاخ | دَ تجارت د پاره به یې سفر کولو ــ |
| | د قریش قبیلې نه ؤ |

۲ ــ خالي ځایونه ډک کړئ ــ

۱ــ دَ قریش خلقو ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ انتظامات سنبالولو په وجه دوي ته په ټول عرب کښې عزت او امن حاصل ؤ ــ
۲ــ دَ قریش خلق ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ اولاد دے ــ
۳ــ دَ قریش قافلې به ــ ــ ــ ــ ــ ــ نه محفوظ وې ــ
۴ ــ دَ قریش خلق به دَ ګرمی په موسم کښې ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ تلل ــ

معلوم کړئ: د قریشو د سفر سره محبت، د خوراک خښکاک کول او د امن ورکولو خصوصي ذکر وضاحت د خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ــ

## ۳ ـ دَ لاندي ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ په قريشو باندي دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دوه انعامات وليکئ ـ

۲ ـ دَ عربو خلقو به دَ قريښ قبيلي ولې عزت کولو؟

۳ ـ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی قريشو ته څه حکم کړے ؤ؟

سوچ وکړئ!!! که چرته ستا دَ کلاس ملګرے يوه ورځ تا ته دَ خوراک څښکاک څۀ را نۀ وړي، نو په دي صورت کښي به تۀ څۀ کوې؟

## کورنۍ سرګرمي

- دا سورت دَ ترجمې سره یاد کړئ او خپل کور والو ته يې واوروئ ـ
- دَ قریشو دَ قبیلې دَ پنځهٔ خاندانونو نومونه دَ یو عالم نه وتپوسئ او وي لیکئ ـ
- مونږ لره دَ سفر په دوران کښې دَ کومو خبرو خیال

| | |
|---|---|
| دعاکول | تکلیف ورکونکے څیز غورځول |
| دَ لارې په مېنځ | دَ الله ذکرکول |
| خلق تنګول | دَ لارې کناره |
| دَ خلقومددکول | کچره غورځول |
| شورکول | په ماشومانو شفقت |

لاس ... د
لید ...

# سُوْرَةُ الْمَاعُوْن

سُوْرَةُ الْمَاعُوْن، ټول آياتونه: ۷، ټولې رکوع ګانې: ۱

شانِ نزول او پېژندګلو: دَ دې سورت په آخر کښې دَ انکار کولو والو غلـ انجام بيان شوے دے ــ دَ آخرت دَ انکار دَ وجې نه دَ انسان په کردار کښې ډيرې زياتې خرابۍ پېدا کيږي ــ داسې خلق په يتيمانانو ظلم کوي او دَ غريبانانو په خپله هم مدد نۀ کوي او نورو له هم ترغيب نۀ ورکوي ــ داسې خلق دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت نه غافله وي ــ که چرته څۀ نېکي هم کوي، نو دَ خلقو دَ ښودلو د پاره يې کوي ــ دا خلق دومره خودغرض وي چې دَ عام استعمال معمولي څيزونه دَ خلقو په غوښتلو هم نۀ ورکوي ــ

فرمانِ نبوىﷺ: "هغه کس مؤمن نۀ شي کېدے چې په خپله په مړه خېټه خوراک کوي ليکن د دې سره نزدې ګاونډې وږے وي ــ (بيهقی)

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ....بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ــ |
| اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِ ﴿۱﴾ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَ ﴿۲﴾ |
| آيا تا هغه کس ليدلے چې د بدلې ورځ (قيامت) دروغ ګڼي ــ نو همدغه هغه کس دے چې يتيم ته ديکې ورکوي |
| وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿۳﴾ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ﴿۴﴾ |
| او مسکين ته په طعام ورکولو ترغيب نۀ ورکوي ــ نو هلاکت دې لمونځ کوونکو لره ــ |
| الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴿۵﴾ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ﴿۶﴾ |
| هغه کسان چې دوی له خپلو لمونځونو نه غافله (او اعراض کوونکي) وي ــ هغه کسان چې دوی رياکاري کوي |
| وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ﴿۷﴾ |
| او دوي ماعون (د استعمال عام څيزونه هم له يو بل نه) منع کوي |

## آيا تاسو پوهېږئ؟

دَ "وَيْلٌ" معنیٰ تباهی، بربادی او هلاکت دے ــ ويل په جهنم کښې يو هېبتناک او دَ ژورې کندې نوم هم دے، چې په دې کښې به قسم قسم عذابونه وي چې دَ دې نه جهنم په خپله هم پناه غواړي ــ

## اَهمي نكتي

## دَ علم او

١ـ په آخرت باندې چې څومره ايمان کمزورے وي هغومره انسان دَ نيکو نه جدا وي ـ (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آيات:١تا۴)
٢ـ مونږ له چې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کوم نعمتونه راکړي دي په دې کښې نور هم شريک کړو ـ (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آيات:٢،٣،٧)
٣ ـ مونږ دَ غريبانانو او کمزورو سره همدردي او دَ هغوي سره مدد وکړو ـ (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آيات٢،٣)
۴ ـ مونږه دَ مونځ په حواله سره دَ غفلت نه بچ شو او ټول مونځونه دَ آدابو سره په خپل وخت باندې ادا کړو ـ (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آيات:۴،۵)
۵ ـ په رياکارۍ سره نيکي ضائع کيږي ـ (سُوْرَةُ الْمَاعُون، آيات:۶)

عملی خبره: مونږ لره دَ وخت پابندي او په پوره آدابو سره دَ ټولو مونځونو اهتمام پکار دے ـ په آدابو کښې دَ طهارت خيال ساتل، په ښۀ طريقه اودس کول او په اطمينان او سکون سره مونځ دَ ارکانو سره ادا کول هم شامل دي ـ

## پوهه شئ او حل ئې کړئ:

### ١ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

١ ـ دَ آخرت دَ انکار دَ وجې نه دَ انسان په ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ کښې ډيرې زياتې خرابۍ پيدا کيږي ـ
٢ ـ په آخرت باندې ايمان انسان په ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ باندې تېزوي ـ
٣ ـ دَ مونځونو نه غافله انسانانو د پاره ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ دے ـ
۴ ـ ـ مونږ له چې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی کوم ـ ـ ـ ـ ـ ـ راکړي دي په دې کښې نور هم شريک کړو ـ
۵ ـ په رياکارۍ سره نيکي ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ کيږي ـ

### ٢ـ دَ لاندې ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

١ ـ په دې سورت کښې د کومو خلقو عذ□ انجام بيان شوے دے؟

________________________________________

____________________

________________________________________

____________________

۲ ــ دَ آخرت نه انکار کولو والا دَ یتیم او مسکین سره څه رویّه کوي؟

۳ ــ دَ کومو مونځونو د پاره دَ هلاکت غل خبر اورول شوے دے؟

۴ ــ دَ آخرت نه انکار کولو والا په کومه اراده نېکي کوي؟

۵ ــ په آخرت باندې دَ یقین نهٔ کولو دَ وجې نه دَ انسان په کردار باندې څه اثر پرېوځي، درې۳ خبرې ولیکئ؟

معلوم کړئ: یتیم له دِېکې ورکول، په مسکین خوراک نهٔ کول، په مونځونو کښې غفلت کولو والا وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ــ

۳ ــ دَ سورت الماعون متعلق لاندې لیکلے شوي الفاظ په لاندې ...

دَ آخرت نه انکار، دَ یتیمانانو سره محبَّت، ریاکاري، په مسکین باندې خوراک کول، معمولي څیزونه نهٔ ورکول، گنده صفات، خودغرضي، دَ عبادت نه غافل، په یتیمانانو باندې ظلم، دَ جمعي سره مونځ کول، په کردار کښې خرابي ــ




سوچ وکړی !!! که چرته ... ملګرے په جلتی جلتی مونځ کولو باندي ولیدلو، نو بۀ دی صورت کښي به تاسو څۀ کوئ؟

## کورنی سرګرمي

- ❖ دا سورت دَ ترجمي سره یاد کړئ او خپل کور والو ته ئي واوروئ ـ
- ❖ **دَ ام استعمال والا دَ لس څیزونو نومونه ولیکئ چي مونږ یي یو بل ته غوښتلو کښي استعمالوو ـ**
- ❖ د خپل کور والا په مدد سره دَ خپلي محلِّي په مسجد کښي دَ کیدلو

| | |
|---|---|
| سحر | |
| ماسپخین | |
| مازدیګر | |
| ماښام | |
| ماسخوتن | |
| جمعه | |

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

# سُوْرَۃُ الْکَوْثَرِ

## سُوْرَۃُ الْکَوْثَرِ ، ټول آیاتونه: ټولې رکوع ګاني: ۱

**شانِ نزول او پېژندګلو:** دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آخري رسول نبی کریمﷺ په بچو قاسم او عبدالله رضی الله عنهما په وفات باندې کافرانو خوشحالي مناوو کړه او په نبیﷺ باندې دَ میراتي او بې نامه بې نشانه پېغور ورکړو ـ (معاذالله) په دې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دا سورت نازل کړو ـ په دې سورت کښې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په خپل خوږ حبیب رسولِ اکرم ﷺ خاص فضل او انعامات بیان کړي دي ـ نبیﷺته یې کوثر "حوضِ کوثر" او "خیرِ کثیر" یعنې دَ نعمتونو زیاتوالے، بې شماره فضائل او برکاتو ورکولو ذکر کړے دے ـ په دې سورت کښې دَ نبی کریمﷺ دَ دشمنانو دَ بې نام او بې نشانه کېدلو خبر ورکړے دے ـ په دې عظیم نعمتونو باندې نبیﷺته د الله شکر ادا کولو د پاره دَ مونځ کول او دَ قربانۍ کولو تلقین کړے دے ـ دا دَ قرآنِ حکیم دَ ټولو نه وړوکے سورت دے، لکه چې سُوْرَۃ بقره دَ ټولو نه غټ سورت دے ـ

**فرمانِ نبویﷺ:** "اوښایئ که چرته په تاسو کښې دَ چا په دروازه باندې جاري نهر وي چې په دې کښې هره ورځ پنځهٔ وخته غسل کوي (لامبي) نو آیا دَ دې په بدن به څهٔ خیرې باقي پاتې شي؟ صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړو چې هیڅ (خیرې) به باقي پاتې نهٔ شي، نبیﷺ اوفرمائل بلکل دغه مثال (دَ پنځهٔ) مونځونو هم دے، اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د دې په ذریعه سره ګناهونه وینځي او ختموي ـ (صحيح بخاري و صحيح مسلم، [illegible] البلاغه)

| |
|---|
| [illegible] |
| [illegible]<br>دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے ـ |
| اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰکَ الۡکَوۡثَرَ ۝۱ فَصَلِّ لِرَبِّکَ وَانۡحَرۡ ۝۲ |
| بېشکه مونږ تا ته کوثر درکړے دے ـ نو تهٔ دَ خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه ـ |
| اِنَّ شَانِئَکَ ہُوَ الۡاَبۡتَرُ ۝۳ |
| بېشکه ستا دشمن هم هغه بې بنیاده (او لاولده) دے ـ |

## آیا تاسو پوهېږئ؟

"کوثر د جنت د یو نهر نوم دے چې دَ دي دواړه کناري (غاړي) دَ سرو زرو دي چې دَ دي اوبهٔ دَ ملغلرو او دَ یاقوتو په نالو کښې بهېږي، دَ دي اوبهٔ دَ شهد (ګبین) نه زیاتې خوږي دي ــ دَ پیو (شودو) نه زیاتې سپینې او دَ واورې (برف) نه زیاتې یخې دي او دَ مشکو نه زیاتې خوشبوداره دي ــ (مسند احمد)

### دَ علم او عمل خبرې

١ ــ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ټولو نه زیات انعامات په نبیﷺ باندې کړي دي ــ (سُوْرَتُ الْکَوْثَرِ، آیت:١)

٢ ــ دَ نبیﷺ دَ خصوصې فضائلو نه یو داده چې نبیﷺ ته حوضِ کوثر ورکړے شوے دے ــ (سُوْرَتُ الْکَوْثَرِ، آیت:١)

٣ ــ مونږ له دَ الله په نعمتونو شکر ادا کول پکار دي ــ (سُوْرَتُ الْکَوْثَرِ، آیت: ٢)

٤ ــ مونځ او قرباني دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ شکر ګزارئ ذریعه ده ــ (سُوْرَتُ الْکَوْثَرِ، آیت:٢)

٥ ــ دَ رسول اللهﷺ دشمن او ګستاخ په دنیا او آخرت دواړو کښې بې نامه او بې نشانه دے ــ (سُوْرَتُ الْکَوْثَرِ، آیت:٣)

ــ ــ باندې کړي دي ــ

٢ ــ دَ کوثر نه مراد دَ جنت نهر هم دے او ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ هم دے

٣ ــ مونځ او قرباني دَ الله ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ذریعه ده ــ

٤ ــ مونږ له دَ الله په ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ شکر ادا کول پکار دي ــ

٥ ــ دَ قرآنِ حکیم د ټولو نه غټ سورت ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ دے ــ

**معلوم کړئ:** کوثر، د قربانۍ حقیقت او د مونځ اهمیت د خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ــ

٢ــ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| ❖ دَ نبی کریمﷺ دَ ځامنو په انتقال باندې<br>❖ کفارو نبیﷺ ته<br>❖ په سوت الکوثر کښې په نبیﷺ باندې<br>❖ په سورت الکوثر کښې | ❖ نبی کریمﷺ ته دَ مونځ او قرباني حکم کړے شوے ؤ ــ<br>❖ د ټولو نه وړوکے سورت دے ــ<br>❖ کافرانو خوشحالي مناوهله (معاذالله) |

**عملي خبره:** دَ نبی کریم ﷺ دَ دور ګستاخ داسي ذلیل خوار او تباه بردباد شو چي دَ هغهٔ نام او نشان بلکل ختم شو ـ دا خبره واضحه ده چي دَ هر دور دَ ګستاخ داسي معامله وي چا چي هم دَ نبی کریم ﷺ ګستاخي یا دَ نبی کریم ﷺ مخالفت کړے دے دَ

**۳ ـ دَ لاندي لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:**

۱ ـ په حدیث شریف کښي دَ موټخ په باره کښي څه وئیلے شوي دي؟

---

۲ ـ دَ خیرِ کثیر نهٔ څه مراد دے؟

---

۳ ـ په سورت الکوثر کښي دَ نبی کریم ﷺ دَ دشمنانو په باره کښي څهٔ خبر ورکړے شوے دے؟

---

**سوچ وکړئ!!!** چي کله ستا دوست تا دَ قربانی په باره کښي تنګ کړي، نو په دي صورت کښي به تهٔ څهٔ کوې؟

## کورنی سرګرمي

- دا سورت دَ ترجمي سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یې واوروئ ـ
- دَ سیرت النبیﷺ دَ کتاب نه دَ نبی کریم ﷺ یو پنځهٔ معجزات تالاش کړئ او وې لیکئ ـ
- دَ یو عالم نه دَ الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ راکړے شوو نعمتونو

---

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

# سُوْرَةُ الْكَافِرُوْنِ

سُوْرَةُ الْكَافِرُوْنِ ۱۰۹،ټول آیاتونه:۶،ټولي رکوع ګاني:۱

شان نزول او پېژندګلو: دَ مکي کافرانو چي کله نبی کریمﷺ ته دَ زباني او جسماني تشدّد باوجود دَ توحید دَ دعوت نه منع نۀ شو، نو دوي دَ سود بازی پېشکش وکړو چي یو کال به مونږ ستا دَ معبود یعني دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی عبادت کوو او یو کال به تۀ زمونږ دَ بتانو عبادت کوي (معاذالله) ـ د دي خبرې **په جواب کښي دا سورت نازل شو ـ په دې سورت کښي** دَ نبی کریمﷺ په ذریعه کافرانو ته توحید (دَ یو اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ عبادت) دعوت ورکړے شوے دے ـ دغۀ رنګي دَ بت پرستی او دَ شرک صفا انکار شوے دے ـ نبی کریمﷺ چي دا سورت کله کافرانو ته واورولو، نو هغوي د دې خبرې نه مایوسه شو چي نبی کریمﷺ هیڅ کله دا خبره نۀ مني ـ

آیا تاسو پوهېږئ ؟

چي دَ نبی کریمﷺ دَسحر په سنتو، دَ ماښام او دَ طواف نه بعد په دوه رکعتو کښي په اول رکعت کښي او دَ وترو په دویم رکعت کښي او دَ شپې دَ اودۀ کېدلو نه مخکښي دَ سورت الکافرون دَ تلاوت معمول ۋ ـ

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ....بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښي راځم د شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چي لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے ـ |
| قُلْ يٰۤاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَۙ۰۰۱ لَاۤ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَۙ۰۰۲ |
| اے نبي! تۀ (دوی ته) اووایه: اے کافرانو! زۀ د هغو (شیانو) عبادت نۀ کوم چي تاسو یي عبادت کوئ ـ |
| وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُۚ۰۰۳ وَلَاۤ اَنَا عَابِدٌ مَّا |
| **او نۀ تاسو د هغۀ ذات عبادت کونکي ئې وئ چي زۀ یې عبادت کوم ـ او نۀ زۀ د هغۀ شي عبادت کونکے یم** |
| عَبَدْتُّمْۙ۰۰۴ وَلَاۤ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَاۤ اَعْبُدُؕ۰۰۵ |
| چي تاسو یي عبادت کړے دے ـ او نۀ تاسو عبادت کونکي ئې وئ د هغۀ ذات چي زۀ یي عبادت کوم ـ |
| لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ۠۰۰۶ |
| تاسو لپاره ستاسو دین دے او زما لپاره زما دین دے ـ |

## فرمانِ نبویﷺ "

چې په کوم انسان کښې دا درې خبرې وي دا به دَ دې په وجه دَ ايمان لذّت بيامومي ـ

- دا چې دې ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی او دَ هغهٔ دَ رسولﷺ محبت دَ دنيا دَ ټولو څيزونو نه زيات وي ـ
- دا چې دَ يو بنده سره د دې محبت صرف دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ( د رضا ) د پاره وي ـ
- دا چې دا الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ کفر نه ويستلے او ايمان ئې ورته نصيب کړے و[illegible] اسلام نه دوباره تلل [illegible]

## اَهمي نکتي

**عملي خبره:** موږ لره دَ هر داسي عمل نه بچ کېدل پکار دي چې دَ کوم نه اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی او دَ هغهٔ رسول ﷺ منعه کړې ده ـ د دې سره موږ له کوشش کول پکار دے چې دَ دين په تعليماتو او احکاماتو کښې باطل او ناحق خبرې بلکل شامل نهٔ کوو ـ

## دَ علم او عمل خبرې

١ـ موږ لره دَ دين دعوت بلکل واضح طور باندې پېش کول پکار دي ـ (سُوْرَتْ الْکَافِرُوْنِ، آيت:١)

٢ ـ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت انکار کول کفر دے ـ (سُوْرَتْ الْکَافِرُوْنِ، آيات:٢،۴)

٣ ـ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په عبادت کښې هيڅ چالره شريک کول نهٔ دي پکار ـ (سُوْرَتْ الْکَافِرُوْنِ، آيت:۶)

۴ـ دَ لغت په اعتبار باندې دَ دين معنٰي او مفهوم دے "قانون او طريقه" او په اصطلاحی اعتبار باندې دَ دين مفهوم دادے چې د اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ مخلوق د پاره ورکړے شوے قانون او دَ زندګی طريقه

(١) موږ لره دَ ____________ دعوت بلکل واضح طور باندې پېش کول پکار دي ـ

(٢)کافرانو نبي کريم ﷺ لره ____________________ دَ دعوت نهٔ نه منعه کولو ـ

(٣) دَ دين لغوي معنٰي ده ____________________

(۴)دَ دين په معامله کښې دَ حق او باطل ________________________ ممکن نهٔ ده ـ

(۵) نبی کريم ﷺ دَ وترو مونځ په دويم رکعت کښې ____________ تلاوت کولو ـ

۲ــ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:

کالم (الف)

کالم (ب)

- ستا د پاره ستا دين او ــ
- دَ الله سره بل څوک د عبادت کولو ــ
- کفَّارِ
- په سورت الکافرون کښې
- مونږ په هيڅ قيمت

- د بتانو عبادت کولو ــ
- شرک نۀ قبلول پکار دي ــ
- دَ بت پرستی او شرک نه صفا انکار
- شرک وايي ــ
- زما د پاره زما دين ــ

**معلوم کړئ:**

کافر چا ته وايي؟

کافرانو ته نبیﷺ څۀ وئيلي وو چې" او نۀ تاسو عبادت کوئ د کوم (الله) چې زۀ عبادت کوم" ــ او "ستاسو د پاره ستاسو دين دے او زما د پاره زما دين دے" د دي نه څۀ مراد دي؟

د دې سوالونو وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ــ

سوچ وکړئ!!! تاسو خپل ټول کار په ښۀ طريقه کوئ، ټول خلق ستا نه خوشحاله هم دے ليکن ستا يو د کلاس ملګري کله نۀ په خپل ښۀ کار باندې پريښے يي او دَ يو غلط کار باره کښې اووايي چې په هغه سره خلق ناراضه کيږي، نو په دې

۳ ـ دَ لاندي ليکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ په دي سورت کښي چي کوم آيت تکرار شي د دي ترجمه وليکئ ـ

۲ ـ په دي سورت کښي دَ قريشو سردارانو دَ الله دَ رسولﷺ نه څۀ مطالبه وکړله؟

۳ ـ په دي سورت کښي نبی کريمﷺ دَ چا دَ عبادت نۀ انکار کولو؟

کورنی سرګرمي

- دا سورت دَ ترجمي سره ياد کړئ خپل کور والو ته يي واوروئ ـ
- دَ يو عالم نه معلومات وکړئ غيړ مسلمو ته دَ دين دَ دعوت ورکولو دوه طريقي وليکئ ـ

عبـــاد
ي

استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

## سُوْرَةُ النَّصْرِ

سُوْرَةُ النَّصر۱۱۰،ټول آیاتونه:۳،ټولي رکوع ګاني:۱

شانِ نزول او پېژندګلو: دا سورت دَ نبی کریمﷺ دَ حیاتِ مبارکه په آخري دور کښې نازل شوے دے ـ په دې کښې ښودلے شوي دي چې دَ

ایمان والو دَ فتح مکَّه سره سره نو فتوحات هم حاصل کړي وو ــ دَ الله دین غالب شولو ــ خلق په غټ تعداد کښې دَ الله په دین کښې داخل شولو ــ په دې سورت کښې دَ نبی کریمﷺ مشن یعنې دَ دینِ اسلام غالب کېدلو ذکر دے ــ په آخر کښې نبی کریمﷺ ته دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ تسبیح او دَ حمد وثنا کولو او اِستغفار وئیلو تلقین شوے دے ــ امّ المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائي "چې نبی کریمﷺ به په خپل رکوع او سجدو کښې دا دعاء وئیله ــ سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي" اے زمونږه ربه ستا ذات پاک دے او ستا دَ حمد سره مونږ هم تسبیح بیانوو، اے اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی تهٔ مونږه اوبخښه ــ (صحیح بخاری، صحیح مسلم)

فرمان نبويﷺ: هر تسبیح (سبحان الله) وئېل صدقه ده، هر تکبیر (الله اکبر) وئېل صدقه ده، هر تحمیده (الحمدلله) وئېل صدقه ده، هر تهلیل (لا اله الا الله) وئېل صدقه ده ــ (صحیح بخاری، صحیح مسلم)

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ....بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ |
| زهٔ د الله په پناه راځم کښې د شېطان رټلي شوي نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے ــ |
| اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰہِ وَ الْفَتْحُ ۙ۰۰۱ وَرَاَیْتَ النَّاسَ یَدْخُلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللّٰہِ اَفْوَاجًا ۙ۰۰۲ |
| کله چې د الله مدد راشي او فتح ــ او تهٔ خلق وینې چې د الله په دین کښې ډلې ډلې داخلېږي ــ |
| فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّکَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ کَانَ تَوَّابًا ۰۰۳ |
| **نو تهٔ پاکي بیانوه د خپل رب له ستاینې سره او له دهٔ نه مغفرت غواړه، بېشکه دے تل ښهٔ توبه قبلونکے دے ــ** |

آیا تاسو پوهیږئ

دَ فتح مکَّه واقعه په رمضان المبارک سن ۸ هجری (بمطابق جنوری ۶۳۰ء) کښې وه ــ کله چې نبیﷺ دَ لس زره صحابه کرامو رضی الله عنهم لښکر مکې مکرمې ته ورسولو ــ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مسلمانانو له بغیر دَ غټ جنګ نه عظیمه فتحه ورکړه ــ

## اَهمي نكتي

## دَ علم او عمل خبرې

١ ـ څرنګه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ خپل خوږ نبی خاتم النبيين احمد مجتبٰیﷺ مدد کړے ؤ دغه رنګې چې په نبیﷺ باندې چا ايمان راوړے دے دَ هغوي هم مدد کوي ـ ( سُوْرَةُ النَّصْر، آيت:١)
٢ ـ الله دَ دين دَ محنت کولو والو ته په دنيا کښې هم فتح ورکوي ـ (سُوْرَةُ النَّصْر، آيت: ٢)
٣ ـ دَ دين غلبه دَ خلقو د پاره دَ دين دَ قبلولو ذريعه ده ـ (سُوْرَةُ النَّصْر، آيت: ٢)

عملي خبره: چې کله الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان په خپل مقصد کښې کامياب کړي، نو دې لره پکار دي چې دَ کاميابۍ دَ ختلو په ځاے دا د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی فضل وګڼي ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شکر هم ادا کړي او دَ خپلو ګناهونو دَ بخښلې سوال دې هم وکړي ـ

١ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| ❖ په سُوْرَةُ النَّصْر کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی مدد | ❖ دِ لس زره صحابه کرام رضی الله عنهم لښکر مکې مکرمې ته ورسيدلو |
| ❖ په سُوْرَةُ النَّصْر کښې دَ نورو فتوحاتو سره | ❖ د دِينه دَ مغفرت غوښتلو حکم شوے دے |
| ❖ دَ فتح مکې نه وروسته خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی | ❖ او دَ فتح مکې خوشخبري ورکړے شوي وه |
| ❖ په سُوْرَةِ النصر کښې الله سُبْحَانَهُ | ❖ خاص طور باندې دَ فتح مکه ذکر دے |

## ۲ ــ خالي ځایونه ډک کړئ:

(۱) اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ دین د اشاعت د پاره کوشش کولو والو ته ____________ کښې هم فتح ورکوي ــ

(۲) اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د خپلو بندګانو په توبه باندې ډیر زیات____________ والا دے ــ

(۳) دَ فتح مکه واقعه____________ هجري کښې وه ــ

(۴) دَ دین____________ خلقو د پاره دَ دین دَ قبلولو ذریعه ده ــ

(۵) سورت النصر دَ نبيﷺ دَ حیاتِ مبارکه په____________ کښې نازل شوے دے ــ

**معلم کړئ:** دَ دین الله ،حمد،تسبیح،استغفار،توبه وضاحت دَ خپلو استاذانو [illegible] کړئ

## ۳ ــ د لاندې لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ــ چې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی انسان په یو مقصد کښې کامیاب کړي، نو دې له څه وئیل پکار دي؟

____________

۲ ــ دَ سورت النصر متعلق څهٔ درې خبرې ولیکئ ــ

____________

۳ ــ رسول اللهﷺ به په رکوع او سجدو کښې څهٔ لوستل؟

____________

**سوچ وکړئ:** که چرته تا په يو غټ پروګرام کښې دَ ټولو نه زياتې نمبرې حاصل کړلې او کاميابي دې حاصله کړله، نو په دې صورت کښې به مقابله کښې [illegible] ستا رويه څنګه وي؟

## کورنۍ سرګرمي

- دا سورت دَ ترجمې سره ياد کړئ او خپل کور والو ته ئې واوروئ –
- دَ مکې مکرَمې څو نوې او زاړه تصويران جمع کړئ او چاټ باندې يې ولګوئ –
- دَ کور والو په مدد سره دَ فتح مکَه واقعه دَ سيرت النبيﷺ

د استاد لاس ليک سره د تاريخ ________ د مور پلار لاس ليک/د مشر لاس ليک سره د تاريخ ________

# سُوْرَةُ اللَّهَبِ

سُوْرَةُ اللَّهَبِ ۱۱۱،ټول آياتونه :۵،ټولي رکوع ګاني:۱

شانِ نزول او پيژندګلو: پهٔ دي سورت کښي دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعالٰی دَ حبيبﷺ دَ دشمنانو انجام بيان شوے دے ــ او نبيﷺ ته دَ دنيا او آخرت خبر ورکړے شوے دے ــ چې کله نبيﷺ ته اللهسُبْحَانَهُ وَتَعالٰی دَ علانيه اسلام دعوت ورکولو حکم وکړو، نو نبیﷺ دَ صفا غونډۍ (غر) ته وختلو ــ نبیﷺ دَ هغهٔ دور مطابق خلق په آواز سره راجمعه کړل ،چې خلق جمعه شو، نو نبيﷺ اوفرمائيل "اے خلقو که چرته زهٔ تاسو ته داسي اووايم چې د دي غر نه اخوا يو فوځ دے او په تاسو حمله کوي، نو آيا تاسو به زما دَ خبرې تصديق کوئ؟ خلقو جواب ورکړو آو مونږ ستا دَ خبرې تصديق کوو ځکه چې تهٔ ريښتونے يې، نو نبيﷺ اوفرمائل "خلقو! دَ يو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعالٰی عبادت وکړئ ،زهٔ دَ الله رسول يم او تاسو دَ آخرت دَ انجام نه ويروم ــ پهٔ دي باندي دَ نبيﷺ ترهٔ ابولهب ناراضه شو او وي وئيل ستا د پاره دي هلاکت وي (معاذالله) تا مونږ د دي د پاره راجمع کړو ــ دَ ابولهب دَ طرف نه دَ نبيﷺ په ګستاخۍ کولو باندي اللهسُبْحَانَهُ وَتَعالٰی دا سورت نازل کړو چې پهٔ دي کښي دَ ابولهب او دَ هغهٔ دَ بی بی امِّ جميل سخت مذمَّت بيان شوے دے ــ امِّ جميل به دَ نبيﷺ په لاره کښي غني اچولې او چغلي به يې کوله او نبيﷺ ته به يې تکليفونه رسول ــ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعالٰی ابولهب او دَ هغهٔ بی بی دواړو ته په دنيا او آخرت دَ سخت عذاب خبر واورولو ــ

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ....بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زهٔ د الله په پناه کښي راځم د شېطان رټلي شوي نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ــ |
| تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝۰۰۱ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۝۰۰۲ |
| د ابولهب دواړه لاسونه دي هلاك شي او دے هلاك شو ــ د دهٔ هېڅ په کار رانغلے د دهٔ مال او (نهٔ) هغه څه چې ده ګټلي وو |
| سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝۰۰۳ وَّامْرَاَتُهٗ ۚ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝۰۰۴ |
| زر ده چې دے به لمبې وهونکي اور ته داخل شي ــ او د دهٔ ښځه هم، (زهٔ د دغې) د لرګو اوچتونکې (مذمت کوم) |
| فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝۰۰۵ |

د دي په غاړه کښي د کجوري د پټ مضبوطه رسۍ ده ـ

**عملي خبره:** دنیاوي مال او دولت، عزت، شان وشوکت دَ نجات ذریعه نهٔ دي کنټرل پکار بلکې یاد ساتل پکار دي چې ایمان او نیک اعمال دَ الله **سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی** په فضل سره د نجات ذریعه جوړیږي ـ

**فرمانِ نبوي ﷺ:** په جهنم والو کښي به دَ ټولو نه کم عذاب دَ هغهٔ چا وي چې دَ هغهٔ به دَ اور پېزار دَ تسمو سره اغوستے وي چې د دې نه به یې دماغ خوټ کیږي،لکه څرنګه چې په کټوی کښي اوبهٔ جوش وهي او دا به داسې ګڼي چې دې ته د ټولو نه غټ عذاب ورکولے شي،ح... دَ ټولو نه کم عذاب ورکولے کیږي ـ (صحیح ...

## اَهمي نکتې

**آیا تاسو پوهیږئ:** دَ قرآنَ حکیم پیشن ګوئي چې نبی ﷺ ته به غلبه حاصلیږي او دَ نبی ﷺ دښمن به بې نام، بې نشان وي، حرف به حرف صحیح شوه ـ نن په دنیا کښي دَ ابولهب دَ نوم **اخستلو والا څوک نشته البته په دهٔ باندې دَ لعنت سلسله جاري ده ـ مسلمان چې کله هم په مونځ کښي** سورت اللهب تلاوت کوي، نو دي دښمن او په ګستاخ رسول ﷺ باندې دَ لعنت سلسله جاری وی ـ

## دَ علم او عمل خبري

١ ـ د اللهسُبْحَانَهُ وَتعَالٰى او دَ رسول اللهﷺ دښمن په دنیا او آخرت کښي تباه او بربادیدلو والادے ـ (سُوْرَتُ اللَّهَبِ، آیت ۱:)

٢ ـ اللهسُبْحَانَهُ وَتعَالٰى دَ خپل رسول ﷺ دَ ګستاخانو په خپله جواب او عبرتناکه سزا ورکوي ـ (سُوْرَتُ اللَّهَبِ، آیت ۱:)

٣ ـ دَ ایمان والو نیک اعمال او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتعَالٰى په لاره کښي ورکړے شوے مال په آخرت کښي پکار راځي ـ (سُوْرَتُ اللَّهَبِ، آیت ۲:)

۴ ـ دَ انبیاء کرام او بالخصوص دَ نبی کریمﷺ دَ توهین کولو والا د پاره به دَ جهنم دَ اور عذاب وي ـ ( سُوْرَتُ اللَّهَبِ، آیات ۳،۴:)

۵ ـ دَ دینِ اسلام نهٔ قبلولو والا او دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتعَالٰى په لاره کښي رکاوټ غورځولو والا د پاره ډیر غلط انجام دے ـ ( سُوْرَتُ اللَّهَبِ، آیت ۳:تا۵)

۶ـ په آخرت کښي دَ انسان انجام د دي دَ عقیدي او عمل مطابق وي ـ ( سُوْرَتُ اللَّهَبِ، آیت ۳:تا۵)

بیان شوي دي ـ

(۲) په آخرت کښي دَ انسان انجام دَ هغهٔ ____________________ مطابق وي ـ

(۳) نبی دَﷺ اسلام دَ دعوت ورکولو د پاره ____________________ په غر باندي تشریف ویوړلو ـ

(۴) دَ انبیاء کرام او بالخصوص دَ نبی کریمﷺ دَ توهین کولو والا د پاره به دَ__________عذاب وي ـ

(۵) امِّ جمیل دَ نبیﷺ په لاره کښي____________________________غورځولي ـ

معلوم کړئ: دَ ابولهب معنیٰ ، دَ ابولهب کټه وټه ، دَ لرګو اوچتولو والا او دَ پېللي شوې رسی وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ـ

۲ ـ دَ لاندې ليکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ.

۱ ـ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سورت اللهب ولې نازل کړلو؟

______________________________

______________________________

۲ ـ په ابولهب باندې به دَ لعنت سلسله څنګه جاري وي؟

______________________________

______________________________

۳ ـ دَ مکې والو ته دَ نبیﷺ دَ خطاب نه يو دوه خبرې وليکئ؟

______________________________

______________________________

۴ ـ دَ خپلو اساتذه کرامو نه دَ ابولهب او دَ امِّ جميل په باره کښې معلوم کړئ دَ دواړو په عبرتناک انجام باندې يو مظمون وليکئ ـ

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

______________________________

سوچ وکړئ !!! که چرته تاسو يو کس په محلَّه يا اسکول کښې تنګوي، مثلاً کچره غورځوي يا دهکې درکوي، نو په دې صورت کښې به تاسو څۀ کوئ؟

## کورنۍ سرګرمي

- د ا سورت دَ ترجمې سره ياد کړئ او خپل کور والو ته يې واوروئ ـ
- دَ يو صاحبِ علم نه معلوم کړئ دَ رسول اللهﷺ دَ درې دښمنانو نومونه او دَ هغوي انجام وليکئ ـ
- دَ الله په لار کښې رسېدلو والا تکليفونو باندې د نبيﷺ او د صحابه کرام رضی الله عنهم څۀ رويه وه ـ څۀ پېنځۀ خبرې معلوم کړئ او وې ليکئ ـ

د استاد لاس ليک سره د تاريخ ________ د مور پلار لاس ليک/د مشر لاس ليک سره د تاريخ ________

# سُوْرَةُ الاِخْلَاصِ

سُوْرَةُ الاِخْلَاصِ،ټول آياتونه ۴: ټولې رکوع ګاني:۱

شانِ نزول او پېژندګلو: دا سورت په نبیﷺ باندې ذَ مکي زندګی په ابتدائی دور کښې نازل شوے ؤ ـ يهوديانو او عيسايانو خپل انبياء کرام عليهم السلام ذَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى بچي جوړول او ذَ مکې مشرکانو ملائک ذَ الله لورګاني جوړې کړې وې ـ ذَ مکې والو ذَ نبيﷺ نه ذَ الله تعالٰى ذ خاندان په باره کښې تپوسونه کول، ذ دې ټولو غلطو خبرو په باره کښې په دې سورت کښې جواب اوشو ـ وروسته کښې ذَ عربو نورو خلقو هم ذَ نبي کريمﷺ نه دغه رنګې سوال کولو ،کله به ذَ مدينې طيّبې يهودو ذَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ذ صفاتو په باره کښې سوال کولو چې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى چرته دے؟ ذ دې جنس څۀ دے؟ آيا دا ذ سونا چاندي يا پيتل نۀ جوړ شوے دے؟ آيا دا څۀ خوري او څښکي ؟ الله ته ذَ دنيا وراثت ذ چا نه ميلاو شوے ؤ او ذَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نه وروستو به ذ دنيا وارث څوک وي؟ کله به نصاراوو ذَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ذَ تعارف په باره کښې تپوس کولو ـ چونکه ذ دې ټولو سوالونو په جواب کښې نبیﷺ دا سورت اخلاص ولوستلو او وې اورولو ـ په دې سورت کښې ذَ توحيد بيان دے يعني ذَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى تعارف شوے دے او دا شودلے شوي دي چې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى يو دے، نۀ ذَ هغۀ څوک پلار شته او نۀ څۀ اولاد او نۀ ذَ هغۀ څوک هم سيال (برابر) شته ـ

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۔۔۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ ذ الله په پناه کښې راځم ذ شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص ذَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ـ |
| قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝۱ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝۲ |
| اے نبي! تۀ (دوی ته) اوواېه: شان دا دے چې الله يو دے ـ هم دا الله بې نيازه (بې حاجته) دے ـ |
| لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝۳ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝۴ |
| **نۀ يې (څوک) زېږولي دي او نۀ دے (له چا) زېږول شوے دے ـ او ذ دۀ هيڅوک سيال (او) برابر نشته ـ** |

فرمانِ نبویﷺ: نبيﷺ سورت اخلاص ذَ دريمې حصې ذَ قرآن برابر ګرځولے دے ـ (صحيح بخاري، صحيح مسلم)

آيا تاسو پوهېږئ؟: ذَ نبيﷺ ذَ سحر ذَ سنتو،ذَ ماښام ذَ سنتو او ذَ طواف نه وروسته ذَ دوو رکعاتو نه دويم،ذَ وترو دريم رکعت او ذَ شپې ذَ خوب نه مخکښې ذَ سورت اخلاص ذَ تلاوت معمول شته ـ

## اَهمي نڪتي

## دَ علم او عمل خبري

(۱) مونږ له صرف دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى عبادت کول پکار دے ځکه هغه رښتوني معبود دے ـ (سُوْرَۃ الاخلاص، آیت:۱)

(۲) اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ خپل توحید بیان دَ خپل نبی مُحَمَّدرسول اللهﷺ په ژبه مبارکه باندې کوي ـ (سُوْرَۃُ الاِخْلَاصِ، آیت ۲:

(۳) دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى زمونږ عبادت ته هیڅ ضرورت نشته دے ـ دَ هغهٔ دَ عبادت فائده مونږ ته ده ـ (سُوْرَۃُ الاِخْلَاصِ، آیتْ: ۲)

(۴) ټول مخلوق اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ته محتاجه دے او هغه چا ته محتاجه نهٔ دے ـ (سُوْرَۃُ الاِخْلَاصِ، آیت:۳)

(۵) هر څوک دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى سره په هر اعتبار باندې برابر نهٔ دي ـ (سُوْرَۃُ الاِخْلَاصِ، آیت:۴)

۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:

| کالم (ب) | کالم (الف) |
|---|---|
| ❖ دَ الله برابر څوک نهٔ دے<br>❖ فائده یې مونږ ته ده ـ<br>❖ دَ الله دَ صفاتو په باره کښې به سوال وکړو<br>❖ دَ یوې دریمې حصې دَ قرآن برابر یې ګرځولے دے<br>❖ دَ توحید بیان دے ـ | ❖ نبیﷺسورت اخلاص لره<br>❖ په سورت اخلاص کښې<br>❖ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ عبادت<br>❖ که هر څوک په هر اعتبار باندې<br>❖ دَ مدینه طیّبې یهودو د نبیﷺنه |

## ۲ ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) دَ صمد معنیٰ ____________________ده ـ

(۲) يهوديانو او عيسايانو خپل ____________________ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی زامن ګرځولي وو ـ

(۳) دَ اولاد ضرورت خو ____________________ ته وي ـ

(۴) دَ مکې مشرکانو________________________ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی لورګاني ګرځولي وي ـ

(۵) ټول ____________________________ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی محتاجه دي ـ

عملي خبره: په کائنات کښې په هر لحاظ باندي هر څوک وي دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره برابر نشته ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی حق دے چې د هغهٔ عبادت وکړے شي او خلق پوره زندګي دَ نبي کريمﷺ اتباع کامله سره دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د احکاماتو [illegible]

معلوم کړئ: دَ صمد (بې نيازه) وضاحت او د دي سورت يو دريمه حصه ګرځول دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ـ

۱ ـ په مونږ باندي دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی څهٔ حق دے؟

___________________________________________

___________________________________________

۲ ـ دَ مديني يهودو دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ صفات په باره کښې چې کوم سوالونه کړي وو دَ هغو نه درې وليکئ؟

___________________________________________

___________________________________________

۳ ـ نبی کريمﷺ دَ سورت الاخلاص دَ تلاوت معمول کړے ؤ؟

___________________________________________

___________________________________________

سوچ وکړئ!!!
که چرته یو غېر مسلم ستاسو نه دَ الله دَ تعارف په باره کښي سوال وکړي، نو په دي صورت کښي به تاسو دوي ته څۀ وايي؟

کورنی سرگرمي

- دا سورت دَ ترجمي سره ياد کړئ او خپل کور والو ته يي واوروئ ـ
- دَ خپل کور والو په مدد سره دَ لفظ "قُلْ" نه شروع والو دَ پنځۀ سورتونو نمونه اوښايئ ـ
- دَ يو عالم نه دَ سورت الاخلاص دري۳ نمونه معلوم کړئ ـ

د استاد لاس ليک سره د تاريخ ________ د مور پلار لاس ليک/د مشر لاس ليک سره د تاريخ ________

# سُوْرَةُ الْفَلَقِ او سُوْرَةُ النَّاسِ

دَ قرآنِ حکيم په آخر کښې دوه سورتونه دي چې هغوي ته "مُعَوِّذَتَيْن" يعني دوه دَ پناه والاسورتونه وايي ـ دا سورتونه دَ جادو، شېطان، جنّات (پيران) او دَ هر قسم شر نه دَ بچ کېدلو د پاره ډير اهم دي ـ د دې سورتونو په ذريعې سره مونږ د اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه پناه حاصلوو ـ په سورت الفلق کښې زمونږ دَ بهر بديانو شرونو لکه توره شپه ،جادو، حسد وغيره بدی او نقصان نه دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه پناه حاصلولو والا دعاګانې ښودلې شوي دي ـ په سورت الناس کښې زمونږ دَ دننه بديانې شرونه لکه شېطان او دَ هغۀ دَ وسوسې بدوالي او نقصان نه دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ پناه حاصلولو دعاګانې ښودلې دي ـ نبی کريمﷺ به دا دواړه سورتونه دَ هر فرض مونځ نه وروسته او دَ شپې دَ اودۀ کېدلو نه مخکښې لوستل ـ نور دا چې دَ نبیﷺطبيعت ناسازی په موقعه به هم نبیﷺ دا دوه سورتونه لوستل او ځان به يې پرې دمولو ـ

فرمانِ نبوی ﷺ: د حسد نه بچ شئ ځکه حسد نېکيانې داسې خوري لکه چې خرڅګه په اور سره لرګي سوځي ـ (سن ابی داؤد)

## سُوْرَةُ الْفَلَق

سُوْرَةُ الْفَلَق ١١٣،ټول آياتونه :٥،ټولي رکوع ګاني:١

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ـ |
| قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۙ۰۰۱ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۙ۰۰۲ |
| تۀ اووايه: زۀ په رب د سبا پورې پناه نيسم ـ د هر هغه شي له شر نه چې دۀ پېدا کړي دي ـ |
| وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۙ۰۰۳ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ۙ۰۰۴ |
| او د تيارې شپې له شر نه کله چې تکه توره (او خوره) شي ـ او له شره د هغو (جادوګرو) ښځو چې په غوټو کښې پوکې وهونکي دي ـ |
| وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۧ۰۰۵ |
| او د حسد کونکي له شر نه کله چې حسد دے (شروع او ښکاره) کړي ـ |

## اَهمي نڪتي

# سُوْرَةُ النَّاسِ

سُوْرَةُ النَّاسِ ۱۱۴،ټول آیاتونه: ۶ ټولي رکوع ګاني: ۱

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ــ |
| قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝۰۰۱ مَلِكِ النَّاسِ ۝۰۰۲ اِلٰهِ النَّاسِ ۝۰۰۳ |
| اے نبي تۀ اووايه: زۀ د خلقو په رب پورې پناه نيسم ــ چې د خلقو بادشاه دے ــ د خلقو (حقيقي) معبود دے ــ |
| مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۝۰۰۴ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝۰۰۵ |
| له شره د وسوسې اچوونکي، تښتېدونکي ــ هغه چې د خلقو په سينو کښې وسوسې اچوي ــ |
| مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝۰۰۶ |
| چې (دغه وسوسې اچوونکي) له پېريانو او انسانانو څينې دي ــ |

## آيا تاسو پوهېږئ؟

دَ قرآنِ حکيم آغاز هم دَ دعاء يعني دَ سورت الفاتحه نه شوے ؤ او په اختتام باندې هم په دې دوو سورتونو کښې دعاء ښود لے شوي ده ــ دَ دې نه معلومه شوه چې دَ هدايت دَ حصول او دَ هر شر نه دَ بچ کيدلو د پاره هم دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه مستقل دعاء

**عملي خبره:** د دې سورت په برکت سره فېض او شفا حاصلېږي، نظر،جادو او منتر نه د بچ کيدلو د پاره مونږ ته دَ نبي اکرم صلی الله علیه وسلمطريقه اختيارول پکار دي ــ امّ المؤمنين عائشه صدّيقه رضي الله عنها فرمايي چې کله به نبي ﷺ بسترې ته تشريف راوړلو، نو په خپلو دواړو لاسونو به يې قل هو الله احد او معوّذتين ولوستل او پوک به يې کړل او بيا به يې په خپل مخ او ټول بدن چې کوم ځاے ته به يې لاس رسېدل راخښکل ــ (صحيح بخاري)

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ــ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ ټولو نه لوے محافظ دے ــ (سُوْرَةُ الْفَلَقِ، آيت:۱او سُوْرَةُ النَّاسِ آيات:۱،۲)

۲ ــ مونږ لره دَ هر څيز دَ بدوالي دَ بچ کيدلو نه دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په پناه کښې راتلل پکار دي ــ (سُوْرَةُ الفلق آيات،:۱تا۲)

۳ ــ دَ شېطان دَ حملو دَ بچ کيدلو نه دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی په پناه کښې راتلل پکار دي ــ (سُوْرَةُ النَّاسِ آيات،:۱تا۳)

۴ ــ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ هر څيز خالق دے، هغه دے چې دَ هر شي دَ شۀ

## ځان پرې پوهه کړئ او حل یې کړئ:

١ ــ خالي ځایونه ډک کړئ:

(١) زمونږ دَ دننه شرونو نه دَ پناه غوښتلو طریقه ______________ کښې ښودلې شوې ده ــ

(٢) زمونږ دَ بهر شرونو نه دَ پناه غوښتلو طریقه______________ کښې ښودلې شوې ده ــ

(٣) الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ خیز دَ ښهٔ والي او ______________ ښهٔ خبردار دے ــ

(۴) اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ هر خیز______________ دے ــ

(۵) مونږ لره دَ حسد کولو والا دَ شر او بدئ نه دَ بچ کیدلو______________ کول پکار ده ــ

## ځان پوهه کړئ او حل ئي کړئ

١ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملي سره کرښه ولګوئ:

کالم (الف) | کالم (ب)

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| ❖ سورت الفلق او سورت الناس لره | ❖ حرام دے ـ |
| ❖ جادو | ❖ د شيطان دوستان جوړيږي |
| ❖ اللهسُبۡحَانَهُوَتَعَالٰی دَ ټولو نه لوے | ❖ نبیﷺمعوَّذتين نوم ورکړے دے ـ |
| ❖ غل انسانان او غل جنّات | ❖ دَ ګناه خيالات غورځوي ـ |

٣ ـ دَ سورت الفلق متعلق لاندې ليکلے شوي الفاظ په لاندې خالي ځايونو کښي وليکئ:

دَ مونځونو حکم، دَ رب په پناه کښي راتلل،دَ تيارو نه وتلو والا، دَ يتيمانانو سره سلوک، په رڼا کښي ورکولو والا رب،دَ بهر بدی نه پناه غوښتل، دَ فتح خيبر،دَ جادو مذمت ، دَ حاسدانو د شر او بدی نه پناه غوښتل ـ



### ۴ ــ دَ سورت الناس متعلق لاندې لیکلے شوي الفاظ په لاندې خالي ځایونو کښې ولیکئ:

دَ قربانی حکم، دَ خلقو معبود او بادشاه، دَ شېطان وسوسه اندازي، دَ آخرت دروغژن کولو والا، شېطان بار بار حملې کولو والا، دَ رب پناه، دَ دننه شرونو نه پناه غوښتل، دَ تیارو نه پناه، پۀ انسانانو او جنّاتو (پېریانو) کښې دَ شیطان دوستان

سُوْرَةُ النَّاس

### ۵ دَ لاندې لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ــ دَ نظر، جادو او منتر نه دَ بچ کیدلو دَ پاره نبیﷺ څه طریقه ښودلې ده؟

- ______

- ______

۲ ــ دَ بهر شرونو بدو نه څۀ مراد دي؟

- ______

- ______

۳ ــ دَ دننه شرونو او بدو نه څۀ مراد دي؟

- ______

- ______

۴ ــ دَ حسد په باره کښې په حدیث شریف کښې څه ښودلے شوي دي؟

- ______

-

________________________________

۵ ـ دَ قرآنِ حکیم په شروع او اختتام باندي په موجود سورتونو کښي دعاء ښودلي شوي ده، د دي نه څۀ معلوم شو؟

-

________________________________

-

________________________________

۶ ـ رسول اللهﷺبه معوَّذتین کله کله تلاوت کول؟

-

________________________________

-

________________________________

**معلوم کړئ:** شاته تللو والا، حسد، په غوږو کښي پوکونو کولو والا او دَ شپې دَ شرونو بدوالي وضاحت دَ خپلو استاذانو نه

**سوچ وکړئ!!!** که چرته دَ ستا کلاس یو ملګري په امتحان کښي ستا نه زیاتي نمبري حاصل کړي، نو په دي صورت به ستا څه رویّه وي؟

**کورنی سرګرمي**

- دا سورت دَ ترجمي سره یاد کړئ او خپل کور والو ته یي واوروئ ـ
- دَ یو عالم نه دَ حسد غبطي (رشک) فرق معلوم کړئ ـ
- دَ خپل کور والا په مدد سره دَ سورت الفیل نه تر سورت الناس پوري راروان نومونه په لاندي لیکلے شوو مکالمو کښي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

# دَ آدم علیه السلام قصّه

## پېژندګلو او مقام و مرتبه

آدم عَلَيْهِ السَّلام دَ ټولو نه اول انسان او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی منتخب نبی دے ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السَّلام دَ خټې نه پېدا کړے دے ـ بیا یې دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام په جسم کښې دَ خپل طرف نه (خاص) روح پوک کړے دے ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام د پاره دَ هغۀ بي بي حوّا عَلَيْهَا السَّلام پېدا کړله ـ دغۀ شان دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام په ذریعه یې دَ نسلِ انساني آغاز وکړلو ـ د دې وجې نه آدم عَلَيْهِ السَّلام ته "ابوالبشر" یعني دَ ټولو انسانانو پلار اوحوّا عَلَيْهَا السَّلام ته دَ ټولو انسانانو مور وئیلے شي ـ دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام لقب "صفي الله" هم دے چې د دې معنٰي ده"چڼ شوے منتخب شوے" ـ

## دَ ملائکو مکالمه (خبري اترې)

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ ملائکو مخې ته دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام دَ تخلیق ذکر وکړو چې زۀ په زمکه کښې نائب پېدا کوم ـ ملائکو عرض وکړو " آیا تۀ داسي مخلوق پېدا کوې چې په زمکه کښې به فساد کوي او وینې به تویه وي ـ ملائکو دا خبره د دې وجې وکړه چې دَ انسانانو نه مخکښې جنّات (پیران) پېدا شوي وو لیکن هغوي په زمکه کښې ډیر فساد کولو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اوفرمائل"چې په کوم څه زۀ پوهیږم تاسو په هغۀ نۀ پوهېږئ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السَّلام ته دَ تمام څیزونو نومونه یعني دَ دوي دَ حقیقتونو علم اوښودلو ـ بیا یې دغه څیزونه دَ ملائکو مخې ته پیش کړل ـ ملائکو د دغه څیزونو نومونه و نۀ ښودل ـ آدم عَلَيْهِ السَّلام د دغۀ ټولو څیزونو نومونه وښودل ځکه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السَّلام دَ علم په لحاظ باندې په ملائکو فضیلت ورکړلو ـ دا واقعه په سُوْرَة البقره آیات:۳۰ تا۳۹ کښې بیان شوې ده ـ

## دَ شېطان تکبّر

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ملائکو ته دَ سجدې کولو حکم وکړو ـ ټولو ملائکو آدم عَلَيْهِ السَّلام ته سجده وکړه لیکن شېطان و نۀ کړله ـ شېطان دَ جنّاتو (پیرانو) نه وو لیکن الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت ګزاری په وجه په ملائکو کښې شامل کړے ؤ مګر شېطان تکبّر وکړلو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ شېطان نه تپوس وکړلو چې تا دَ زما حکم نافرماني ولې وکړله ؟ شېطان اوئیل چې زۀ دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام نه غوره یم ـ تا زۀ دَ اور نه پېدا کړے یم او آدم عَلَيْهِ السَّلام دې دَ خټې نه پېدا کړے دے ـ د دې وجې نه ما دۀ ته سجده و نۀ کړله ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اوفرمائل چې تا ته هیڅ کله دا حق نشته چې تۀ دلته تکبّر وکړې ـ د دې وجې تۀ د دې ځاے نه ذلیل او رسوا اوځه ـ شېطان دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه دَ قیامت ورځې پورې اجازت وغوښتلو د دې



فرمانَ نبوي ﷺ

پاره چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی بندګان وَ تَعَالٰی دَ سیدها لاري نه واړوي، نو دَ بندګانو دَ ازمائش د پاره دي ته دا مهلت ورکړلو مګر دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی چڼ شوي بندګان دَ سیدها لاري نه نۀ شي اړولے ـ

فرمان نبويﷺ: حیاء او ایمان د یو بل ملګري دي،کۀ یو ختم

## دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام او دَ مور حوّا ازمائش

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام د پاره حوّا عَلَيْهَا السَّلام پېدا کړله او دا دواړه یې په جنَّت کښې داخل کړل ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دوي ته اجازت ورکړو چې په جنّت کښې دَ کوم ځاے نه خوراک او څښکاک کوي، نو کولے یې شي لیکن دَ یوې ونې نه یې منعه کړل ـ شېطان دي دواړو ته اوئیل چې " آیا تاسو دواړو ته داسې یوه ونه و نۀ ښایم چې د دې ونې دَ خوراک په وجه به ستاسو نه ملائک جوړ شي او تاسو ته به داسې بادشاهي میلاو شي چې هیڅ کله به ختم نۀ شي ـ هغۀ قسمونه وکړۀ چې " زۀ ستاسو دَ دواړو خېرخواهي غواړم ـ "اګر چې دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام او حوّا عَلَيْهَا السَّلام د دې لغزش اراده نۀ وه لیکن دَ شېطان په وسوسه باندې د دې دواړو په هېره سره د دغۀ ونې مېوه وخوړله ـ دَ مېوې دَ خوراک سره د دې دواړو جنّتي لباس نۀ ؤ او دوي دَ جنّت پاڼې په خپلو بدنونو پسې لګولې ـ

## دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام او دَ مور حوّا عَلَيْهَا السَّلام توبه او دعا

آدم عَلَيْهِ السَّلام او حوّا عَلَيْهَا السَّلام ته فورًا دَ خپل هېر سخت احساس وشو ـ بیا دواړو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه معافي وغوښتله چې" اے زمونږه ربه ! مونږ دَ خپل ځان نقصان کړے دے کۀ چرته تۀ مونږ و نۀ بخښې او په مونږه باندې رحم و نۀ کړې، نو مونږ به ضرور نقصان اوچتونکي شو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی پۀ دوي باندې رحم وکړلو او توبه یې ورلره قبوله کړله ـ

## دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام اعزاز

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السَّلام ته په زمکه باندې دَ خپل نائب یعنې دَ "خلیفة الله" اعزاز ورکړو او نبی یې جوړ کړلو ـ چې کله الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم عَلَيْهِ السَّلام او حوّا عَلَيْهَا السَّلام زمکې ته راولیږل ـ بیا د دې دواړو په ذریعه سره ډیر انسانان پېدا شو چې د دې دَ هدایت د پاره یې دَ نبوّت او رسالت سلسله جاري کړله ـ دغۀ رنګې آدم عَلَيْهِ السَّلام ته دَ "اولني نبی" او امام الانبیاء سیدنا محمَّد مصطفیٰ ﷺته " دَ آخري نبی" کیدلو اعزاز حاصل شو ـ

## دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ طرف نه دَ انسانانود پاره لارښودنه

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ ټولو انسانانو ته هدایت ورکړو چې شیطان ستاسو دښمن دے تاسو د دې نه هوښیار شئ ـ دا تاسو دهوکه او ذلیله کوي ـ تاسو زما پناه اختیار کړئ او زما دَ رالیږلي شوي هدایت تابعداري وکړئ ـ په دې صورت کښې به په تاسو څه خوف او غم نهٔ وي ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په سیدها لاره باندې تلونکي به په خپل رحمت سره په جنّت کښې داخل کړي لیکن چې کوم خلق دَ شیطان په دهوکه کښې راغلل او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په هدایت باندې عمل نهٔ کوي، نو هغه به دَ شیطان سره په جهنَّم کښې غورځولے شي ـ

## د دې قیصې نه حاصلېدلو والا سبق

مونږ لره یاد ساتل پکار دي چې شیطان زمونږ دښمن دے چې کومې وسوسې اچوي، نو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نافرمانۍ طرف ته بوتلل غواړي ـ مونږ لره دَ شیطان دَ شر نه دَ بچ کېدو د پاره "تعوّذ" یعنې **اعوذ بالله من الشيطن الرَّجيم** وئیل دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پناه غوښتل پکار دي ـ که چرته څه غلطي وشي، نو پښېمانه کیدل او فوَرا د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نه معافي غوښتل پکار دي ځکه چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ معافي خوښوي او دَ دوي غلطیانې معاف کوي ـ دَ غرور او تکبَر کولو والا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ رحمت نه جدا کیږي ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ متکبِّرینو نه خپل ورکړلے شوے ښهٔ حالت او نعمت واپس اخلي ـ نبی کریمﷺفرمایي: "چې دَ چا په زړهٔ کښې دَ اوري دَ داني برابر هم تکبّر وي، نو هغه جنّت ته نهٔ شي تللے ـ (صحیح مسلم)

# قصه د آدم عَلَيْهِ السَّلام

## سورة الاعراف ۷، آيت ۱۱،۱۷

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ـ |
| وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۱ |
| او يقينًا مونږ تاسو پېدا کړئ، بيا مو ستاسو صورتونه جوړ کړل، بيا مونږ ملائکو ته اوئيل: د آدم لپاره سجده وکړئ، |
| فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ لَمْ يَكُنْ مِّنَ السّٰجِدِيْنَ ۱۱ قَالَ مَا مَنَعَكَ |
| **نو هغوى سجده وکړه سېوا له ابليس نه، هغه له سجده کوونکو څخه نۀ ؤ ـ اوئيل (الله) تۀ څه شي منع کړې،** |
| اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ |
| چې سجده دې و نۀ کړه کله چې ما تا ته حکم وکړو؟ اوئيل (شېطان): زۀ له هغه نه غوره يم، تا زۀ له اوره پېدا کړے يم |
| وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ۱۲ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُوْنُ لَكَ |
| او هغه دې له خټې پېدا کړے دے ـ الله) اوئيل: نو تۀ له دې (جنت) نه کوز شه، پس تا ته دا حق نشته |
| اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ اِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِيْنَ ۱۳ |
| چې تۀ په دې (جنت) کښې تکبر وکړې، نو تۀ اوځه، بېشکه تۀ له ذليلو څخه يې ـ |
| قَالَ اَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۱۴ |
| اوئيل (ابليس چې اے الله!) تۀ ما ته مهلت راکړه، تر هغې ورځې پورې چې خلق به را ژوندي کولے شي ـ |
| قَالَ اِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ۱۵ قَالَ فَبِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ |
| اوئيل (الله): بېشکه تۀ له مهلت ورکړے شوو څخه يې ـ (ابليس) اوئيل: نو په سبب د هغه چې تا زۀ ګمراه کړم |
| لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ۱۶ ثُمَّ لَاٰتِيَنَّهُمْ مِّنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ |
| زه به خامخا ضرور دوي ته ستا په نېغه لار کښې کېنم ـ بيا به خامخا لازمًا زۀ دوي ته راځم د دوي له مخې نه |
| وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ وَلَا تَجِدُ اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ۱۷ |
| او د دوى له شا نه او د دوى له ښيو اړخونو نه او چپو اړخونو نه او تۀ به د دوى اکثره شکر ګذاره و نۀ مومې ـ |

# اَهمي نـکـتـي

# قصه ذَ آدم عَلَيْهِ السَّلام

## سورة الاعراف ۷، آيت ۱۸، ۲۲

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ....بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص ذَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ـ |
| قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ |
| اوئيل (الله): اوځه تۀ له دې ځاے نه، چې بدحاله غمژن کړے شوے، رټلے شوے يې، يقينًا په دوی کښې چې چا ستا پېروي وکړه |
| لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۱۸ وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ |
| (نو) خامخا لازمًا به زۀ له تاسو ټولو نه جهنم ډکوم ـ او اے آدمه! تۀ او ستا ښځه په جنت کښې اوسئ، |
| فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۱۹ |
| نو تاسو خوراك کوئ له کوم ځاے نه چې مو خوښه شي او دې ونې ته مۀ نزدې کېږئ (ګني) نو له ظالمانو نه به شئ ـ |
| فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا |
| نو دوی دواړو ته شېطان وسوسه واچوله، د دې لپاره چې هغه (شېطان) دې دواړو ته هغه څه ورښکاره کړي چې له دوی نه پټ وو، |
| مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ |
| چې د دوی د شرم ځايونه دي . او (ورته) وې وئيل: تاسو دواړه ستاسو رب له دې ونې نه نۀ يې وئ منع کړي |
| اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ۲۰ |
| مګر له دې وجې چې تاسو دواړه به ملائك شئ، يا چې شئ به له تل پاتې کېدونکو نه ـ |
| وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ۲۱ |
| او هغۀ دوی ته پوخ قسم وکړو چې بېشکه زۀ تاسو لپاره يقينًا له خېرخواهي کونکو څخه يم ـ |
| فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا |
| نو هغۀ دوی دواړو ته په دهوکې سره طمعه ورکړه، نو کله چې دوی هغه ونه وڅښکله، دوی ته د خپل شرم ځايونه ښکاره شول |
| وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ |
| او دواړه لګيا شول چې په خپلو ځانونو يې د جنت پاڼې نښلولې او دوی ته خپل رب اواز وکړو چې آيا ما تاسو دواړه له دې ونې نۀ وئ منع کړي |

| |
|---|
| وَاَقُل لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ٠٠٢٢ |
| او تاسو ته مې نۀ وو وئيلي چې بېشکه شيطان تاسو دواړو لپاره ښکاره دښمن دے؟ ـ |

## اَهمې نکتې

# قصه دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام

## سورة الاعراف ۷، آيت ۱۸، ۲۲

| |
|---|
| قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۫ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا |
| دوی اوئيل: اے زمونږه ربه ! مونږ په خپلو ځانونو ظلم کړے دے او که چرې ته مونږ و نه بخښې |
| وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۲۳ قَالَ اهْبِطُوْا |
| او په مونږ رحم و نه کړې (نو) مونږ به خامخا لازمًا له تاوانيانو څخه شو ـ اوئيل (الله): تاسو کوز شئ، |
| بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۚ وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ۲۴ |
| ستاسو ځينې به د ځينو نورو لپاره دښمنان وي او تاسو لپاره په زمکه کښې استوګنه ده او تر يو وخته پورې فائده اخستل دي ـ |
| قَالَ فِيْهَا تَحْيَوْنَ وَفِيْهَا تَمُوْتُوْنَ وَمِنْهَا تُخْرَجُوْنَ ۲۵ |
| (الله) اوئيل: په همدې (زمکه) کښې به تاسو ژوندون کوئ او په همدې کښې به تاسو مرئ او له همدې نه به تاسو راوښکلے کيږئ ـ |
| يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِىْ سَوْاٰتِكُمْ |
| اے د آدم اولاده ! يقينًا مونږ په تاسو باندې لباس نازل کړے دے چې ستاسو د شرم ځايونه پټوي |
| وَرِيْشًا ۭ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ۭ ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ |
| او د زينت جامې (مو نازلې کړې دي) او د پرهيزګارۍ لباس، دغه ډير غوره دي، دا د الله له اياتونو څخه دي، |
| لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ۲۶ يٰبَنِىْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ |
| د دې لپاره چې دوی نصيحت حاصل کړي ـ اے د آدم اولاده ! تاسو لره دې شېطان هيڅکله هم په فتنه کښې وا نه ارچوي، |
| كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا |
| لکه څنګه چې يې ستاسو مور او پلار له جنت نه ويستل، چې له هغوی نه يې د هغوی لباس وښکلو، |
| لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ۭ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ |
| د دې لپاره چې هغوی ته د خپل شرم ځايونه اوښايي، بېشکه هغه او د هغهٔ قبيله تاسو له هغه ځايه ويني |
| لَا تَرَوْنَهُمْ ۭ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۲۷ |
| چې تاسو يې نهٔ وينئ، بېشکه مونږ شېطانان د هغو خلقو لپاره دوستان جوړ کړي دي چې ايمان نهٔ راوړي ـ |

**عملي خبره:** شېطان ته د قيامت پورې دَ مهلت ورکولو يو مقصد دا دے چې دَ بندګانو امتحان واخستلے شي چې دا دَ الله تابعداري کوي يا په سرکش شېطان پسې ورپسې کيږي ـ

## اَهمي نكتي

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ــ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ملائکو ته آدم علیه السلام ته دَ سجده کولو اوئیل په باقي مخلوقات باندې دَ انسان دَ فضیلت اظهار وکړلو ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۱۱)
۲ ــ نافرماني او تکبر اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ته هیڅ کله خوښ نۀ دے ــ مونږ ته دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ تابعداری حکم شوے دے ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۱۲تا۱۳)
۳ ــ خپله غلطي نۀ تسملول او نور د دې ذمه وار ګرځول دَ شېطان عادت دے ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۱۶)
۴ ــ شېطان زمونږ سخت دشمن دے چې په مونږ باندې په مختلف انداز سره حملې کوي ــ مونږه لره د دې نه هر وخت بېداریدل پکار دي ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۱۷،۲۲،۲۷)
۵ ــ د شېطان پېروي کولو والا به اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ شېطان سره اور ته غورځوي ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۱۸)
۶ ــ شېطان دَ انسان دَ ګمراه کولو د پاره د دې په زړۀ کښې مختلفې وسوسې غورځوي او دَ دروغو قسمونه ورته کوي ــ لهٰذا په دروغه قسمونه کول شېطاني طریقه ده ــ د دې نه مونږ له بچ کېدل پکار دي ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیات:۲۱،۲۰)
۷ ــ شرم او حیاء په فطرت کښې شامله ده ــ مونږ لره همېشه د دې خیال ساتل پکار دي ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۲۲)
۸ ــ که دَ چا نه هېڅ اوشي مایوسه کېږي دې نۀ،بلکه خپله غلطي دې تسلیم کړي او فورًا دې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نه معافي اوغواړي ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ، آیت:۲۳)
۹ ــ انسان دنیا ته دَ امتحان د پاره رالیږلے شوے دے ــ مونږ لره فکر کول پکار دي چې مونږ د دې امتحان د پاره څومره تیار ے کړ ے دے؟ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ ، آیت:۲۴،۲۵)
۱۰ــ لباس دَ حیا دَ حفاظت د پاره یو اهمه ذریعه ده او په دې کښې تقو یٰ لره زیات اهمیت حاصل دے ــ مونږ لره دَ لباس په باره کښې په اسلامی تعلیماتو باندې عمل کول پکار دي ــ (سُوْرَةُ الاعْرَافِ

## پوهه شئ او حل یې کړئ:

**خالي ځایونه ډک کړئ :**

(۱) آدم علیه السلام اول ______________ او ______________________ وو ـ

(۲) دَ ابلیس معنیٰ ____________________ ده چې دَ هغهٔ اصل نوم ______________ دے ـ

(۳) اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آدم علیه السلام د___________ نه جوړ کړے دے او هغهٔ له یې__________ لقب ورکړے دے ـ

(۴) شیطان دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه __________________ دَ ورځې پورې ________________________ وغوښتلو ـ

(۵) اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی __________ او_______________ دَ پېدا کولو نه وروسته په جنّت کښې داخل کړل ـ

**۲ ـ دَ لاندې جملو سره په جوړو شوو خانو کښې دَ قیصې دَ ترتیب په لحاظ سره نمبر ولګوئ**

{ } اللهسبحانه وتعالی آدم علیه السلام او حوَّا علیها السلام معاف کړل او زمکې ته یې راولېږل ـ

{ } اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آدم علیه السلام او حوَّا علیها السلام دواړه په جنت کښې داخل کړل ـ

{ } دَ شېطان نه سیوا ټولو آدم علیه السلام ته سجده وکړه ـ

{ } اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی ملائکو ته حکم وکړو چې آدم علیه السلام ته سجده وکړئ ـ

{ } اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آدم علیه السلام ته دَ ټولو څیزونو نومونه ښودلي وو ـ

{ } اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی شېطان ته اوفرمائل چې ذلیل او رسوا د دې ځاے نه اوځه ـ

{ } شېطان دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نافرماني او دَ آدم علیه السلام ګستاخي وکړه ، تکبّر یې وکړو د دې وجې نه هغه مردود شو او همېشه د پاره لعنتي شو ـ

{ }اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی دَ خټې نه دَ آدم علیه السلام پېدائش وکړلو ، دَ هغهٔ په جسم کښې دَ خپل طرف نه خاص روح پوک کړو ـ

{ } اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی آدم علیه السلام ته په زمکه باندې خپل نائب یعنې دَ "خلیفة الله" اعزاز ورکړو او نبی یې جوړ کړو ـ

{ } آدم علیه السلام او حوَّا علیها السلام فورًا دَ اللهسُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰی نه معافي وغوښتله ـ

۳ــ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملي سره کرښه ولګوئ:

کالم (الف)

کالم (ب)

- آدم علیه السلام اولنے
- اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په هر قوم کښي
- شيطان
- شيطان د دي وجي نه مردود شو چي
- اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی آدم علیه السلام ته

- دَ ټولو څيزونو نومونه وښودل
- جن (پيرے) ؤ ــ
- انبياء کِرام عَلَيْهِمِ السَّلام راليږلي
- نبی ؤ ــ
- هغه دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نافرماني او تکبّر وکړو دَ

۴ ــ راځئ خپله جائزه واخلو:

| شمېره | اعمال | آوجي | کافي حده پوري | دَ کوم حده پوري | اراده |
|---|---|---|---|---|---|
| .1 | آيا مونږ دَ شرم او حياء خيال ساتو؟ | | | | |
| .2 | آيا مونږ شيطان خپل دشمن ګڼو؟ | | | | |
| .3 | آيا مونږ دَ غلطی نه فورًا توبه اوباسو؟ | | | | |
| .4 | آيا مونږ دَ خپلو مور پلار او استاذانو خبره منو؟ | | | | |
| .5 | آيا مونږ دَ تکبّر نه بچ يو؟ | | | | |
| .6 | آيا مونږ داسي خلق دوستان جوړوو چي دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی تابعدار دي؟ | | | | |
| .7 | آيا مونږ نور دَ خپل ځان نه بهتر ګڼو؟ | | | | |
| .8 | آيا مونږ دَ انبياءکرام عليهم السلام احترام او اعمال صالحه دَ جنت دَ حصول د پاره کوو؟ | | | | |
| .9 | آيا مونږ دَ شيطاني وسوسو نه دَ بچ کېدلو کوشش کوو؟ | | | | |
| .10 | آيا مونږ دَ شيطان نه دَ بچ کېدلو د پاره دَ اعوذبالله وئيلو اهتمام کوو؟ | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 11. | آيا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ انبياءکرام عليهم السلام او مقدَّسو هستو احترام کوو؟ | | | | |
| 12. | آيا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى او دَ هغۀ دَ رسول ﷺ اطاعت کوو؟ | | | | |

**معلوم کړئ:** ځينې دَ ځنو دشمن، تکبّر، شکر، قسم او دَ وسوسې وضاحت دَ خپلو استاذانو نه معلوم کړئ ـ

۵ دَ لاندې جملو په باره کښې اووايئ چې دا دَ چا قول دے:

| شمېره | جملې | الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى | آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ | شېطان |
|---|---|---|---|---|
| 1. | يقيناً مونږ تاسو پېدا کړي وئ او مونږ ستاسو صورتونه جوړ کړي دي ـ | | | |
| 2. | اے زمونږه ربه! مونږ خپل نقصان کړے دے،کۀ تۀ مونږه و نۀ بخښې او په مونږه باندې رحم و نۀ کړې،نو مونږ به نقصان اوچتولو والا شو ـ | | | |
| 3. | يقيناً شېطان ستاسو دواړو شکاره دشمن دے ـ | | | |
| 4. | زۀ دې دَ اور نه پېدا کړے يم او دا دې دَ خټې نه پېدا کړے دے | | | |
| 5. | تاسو دې ونې ته مۀ نزدې کيږئ گنې دَ نقصان والا نه به شئ ـ | | | |

سوچ وکړئ !!! که چرته تاسو دَ خپل کور والا او استاذانو دَ مرضى نه خلاف يو کار وکړئ، نو په دې صورت کښې به تاسو څه کوئ؟

## کورنی سرګرمي

❖ دَ آدم عليه السلام او حوَّا عليها السلام ( چې په سورت الاعراف۷، آيت ۲۳:کښې به راشي) دَ ترجمې سره ياد کړئ او په يو چاټ باندې په ښائسته خ□ باندې وليکئ او دَ کور په يو ښۀ ځاے ولګوئ ـ

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

# قـصَّه دَ نـو ح علـيـه الـسلام

## تـعـارف

ﷲسبحانه وتعالى دَ خلقو دَ هدايت دَ پاره په هر دور کښې رسول او نبی (عليهم السلام) رالـيـږي چې په دې بـانـدې ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی وحي نـازلـوي ـ دَ دغه رسولانو نه يو نوح عَلَيْهِ السَّلام هم ؤ چې دَ ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی اولـنـے رسول ؤ ـ دَ آدم عَلَيْهِ السَّلام دَ اولاد نـه وروستـه ډيـرې مـودې پـورې دَ هغۀ اولاد دَ تـوحيد پـه عقيـده بـانـدې قـائم ؤ ـ بـيـا پـه دمـه دمـه پـه دغه خلقـو کښې ګډوډوالے پـيـدا شو او پـه شرک کښې مبتلا شو چې کله په زمکه بانـدې بت پرستي عام شوه، نـو ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی خپل نـزدې بـنـده او خپل رسول نـوح عَلَيْهِ السَّلام دغه مشرک قـوم تـه راولـيـږلـو ـ دا قـوم دَ عراق پـه علاقـه بـانـدې آبـاد وو ـ

## پـه دنـيـا کښې دَ بـت پـرستـی آغاز

[illegible] دَ دهوکه کـولـو او ګمراه کـولـو قسم خوړلے ؤ. دا دَ خلقـو پـه ذهن کښې مختلف خيالات او وسوسې پـيـدا کـوي چې دا ستـورې، سپـوږمـۍ، اور، ونـې او انسانان وغيره تـاسو تـه فـائـده درکـوي ستـاسو خدايان دا دي او ستاسو دَ عبادت مستحق هم دا دي، تـاسو دَ دوي عبادت کـوئ او دوي خوشحالـه کـړئ ـ دا بـه تـاسو دَ ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عذاب نـه بـچ کـوي ـ دغۀ رنـګـې پـه خلقـو کښې دَ بت پـرستـی تـصوّر پـيـدا شو او دوي دَ انسانـانـو سره دَ قـدرت مظاهره او دَ مختلفـو څيـزونـو مجسَّمې جـوړې کـړې او دَ هغوي تـعظيـم (عبادت) يـې شروع کـړو ـ دا پـه اصل کښې دَ دوي خيـالـي تـصوّر ؤ چې د دې دَ حقـيـقـت سره هيڅ تـعلق نـۀ ؤ ـ دَ نـوح عليـه السلام پـه زمانـه کښې دَ تـوحيـد نـظريـه ورکـه شوې وه او دَ نـوح عليـه السلام پـه قـوم کښې بت پـرستي عروج تـه رسيـدلـې وه، هغوي خپل پـنـځۀ مشهـور بـتـان جـوړ کـړي وو چې پـه قـرآنِ حکيـم کښې دَ هغوي نـومـونـه راغلـي دي: وَدّ، سُوَاع، يَـغُوْث ، يَـعُوْق او نَـسْر ـ

## دَ شرک تـعريـف

دَ شرک مطلب دادے چې دَ ﷲسبحانه وتعالى سره څوک په ذات او صفات کښې شريـک کـول او دَ ﷲصلی اللهعليهوسلم پـشان مستـقـل صفـات پـه چا کښې مـنـل ـ ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شرک ډيـر غټ ظلم ګـرځـولـے دے ـ

## دَ تـوحيـد دعوت

نـوح عليـه السلام دَ نـهـه نـيـم سوه کـالـه (۹۵۰) پـورې خپل قـوم دَ ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبـادت تـه دعوت ورکـړلـو ـ نـوح عليـه السلام خپل قـوم دَ ﷲسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره شرک کـول او دَ بـتـانـو دَ عبادت او تـعظيـم نـه منـع کـړل ـ نـوح عليـه السلام دَ خپل قـوم افـراد څانـلـه څانـلـه هم پـوهه کـړل او دَ

ټولو مخې ته هم، دَ ورځې هم پوهه کړل او په شپه کښې هم، ليکن قوم دَ هغۀ خبره نۀ منله ـ قوم نوح عليه السلام ته قِسما قِسم تکليفونه ورسول او ټوقې مسخرې يې پسې وکړلې ـ

## دَ قوم ردِّ عمل

دَ قوم دَ څو غريبانانو خلقو نه علاوه په نوح عليه السلام باندې هيچا هم ايمان را نۀ وړلو ـ دَ قوم سردارانو اوئيل چې اے نوحه! ستا منلو والا په مونږ کښې غريب خلق دے. تۀ دا دَ خپل ځان نه جدا کړه ـ نوح عليه السلام دَ ايمان والا دَ جدا کولو نه انکار وکړلو ـ قوم نوح عليه السلام ته اوئيل چې مونږ ستا په وينا سره خپل بتان نۀ پرېږدو، تۀ چې مونږ دَ قوم عذاب نه ويروې هغه راوله ـ نوح عليه السلام دَ دوي په بار بار انکار کولو دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په دربار کښې عرض وکړلو "چې اے زما ربه ! مۀ پرېږده په مخ دَ زمکه باندې دَ کافرانو يو کور ـ بې شکه که چرته تۀ دوي پرېږدې، نو ستا بندګان ګمراه کوي ـ

## دَ کشتۍ جوړولو حکم

چې کله قوم دَ مسلسل نافرمانۍ او دَ دوي دَ عذاب طلب کولو باندې اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دې کافر قوم لره دَ انجامَ پورې دَ رسولو اراده وکړله، نو نوح عليه السلام طرف ته وحې وشوله چې ستا دَ قوم مزيد خلق ايمان نۀ راوړې ـ بيا نوح عليه السلام ته دَ يوې کشتۍ جوړولو حکم وشو، نو نوح عليه السلام دا کشتۍ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په حکم او هدايت مطابق دَ لرګو دَ تختو نه او دَ ميخونو نه جوړول شروع کړل ـ چې کله نوح عليه السلام دا کشتۍ جوړوله، نو کافر قوم به پسې ټوقې، مذاق او مسخرې کولې ـ دَ دوي خيال ۇ چې هر طرف ته خشکې او خشکي ده، دا کشتۍ به چرته چليږي ليکن نوح عليه السلام دَ دوي دَ خبرو پرواه کولو نه بغېر دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په حکم باندې عمل جاري ۇ او کشتۍ يې جوړوله ـ

## په کافرانو باندې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عذاب

چې کله په کافرانو باندې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عذاب وخت راغلے، نو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نوح عليه السلام ته په کشتۍ کښې خپل کور والا، ايمان والا او دَ حېواناتو (ځناورو) دَ يوې يوې جوړې سورولو حکم وکړلو ـ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په حکم سره دَ زمکې نه اوبۀ راوتل شروع شو او دَ اسمان نه باران شروع شو او په ليدلو ليدلو اوبۀ طوفان جوړ شو او دَ غر پشان اوچتې چپې اوچتې شوې ـ

## دَ "يام" انجام

دَ نوح عليه السلام دريْ٣ زامن وو. حام ، سام او يافث. دَ دي سره په کشتۍ کښي سوارۀ ووٌ. بس يو زوے "يام" يې دَ کشتۍ نه بهر وُ ـ نوح عليه السلام يام ته آواز وکړلو چې" اے زويه! په کشتۍ کښي سور شه ـ هغۀ اوئيل زۀ به غر ته وخيژم هغه به ما بچ کړي ـ نوح عليه السلام اوفرمائيل " نن دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى نه سيوا بل څوک بچ کولو والا نشته دے ـ اچانک يوه چپه راغله او دَا زوے يې هم دَ نورو کافرانو سره ډوب شو ـ الله دَ نوح عليه السلام سره په کشتۍ کښي سوارۀ ټول ايمان والا محفوظ کړل ـ

## دَ طوفان ختميدل

اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى زمکي ته دَ اوبو راښکلو حکم وکړلو او اسمان ته يې د اوبو دَ بندولو حکم وکړلو، نو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى په حکم باندي طوفان ختم شو او دَ طوفان اوبۀ وچي شوي ـ دَ نوح عليه السلام کشتۍ دَ "ارارات" دَ غرونو په سلسله کښي د يو غر"جودي" باندي ودريدله ـ ارارات دَ ترکي او آرمينيا سرحد ته نزدي دے ـ دا علاقه دَ آرمينيا دَ سطح مرتفع نه شروع کيږي په جنوب کښي تر کردستان پوري ده ـ دا غر نن هم د " جودى" په نوم باندي مشهور د

## دَ نسلِ انساني تسلسل

په کشتۍ کښي بچ کيدونکي خلقو دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى شکر ادا کړلو او دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى په فرمان بردارى او تابعدارى کښي زندګي تيروله ـ دَ نوح عليه السلام نه وروسته دَ هغۀ دَ ايمان والا دريْ٣ بچو نه يعني حام، سام او يافث نه دَ انسانانو نسل روان شو، د دي وجي [illegible]

## د دي قيصي نه حاصليدلو والا سبق

شرک يو لويه ګناه ده چې دَ دي نه مونږ له پخپله هم ضرور بچ کيدل پکار دي او نورو له هم دَ بچ کولو دعوت ورکول پکار دي ـ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى او دَ هغۀ دَ رسولانو اطاعت کولو والا په دنيا او آخرت کښي کامياب دي ـ

## نوح عَلَیْهِ السَّلام او دَ نوح علیه السلام دَ قوم مقام

**نوح علیه السلام**

- ❖ په جنوبي عراق کښې دَ نوح علیه السلام دَ قوم علاقه چې چرته نن کوفه آباده ده ۔
- ❖ دَ جودي غر د (ترکی) هغه مقام چې چرته دَ نوح علیه السلام کشتی دَ طوفانِ نوح نه وروسته ولاړه وه ۔

**نقشه**

## قصّه نوح علیه السلام

### سُوْرَة الاعراف۷، آیت: ۵۹ تا ۶۴

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ....بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شيطان رټلي شوي نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ــ |
| لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ |
| يقيناً مونږ نوح عليه السلام خپل قوم ته لېږلے ؤ، نو هغۀ اوئيل: اے زما قومه! تاسو د الله عبادت کوئ، |
| مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْكُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ۝۵۹ |
| **تاسو لپاره له هغۀ نه سېوا (بل) هېڅ برحق معبود نشته، بېشکه زۀ په تاسو د لوے ورځې له ذاب نه وېرېږم ــ** |
| قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰىكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝۶۰ |
| د هغۀ د قوم سردارانو اوئيل: بېشکه مونږ تا لازمًا په ښکاره ګمراهئ کښې وينو ــ |
| قَالَ یٰقَوْمِ لَیْسَ بِیْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّیْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝۶۱ |
| هغۀ اوئيل: اے زما قومه! په ما کښې هېڅ ګمراهي نشته او لېکن زۀ د رب العلمين رسول يم ــ |
| اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّیْ وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ۝۶۲ |
| زۀ تاسو ته د خپل رب پېغامونه در رسووم او ستاسو خېرخواهي کوم او زۀ د الله له جانبه په هغۀ څۀ پوهېږم چې تاسو پرې نۀ پوهېږئ ــ |
| اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ |
| آيا تاسو په دې تعجب کوئ چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نصيحت راغے په داسې سړي چې له هم ستاسو څخه دے، |
| لِیُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝۶۳ |
| ددې لپاره چې تاسو وېروي او د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ او د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړے شي ــ |
| فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَیْنٰهُ وَالَّذِیْنَ مَعَهٗ فِی الْفُلْكِ |
| نو هغوی دا دروغژن وګڼړلو، نو مونږ هغۀ ته او هغو کسانو ته چې له دۀ سره په کشتئ کښې وو، نجات ورکړو |
| وَاَغْرَقْنَا الَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا عَمِیْنَ ۝۶۴ |
| او هغه کسان مو غرق کړل چې زمونږ اياتونه يې دروغ ګڼړلي وو، بېشکه هغوی ړاندۀ خلق وو ــ |

## قصّه نوح علیه السلام

### سُوْرَة هود ۱۱، آیت: ۲۵ تا ۲۹

| |
|---|
| وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖٓ اِنِّىْ لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۙ ۰۰۲۵ |
| او یقینًا مونږ نوح علیه السلام خپل قوم ته لېږلے ؤ، (ورته وې وئیل) بېشکه زۀ تاسو لپاره ښکاره وېرونکے یم ـ |
| اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّىْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ اَلِيْمٍ ۰۰۲۶ |
| چې تاسو له الله نه غیر (د هیچا) عبادت مۀ کوئ، بېشکه زۀ پۀ تاسو باندې د ډېرې دردونکې ورځې له عذاب نه وېرېږم ـ |
| فَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا نَرٰىكَ اِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرٰىكَ |
| نو د هغۀ له قومه کافر شوو مشرانو اوئیل: مونږ تا نۀ وینو مګر زمونږ په شان یو بشر (انسان) او مونږ نۀ وینو تا |
| اتَّبَعَكَ اِلَّا الَّذِيْنَ هُمْ اَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّاْيِ ۚ |
| چې ستا پېروي کړې ده مګر هغو کسانو چې دوي زمونږ تر ټولو لاندې خلق دي، په سرسري فکر سره، |
| وَمَا نَرٰى لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍۢ بَلْ نَظُنُّكُمْ كٰذِبِيْنَ ۰۰۲۷ |
| تاسو لپاره مونږ په خپل ځان باندې هېڅ بهتري (غوره والے) نۀ وینو، بلکې مونږ پۀ تاسو باندې د دروغژنو ګمان کوو ـ |
| قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ |
| هغۀ اوئیل: اے زما قومه! تاسو ما ته خبر راکړئ که زۀ یم په هغه څرګند دلیل باندې چې زما د رب له طرفه دے |
| وَاٰتٰىنِيْ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِهٖ فَعُمِّيَتْ عَلَيْكُمْ ؕ اَنُلْزِمُكُمُوْهَا |
| او هغۀ ما ته له خپل جانبه رحمت راکړے وي، بیا پۀ تاسو باندې هغه پټ کړے شوي وي، أیا مونږه په هغه باندې تاسو مجبوره کولے شو، |
| وَاَنْتُمْ لَهَا كٰرِهُوْنَ ۰۰۲۸ وَيٰقَوْمِ لَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ |
| په دې حال کښې چې تاسو هغه لره بد ګڼونکي ئې وئ ـ او اے زما قومه! زۀ له تاسو نه په دغه (تبلیغ) باندې |
| مَالًا ؕ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ |
| مال نۀ غواړم، زما اجر یواځې په الله باندې دے او زۀ د هغو کسانو شړونکے نۀ یم چې ایمان یې راوړے دے |
| اِنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَلٰكِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ۰۰۲۹ |
| بېشکه دوي له خپل رب سره ملاقات کونکي دي او لېکن زۀ تاسو وینم داسې قوم چې جهالت کوئ ـ |

## اَهمي نڪتي

## قصّه نوح علیه السلام

### سُوْرَة هود ١١، آیت: ٣٠ تا ٣٥

| |
|---|
| وَيٰقَوْمِ مَنْ يَّنْصُرُنِيْ مِنَ اللّٰهِ اِنْ طَرَدْتُّهُمْ ۚ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ٣٠ |
| او اے زما قومه! له الله نه به ما څوك بچ كړي كه زۀ دوي وشړم؟ آيا نو تاسو نصيحت نۀ قبلوئ ـ |
| وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَاۗىِٕنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ |
| او زۀ تاسو ته (دا) نۀ وايم چې زما سره د الله خزانې دي او نۀ دا (وايم) چې زۀ په غيبو پوهېږم او نۀ (دا) وايم |
| اِنِّىْ مَلَكٌ وَّلَآ اَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ تَزْدَرِيْٓ اَعْيُنُكُمْ لَنْ يُّؤْتِيَهُمُ اللّٰهُ خَيْرًا ۭ اَللّٰهُ اَعْلَمُ |
| چې بېشكه زۀ مَلك يم او نۀ زۀ د هغو كسانو په حق كښې چې ستاسو سترګې يې سپك ګڼي دا وايم چې الله به دوي ته له سره څۀ خېر ور نۀ كړي، الله ښۀ عالم دے |
| بِمَا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ښ اِنِّىْٓ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ٣١ |
| په هغو (خبرو) چې د دوي په نفسونو كښې دي . بېشكه زۀ به په دغه وخت كښې خامخا له ظالمانو څخه يم ـ |
| قَالُوْا يٰنُوْحُ قَدْ جٰدَلْتَنَا فَاَكْثَرْتَ جِدَالَنَا |
| دوي اوئيل: اے نوحه! يقينًا تا زمونږ سره جګړه وكړه، نو زمونږ (سره) جګړه دې ډېره زياته كړه، |
| فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ٣٢ |
| لهذا ته مونږ ته هغه (عذاب) راوړه چې تۀ يې زمونږه سره وعده كوې، كه تۀ له صادقانو څخه يې ـ |
| قَالَ اِنَّمَا يَاْتِيْكُمْ بِهِ اللّٰهُ اِنْ شَاۗءَ وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ٣٣ |
| هغه اوئيل: يواځې الله هغه (عذاب) راولي كه وي غواړي او تاسو عاجزه كونكي نۀ ئې وي (الله لره) ـ |
| وَلَا يَنْفَعُكُمْ نُصْحِيْٓ اِنْ اَرَدْتُّ اَنْ اَنْصَحَ لَكُمْ اِنْ كَانَ اللّٰهُ |
| او زما نصيحت تاسو ته نفع نۀ در رسوي كه زۀ تاسو ته د نصيحت كولو اراده وكړم، كه چرې الله |
| يُرِيْدُ اَنْ يُّغْوِيَكُمْ ۭ هُوَ رَبُّكُمْ ۣ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ٣٤ |
| ستاسو د ګمراه كولو اراده لري، هم هغه ستاسو رب دے او خاص هغه ته به وركرځولے شئ ـ |
| اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ |
| بلكې دوي وايي: دۀ له ځانه دا (قرآن) جوړ كړے دے، تۀ اووايه: كه ما دا له ځانه جوړ كړے وي، |
| فَعَلَيَّ اِجْرَامِيْ وَاَنَا بَرِيْۗءٌ مِّمَّا تُجْرِمُوْنَ ٣٥ |

نو خاص په ما باندې دے (انجام) زما (د) جرم او زۀ بري يم له هغو جرمونو نه چې تاسو يې کوئ ـ

## قصّه نوح علیه السلام

### سُوْرَة هود ۱۱، آیت: ۳۶ تا ۴۰

| |
|---|
| وَاُوْحِیَ اِلٰی نُوْحٍ اَنَّهٗ لَنْ یُّؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ |
| او نوح علیه السلام ته وحي وکړے شوه چې بېشکه شان دا دے چې ستا له قومه به (څوك هم) ایمان را نۀ وړي |
| اِلَّا مَنْ قَدْ اٰمَنَ فَلَا تَبْتَىِٕسْ بِمَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝٣٦ |
| غېر له هغو کسانو چې ایمان یې راوړے دے، نو مۀ غمژن کېږه په هغو کارونو چې دوي یې کوي ـ |
| وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِىْ فِى الَّذِيْنَ |
| او زمونږ د سترګو په وړاندې او زمونږ د وحي مطابق بېړی جوړه کړه او د هغو کسانو په باره کښې له ما سره خبرې مۀ کوه |
| ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ۝٣٧ وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ ۣ |
| چې ظلم (شرك) یې کړے دے، بېشکه دوي غرقېدونکي دي ـ او هغه (نوح علیه السلام) بېړی جوړوله، |
| وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَاٌ مِّنْ قَوْمِهٖ سَخِرُوْا مِنْهُ ۭ |
| په داسې حال کښې چې کله به هم په دۀ باندې دۀ له قومه څۀ مشران تېرېدل (نو) په دۀ پورې به یې مسخرې کولې |
| قَالَ اِنْ تَسْخَرُوْا مِنَّا فَاِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ |
| هغه اوئیل: که تاسو په مونږ پورې مسخرې کوئ، نو بېشکه مونږ به هم په تاسو پورې مسخرې وکړو، |
| كَمَا تَسْخَرُوْنَ ۝٣٨ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ |
| لکه څنګه چې تاسو مسخرې کوئ ـ نو زر به تاسو هغه څوك وپېژنئ چې ورته به داسې عذاب راشي |
| يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۝٣٩ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءَ اَمْرُنَا |
| چې هغه به رسوا کړي او په دۀ باندې به دائمي عذاب راکوز شي ـ تر هغه پورې چې کله زمونږ حکم راغے |
| وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ قُلْنَا احْمِلْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ |
| او تنور راوخوټکېدۀ، مونږ اوئیل: په دې (بېړی) کښې له هر قسمه نه جوړه دوه دوه سوارۀ کړه او خپل اهل هم، |
| اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ اٰمَنَ ۭ |
| (خو) له هغه چا نه پرته چې په هغۀ باندې خبرې سبقت کړے دے. او هغه څوك هم (سوارۀ کړه) چې ایمان یې راوړے دے |
| وَمَآ اٰمَنَ مَعَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلٌ ۝٤٠ |
| او له دۀ سره ایمان نۀ ؤ راوړے مګر ډېرو لږو (خلقو) ـ |

## قصّه نوح عليه السلام

### سُوْرَة هود۱۱، آيت ۴۱: تا ۴۴

| |
|---|
| وَقَالَ ارْكَبُوْا فِيْهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا ۭ |
| او هغه اوئيل: په دي کښې سوارۀ شئ (او وايئ) د الله په نامه سره د دې روانېدل او د دې ودرېدل دي، |
| اِنَّ رَبِّيْ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۴۱ وَهِىَ تَجْرِيْ بِهِمْ فِيْ مَوْجٍ كَالْجِبَالِ ۣ |
| بېشکه زما رب يقينًا ډېر بخښونکے، بې حده رحم کونکے دے ـ دې به دوي په داسې چپو کښې وړل لکه غرونه |
| وَنَادٰي نُوْحُۨ ابْنَهٗ وَكَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ |
| او نوح عليه السلام خپل زوے ته اواز وکړو په داسې حال کښې چې هغه په يوې غاړه کښې ؤ: اے زما بچوړيه! |
| ارْكَبْ مَّعَنَا وَلَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ۴۲ قَالَ سَاٰوِيْٓ اِلٰى جَبَلٍ |
| زمونږ سره راسور شه او له کافرانو سره مۀ کېږه ـ هغۀ اوئيل: زر به زۀ د داسې غرۀ په سر کښې ځاے ونيسم |
| يَّعْصِمُنِيْ مِنَ الْمَاۗءِ ۭ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ |
| چې ما به له اوبو نه بچ کړي، هغۀ (نوح ﷺ) اوئيل: نن ورځ د الله له حکم نه هيڅوك ساتونکے (بچ کوونکے) نشته |
| اِلَّا مَنْ رَّحِمَ ۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ ۴۳ |
| مګرهغه چې دغه (الله) پرې رحم وکړي او د دواړو په مېنځ کښې چپه حائله شوه،نو دے شه د غرق کړے شوو نه ـ |
| وَقِيْلَ يٰٓاَرْضُ ابْلَعِيْ مَاۗءَكِ وَيٰسَمَاۗءُ اَقْلِعِيْ وَغِيْضَ الْمَاۗءُ |
| او اوئيل شو: اے زمکې! خپلې اوبۀ راکاږه (جذب کړه) او اے اسمانه! اوبۀ ورول بند کړه او اوبۀ کمې کړے شوې |
| وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَي الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۴۴ |
| او کار پوره کړے شو او هغه (بېړۍ) په جودي غر ودرېده او اوئيل شو لرې والے دې وي (له رحمت نه) د ظلم کوونکو خلقو لپاره ـ |

### آيا تاسو پوهېږئ؟

چې هر رسول نبی وي ليکن هر نبی رسول نۀ وي ـ رسول عمومًا هغه خاص بنده وي چې هغۀ ته الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی نوے کتاب يا شريعت (احکامات) ورکړي وي ـ

# اَهمي نكتي

## قصّه نوح عليه السلام

### سُوْرَة هود ۱۱، آيت: ۴۵تا ۴۹

| |
|---|
| وَنَادٰى نُوۡحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابۡنِىۡ مِنۡ اَهۡلِىۡ |
| او نوح عليه السلام خپل رب ته اواز (سوال) وکړو، نو وي وئيل: اے زما ربه! بېشکه زما زوے زما له اهله دے |
| وَاِنَّ وَعۡدَكَ الۡحَـقُّ وَاَنۡتَ اَحۡكَمُ الۡحٰكِمِيۡنَ ۰۰۴۵ قَالَ يٰنُوۡحُ اِنَّهٗ |
| او بېشکه هم ستا وعده حقه ده او ته تر ټولو ښۀ فېصله کونکے يې – وي وئيل: اے نوحه! بېشکه هغه (ستا زوے) |
| لَـيۡسَ مِنۡ اَهۡلِكَ ۚ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَيۡرُ صَالِحٍ ۖ فَلَا تَسۡـئَلۡنِ مَا |
| ستا له (مؤمن) اهله څيني نۀ دے، بېشکه هغه (خاوند د) ناکاره عمل دے، نو له ما نه د هغۀ څيز سوال مۀ کوه |
| لَـيۡسَ لَكَ بِهٖ عِلۡمٌ ؕ اِنِّىۡۤ اَعِظُكَ اَنۡ تَكُوۡنَ مِنَ الۡجٰهِلِيۡنَ ۰۰۴۶ |
| چې تا ته د هغۀ په باره کښې څۀ علم نۀ وي،بېشکه زۀ تا ته له دې نه نصيحت کوم چې تۀ نۀ شې له جاهلانو – |
| قَالَ رَبِّ اِنِّىۡۤ اَعُوۡذُ بِكَ اَنۡ اَسۡـئَلَكَ مَا |
| هغه اوئيل: اے زما ربه! بېشکه زۀ په تا پورې پناه نيسم له دې نه چې له تا نه د هغۀ څۀ سوال وکړم |
| لَـيۡسَ لِىۡ بِهٖ عِلۡمٌ ؕ وَاِلَّا تَغۡفِرۡ لِىۡ وَتَرۡحَمۡنِىۡۤ اَكُنۡ مِّنَ الۡخٰسِرِيۡنَ ۰۰۴۷ |
| چې ما ته د هغۀ په باره کښې څه علم نۀ وي او که تۀ ما ته بخښنه و نۀ کړې او په ما رحم و نۀ کړې (نو) شم به زۀ له تاوانيانو نه – |
| قِيۡلَ يٰنُوۡحُ اهۡبِطۡ بِسَلٰمٍ مِّنَّا وَبَرَكٰتٍ عَلَيۡكَ |
| اوئيل شو: اے نوحه! کوز شه په سلامتۍ سره زمونږ له طرفه او سره د هغو برکتونو چې په تا باندې دي |
| وَعَلٰٓى اُمَمٍ مِّمَّنۡ مَّعَكَ ؕ وَاُمَمٌ سَنُمَتِّعُهُمۡ |
| او په څو ډلو باندې له هغو څيني چې له تا سره دي او نورې ډلې دي چې زر به مونږ هغوی ته نفع ورکړو، |
| ثُمَّ يَمَسُّهُمۡ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۰۰۴۸ تِلۡكَ مِنۡ اَنۡۢـبَآءِ الۡغَيۡبِ نُوۡحِيۡهَاۤ اِلَيۡكَ ۚ |
| بيا به هغوی ته زمونږ له جانبه ډېر دردونکے عذاب ورسېږي – دغه د غېبو له خبرونو څيني دي چې مونږ يې تا ته وحې کوو، |
| مَا كُنۡتَ تَعۡلَمُهَاۤ اَنۡتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِنۡ قَبۡلِ هٰذَا ۛ فَاصۡبِرۡ ۛ اِنَّ الۡعَاقِبَةَ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ۰۰۴۹ |
| له دې نه مخکښې نۀ تۀ په دې عالِم وې او نۀ ستا قوم، نو صبر کوه، بېشکه ښۀ انجام د پرهېزګارانو لپاره دے – |

## اَهمي نڪتي

# قصّه نوح عليه السلام

## سُوْرَة الشعراء ۲۶، آيت: ۱۰۵تا ۱۱۵

| |
|---|
| كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوْحِ الْمُرْسَلِيْنَ ۱۰۵ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ |
| د نوح عليه السلام قوم د رسولانو تکذيب وکړو ـ کله چې دوي ته د دوي ورور نوح عليه السلام اوئيل: |
| اَلَا تَتَّقُوْنَ ۱۰۶ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۱۰۷ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۱۰۸ |
| **أيا تاسو نۀ ويرېږئ! ـ بېشکه زۀ تاسو ته امانتګر رسول يم ـ نو تاسو له الله نه ويرېږئ او زما اطا□ت وکړئ ـ** |
| وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۱۰۹ |
| او زۀ له تاسو نه په دې (تبليغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نۀ غواړم، نۀ دے اجر زما مګر په رب العلمين باندې ـ |
| فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۱۱۰ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ۱۱۱ |
| نو تاسو له الله نه ويرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ هغوی اوئيل: أيا مونږ په تا ايمان راوړو! حال دا چې ستا پېروي تر ټولو رذيلو خوارو خلقو کړې ده ـ |
| قَالَ وَمَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۱۱۲ اِنْ حِسَابُهُمْ اِلَّا |
| نوح عليه السلام اوئيل: او ما ته څه علم دے په هغۀ څۀ چې دوي يې کوي ـ نۀ دے د دوی حساب مګر |
| عَلٰى رَبِّيْ لَوْ تَشْعُرُوْنَ ۱۱۳ وَمَآ اَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۱۱۴ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۱۱۵ |
| زما په رب باندې، که تاسو پوهېږئ ـ او زۀ له سره دې مومنانو لره شړونکے نۀ يم ـ زۀ نۀ يم مګر ښکاره ويرونکے ـ |

### □ملي خبره:

مونږ له دا کوشش کول پکار دي چې دَ خپل اصلاح سره سره دَ خپل اهل وعيال او دَ دوستانو احبابو پورې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى پېغام خپرخواهى دَ جذبې سره ورسوو او د دې سره دا يقين کول چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى تابعداري او دَ هغۀ دَ رسول ﷺ په اطاعت او اتباع کښې دَ دواړو جهانو کاميابي ده ـ

## قصّه نوح علیه السلام

سُوْرَۃ الشعراء ۲۶، آیت: ۱۱۶تا۱۲۲

| |
|---|
| قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ۝۱۱۶ |
| دوی اوئیل: اے نوحه! قسم دے که ته وا نه وښتي (نو) خامخا هرومرو به ته له سنگسار کړے شوو ځینې شي ـ |
| قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ۝۱۱۷ فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ |
| هغهٔ اوئیل: اے زما ربه! بېشکه زما قوم زما تکذیب وکړو ـ نو ته زما په مینځ کښې او د دوی په مېنځ کښې فېصله وکړه |
| فَتْحًا وَّنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝۱۱۸ |
| واضحه فیصله او ته ما ته نجات راکړه او هغهٔ چا ته چې له ما سره کوم مؤمنان دي ـ |
| فَأَنجَيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ۝۱۱۹ |
| نو موږ نجات ورکړو هغهٔ ته او هغهٔ چا ته چې له دهٔ سره په ډکه کشتي کښې وو ـ |
| ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ ۝۱۲۰ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۚ |
| بیا موږ له دې نه پس باقي خلق غرق (ډوب)کړل ـ بېشکه په دې کښې خامخا لویه نښه ده ، |
| وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ۝۱۲۱ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝۱۲۲ |
| او د دوی زیاتره مؤمنان نه وو ـ او بېشکه ستا رب خامخا همغه ډیر غالب، بې حده رحم کوونکے دے ـ |



## دَ علم او

۱ ـ رسول دَ قومونو [illegible] ايږولے شي د دي د پاره چې خلق دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عذاب نه بچ شي ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آيت: ۵۹ ،سُوْرَة هود،آيت : ۲۵)

۲ ـ ټول انبياء کِرام عليهم السلام دَ يو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت طرف ته بلل کول او دَ شرک نه يې منع کوله ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آيت: ۵۹،سُوْرَة آيت : ۲۶)

۳ ـ عام طور باندې به دَ قام دَ اصلاح کار په بهتر انداز سره د دې قام يو فرد کولو ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آيت: ۵۹تا۶۳،سُوْرَة الشعراء آيت: ۱۰۶)

۴ ـ رسولانو همېشه د پاره دَ خلقو مخالفت برداشت کړلو، ليکن دَ حق دَ خبرې نه وا نهٔ اوړېدل ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آيات: ۶۰ تا ۶۱)

۵ ـ دَ کافرو سرداران دَ خپل ځان سره خپل پېروي کونکي هم ډوبې او نيکان دَ خپلو پېروي کونکو دَ جنت دَ بوتللو سبب جوړېږي ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آيت: ۶۴،سُوْرَة هود آيت: ۳۲)

۶ ـ قومِ نوح، نوح عليه السلام لره دروغژن کړلو، نو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ دروغو والو لره د دوي ټول خلق دَ طوفان په عبرتناک عذاب سره هلاک کړل او مونږ ته د دوي دَ غلط انجام نه سبق حاصل شو ـ (سُوْرَة الاعراف۷، آيات: ۶۴،سُوْرَة الشعراء،آيت: ۱۲۱)

۷ ـ کافر په مالي اعتبار سره په کمزورو ايمان والو پسې همېشه ټوقې کوي ـ (سُوْرَة هود، آيت: ۲۷، سُوْرَة الشعراء،آيت: ۱۱۱)

۸ ـ مونږ لره دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی احکام او دينِ اسلام طرف ته رابلونکي دَ هغهٔ محبوب او مقرَّب بندګانو قدر کول پکا ر دي ـ (سُوْرَة هود، آيت: ۱۰۸تا۱۱۰)

۹ ـ دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په نزد اصل اهميت دَ ايمان او پرهېزګارۍ دے مونږه لره دا د دې ټولو نه قيمتي دولت ګڼړل پکار دي ـ (سُوْرَة هود، آيت: ۳۱،۳۰)

۱۰ ـ کافرانولره دَ يو نېک کس رشته داري يا تعلق دَ الله دَ عذابه نهٔ شي بچ کولے او مسلمانانو لره دَ نيکو خلقو تعلّق او رشته داري فائده رسوي ـ (سُوْرَة هود، آيت: ۴۶،۴۳،۴۰)

## ځان پوهه کړئ او حل ئې کړئ

**۱ــ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحیح جملې سره کرښه ولګوئ:**

| کالم (ب) | کالم (الف) |
| --- | --- |
| کافر سوارۀ نۀ شو | په دنیا کښې دَ بت پرستۍ آغاز |
| څو خلقو ایمان راوړلو | ﷲ سُبْحَانَهٗ وَتعَالٰی نوح علیه السلام ته |
| دَ کشتۍ جوړولو حکم وکړلو | دَ نوح علیه السلام په کشتۍ کښې |
| دَ ﷲ سُبْحَانَهٗ وَتعَالٰی نه ویرېږ ئ او زما اطاعت وکړئ | دَ نوح علیه السلام په |
| دَ نوح علیه السلام دَ قام نه شوے ؤ ــ | |

**۲ ــ خالي ځایونه ډک کړئ:**

(۱) نوح علیه السلام اولنے________________ؤ ــ

(۲) دَ آدم علیه السلام نه وروسته ډېر وخته پورې دَ هغه اولاد____________ قائم ؤ ــ

(۳) دَ نوح علیه السلام قام پنځۀ ____________جوړ کړۀ او په خپلو عبادت ګاهونو کښې یې کېښودل ــ

(۴) نوح علیه السلام په قام باندې____________ په صورت کښې عذاب راغلے ــ

(۵)ﷲ سُبْحَانَهٗ وَتعَالٰی دَ نوح علیه السلام په کشتۍ کښې سوارۀ ____________ محفوظ کړل ــ

**۳ ــ دَ لاندې لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:**

۱ــ دَ نوح علیه السلام متعلق څۀ درې۳ خبرې ولیکئ ــ

________________________________________

____________________

________________________________________

____________________

۲ ــ رسول چا ته وائي؟

۳ ــ شرک څهٔ ته وائي؟

۴ ــ دَ نوح عليه السلام قوم چې کوم بُتان جوړ کړي وو دَ هغو نومونه وليکئ؟

۵ ــ دَ نوح عليه السلام قام دَ نوح عليه السلام ګستاخي وکړه څهٔ يې اوئيل ؟

۴ــ په لاندې ليکلي شوي جملو باندې صحيح (✓) يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| شمېره | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | نوح عليه السلام خپل قام صرف په شپه کښې پوهه کولو ــ | | |
| ۲ | دَ ټولو نه مخکښې په دنيا کښې دَ بت پرستۍ آغاز دَ هود عليه السلام قوم کړے | | |
| ۳ | الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ دَ نوح عليه السلام دړې زامن دَ عذاب نه بچ کړل | | |
| ۴ | دَ نوح عليه السلام نه وروسته انساني نسل دَ هغهٔ دَ درې زامنو نه روان شو د دې وجې نه نوح عليه السلام ته "آدم ثاني" وائي ــ | | |

۵ دَ نوح علیه السلام دَ قیصې متعلق لاندې لیکلي شوي الفاظ په لاندې خانو کښې ولیکئ:

آدم ثاني، درې بتان، دَ جودي غر ځوکه، دوه زامن، دَ بتانو تعظیم (عبادت)، نهه سوه پنځوس (۹۵۰) کاله،عراق، دعوت دین، دَ کانړو باران، یمن، دَ خلقو مذاق ټوقې کول، دَ مرغو جوړې، غریب ایمان والا




**معلوم کړئ:** دردناکه ورځ، واضح دلیل، رحمت نهٔ لیدلے کیدلو، دَ لویې ورځې عذاب او دَ دروغو کولو وضاحت دَ خپلو استاذه کِرامو نه معلوم کړئ ـ

راځئ!چي خپله جائزه واخلو:

| شمېره | اعمال | آوجي | کافي حده پوري | څه حده پوري | اراده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آيا مونږه دَ شرک نه دَ بچ کيدلو کوشش کوو؟ | | | | |
| ۲ | آيا مونږه نورو لره دين طرف ته دعوت ورکوو؟ | | | | |
| ۳ | آيامونږه خلقو لره دَ ګناه نه دَ بچ کولو کوشش کوو؟ | | | | |
| ۴ | آيا مونږه دَ خلقو په رارسيدونکو تکليفونو باندي صبرکوو؟ | | | | |
| ۵ | آيا مونږه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ نبی ﷺ په نافرمانی باندي دَ عذابِ الٰهي نه ويريږو؟ | | | | |
| ۶ | آيا مونږه په خپلو معاملاتو کښي دَ امانتداری خيال ساتو؟ | | | | |
| ۷ | آيامونږه دَ دين په دعوت کښي د دي خبرو لحاظ لرو چي کومي انبياءکِرام عليهم السلام اختيار کړي؟ | | | | |
| ۸ | آيا مونږه داسي خلق بدګڼو چي په څۀ کار کولو والا پسي توقع کوي؟ | | | | |
| ۹ | آيا مونږه دَ انبيآء کِرام عليهم السلام په سيرت باندي دَ عمل کولو کوشش کوو؟ | | | | |
| ۱۰ | آيا مونږه نيک کار صرف دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى دَ راضي کولو د پاره کوو؟ | | | | |

سو چ وکړئ!!! ته په څه پريشانی کښي مبتلا شوے يې، که دَ ټولو کوششونو باوجود هغه پريشاني لري نۀ شي، نو په داسي صورت کښي به ته څه کوي؟

## کورنی سرګرمي

- دَ نوح عليه السلام واقعه خپلو خوېندو او ورونو ته واوروئ په حاصل شوي سبق باندي خبري اتري وکړئ ـ
- په طوفان کښي دَ غورځولي شوي يوي کِشتی خاکه جوړه کړئ او د دي په باره کښي کم ازکم پنځۀ جملي وليکئ ـ
- په قرآنِ حکيم کښي دَ ډيرو ځناورو نومونه راغلي دي دَ هغوي نه دَ پنځۀ حيواناتو نومونه تلاش کړئ او دَ هغو جوړي وليکئ ـ

## قصّه هود عليه السلام

### د هود عليه السلام او د قام عاد پېژندګلو

هود علیه السلام دَ نوح علیه السلام زوې دَ سام دَ نسل نه دے ـ دَ قام نوم"عاد" ؤ چې د دې آغاز دَ نوح علیه السلام په قام باندې په راتلونکې طوفان کښې بچ شوو خلقو نه ؤ ـ دا قام دَ سمندر په غاړه باندې دَ شګو په ډېرکو والا علاقه په "احقاف" کښې آباد وو ـ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دوی ته غټ غټ اوږدهٔ بدنونه،ډېر مال او اولاد ورکړے ؤ ـ هغو دَ اوږدو اوږدو ستنو والا محلونه جوړول ـ دوی ته "قام ارم" هم وائې، دوی دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شکر ادا کولو په ځاے تکبر وکړلو او وئیل یې چې زمونږ نه دَ زیات طاقت او قوّت والا څوک نشته؟ دا خلق دَ یو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عبادت کولو والا وو لیکن په دمه دمه په شرک کښې مبتلا شو او د بتانو عبادت یې شروع کړلو ـ

## دعوتِ توحید

اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی د قام عاد د اصلاح د پاره هود علیه السلام رسول راولیږلو ـ هود عَلَیْهِ السَّلام خپل قام ته دَ یو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عبادت دعوت ورکړلو ـ هود علیه السلام خلق دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی سره دَ شرک نه منع کړل ـ

## دَ قام ردِّ عمل

د هود علیه السلام په دعوتِ توحید باندې د قام کافرو سردارانو هود علیه السلام ته اوئیل چې "ته په بېوقوف توب کښې یې او مونږ تا دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی رسول نهٔ منو (معاذالله) ـ دَ هود علیه السلام قام هود علیه السلام دَ عام انسان پشان ګڼړلو ـ څهٔ خاص او مقدَّس انسان ئې نهٔ ګڼړلو ـ ګویا دَ دوی په خیال کښې انسان رسول نهٔ کېدلو، نو دې خلقو دَ هود علیه السلام دَ رسالت نه انکار وکړلو او دَ خپل ځان سره یې خپل قام هم ګمراه کړلو ـ

## په کافرانو باندې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عذاب

خپلو بدو او کفر نه واپس نهٔ شو او دوی دَ هود علیه السلام خبره و نهٔ منله، نو اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په دوی باندې دَ وریځې په صورت کښې عذاب راولېږلو ـ قام چې کله وریځ ولیدله، نو خوشحاله شو او وئېل یې چې اوس به باران وشي ـ هود علیه السلام اوفرمائل چې دا دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی عذاب دے لیکن قام د دې وریځ په لیدلو باندې خوشحالي مناووله، تردې پورې چې دَ اللهسُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی دَ عذاب سخت طوفان راغلے چې اتهٔ (۸) ورځو او اووهٔ (۷) شپو پورې مسلسل چلېدلو ـ ټول کافر قام په دې طوفان کښې هلاک شو ـ دغه تیزه هوا چې په کوم څیز باندې به ورغله، نو هغه به یې ریزه ریزه کولو ـ دې تیزې هوا دوی داسې اوچت کړل او ګوزار یې کړل لکه دَ کهجورو دَ تنو پشان ـ دغهٔ د رنګې دوی دَ تکبر او کفر دَ وجې نه په دنیا

کښي په دوي باندي عذاب نازل شو او په آخرت به هم دوي ته سزا ورکړے شي ـ

## په ایمان والو باندي رحمت

الله سبحانه وتعالی هود علیه السلام او په هغه باندې ایمان راوړونکو والا په خپل خاص فضل او رحمت سره دَ تیزي هوا دَ عذاب نه بچ کړل ـ دَ عذاب نه بچ کېدلو والا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی شکر ادا کړلو او دَ خپل قام په غلط انجام باندي افسوس وکړلو ـ دا ټول خلق بیا دَ شام او مَدیَن په درمیاني علاقې ته راغلل آباد شو ـ

**فرمانِ نبوی صلی الله علیه وسلم:** "مسلمان دَ مسلمان ورور دے،دا به نهٔ په دي باندي ظلم کوي او نهٔ به یې په هلاکت کښي غورځوي ـ کوم مسلمان چي دَ بل مسلمان ورور ضرورت پوره کړي، نو الله (سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی ) به د دي ضرورت پوره کړي ـ (صحیح بخاری،صحیح مسلم )

نقشه

دَ هود علیه السلام او دَ قام عاد مقام
په ساحل (غاړه) د سمندر باندي د شګو په ډیرکو والا علاقه په احقاف کښي آباد ده ـ

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ....بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زهٔ د الله په پناه کښي راځم د شیطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چي لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے ـ |
| وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ |
| او (مونږ لېږلے ؤ) عاد (قام) ته د هغوی ورور هود، هغهٔ اوئېل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ، |
| مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ٦٥ قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖۤ |

| |
|---|
| **تاسو لپاره له هغهٔ نه سېوا (بل) هېڅ برحق معبود نشته، اٌیا نو تاسو نهٔ وېرېږئ! د هغهٔ د قوم کافرو سردارانو اوئیل** |
| اِنَّا لَنَرٰىكَ فِیْ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكٰذِبِیْنَ ٦٦ |
| بېشکه مونږ خامخا تا په بېوقوفۍ کښې وینو او بېشکه مونږ خامخا په تا گمان کوو له دروغژنو څخه ـ |
| قَالَ یٰقَوْمِ لَیْسَ بِیْ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّیْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِیْنَ ٦٧ |
| هغهٔ اوئیل: اے زما قومه! په ما کښې هېڅ بېوقوفي نشته او لېکن زهٔ د رب العلمین رسول یم ـ |
| اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّیْ وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِیْنٌ ٦٨ |
| زهٔ تاسو ته د خپل رب پېغامونه در رسوم او زهٔ ستاسو لپاره خېرخواه، امانت دار یم ـ |
| اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ |
| اٌیا تاسو په دې تعجب کوئ چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نصیحت راغے په داسې سړي باندې چې له هم ستاسو څخه دے، |
| لِیُنْذِرَكُمْ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ |
| د دې لپاره چې تاسو وېروي او تاسو هغه وخت رایاد کړئ کله چې یې تاسو له نوح نه پس خلیفه گان (ځاے ناستي) جوړ کړئ |
| وَّزَادَكُمْ فِی الْخَلْقِ بَصْۜطَةً فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ٦٩ |
| او تاسو ته یې په تخلیق کښې زیات فراخ والے درکړو، نو تاسو د ﷲ نعمتونه یادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ ـ |

# قصَّه هود علیه السَّلام

سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۷۰تا۷۲

| |
|---|
| قَالُوٓا اَجِئۡتَنَا لِنَعۡبُدَ اللّٰهَ وَحۡدَهٗ وَنَذَرَ مَا |
| هغوی اوئیل: آیا ته د دې لپاره مونږ ته راغلې یې چې مونږ د یو الله عبادت وکړو او هغه معبودان پرېږدو |
| كَانَ يَعۡبُدُ اٰبَآؤُنَا ۚ فَاۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنۡ كُنۡتَ مِنَ الصّٰدِقِيۡنَ ۰۰۷۰ |
| چې زمونږ پلارونو یې عبادت کاوۀ، نو هغه (عذاب) راوله چې ته مونږ په هغۀ سره وېروې، که چرې ته له رښتینو څخه یې ـ |
| قَالَ قَدۡ وَقَعَ عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ رِجۡسٌ وَّغَضَبٌ ؕ اَتُجَادِلُوۡنَنِىۡ |
| هغه اوئیل: یقینًا په تاسو باندې د خپل رب له جانبه عذاب او غضب ثابت شو، آیا تاسو زما سره |
| فِىۡۤ اَسۡمَآءٍ سَمَّيۡتُمُوۡهَاۤ اَنۡتُمۡ وَاٰبَآؤُكُمۡ مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنۡ سُلۡطٰنٍ ؕ |
| په هغو نومونو کښې جګړه کوئ چې هغه تاسو پخپله او ستاسو پلارانو نوملي دي، د الله د هغو په باره کښې هېڅ دلیل نۀ دے نازل کړے، |
| فَانْتَظِرُوۡۤا اِنِّىۡ مَعَكُمۡ مِّنَ الۡمُنۡتَظِرِيۡنَ ۰۰۷۱ |
| نو تاسو انتظار کوئ، بېشکه زۀ تاسو سره له انتظار کوونکو څخه یم ـ |
| فَاَنۡجَيۡنٰهُ وَالَّذِيۡنَ مَعَهٗ بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا |
| نو مونږ هغه (هود عليه السلام) ته او هغو کسانو ته چې له دۀ سره یې ایمان راوړے ؤ، په خپل رحمت سره نجات ورکړو |
| وَقَطَعۡنَا دَابِرَ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَمَا كَانُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ۰۰۷۲ |
| او د هغو کسانو جرړه (بېخ) مو غوڅه کړه چا چې زمونږ ایاتونه دروغ ګڼړلي وو او هغوي له سره مؤمنان نۀ وو ـ |

**آیا تاسو پوهېږئ**

شداد بن اوس دَ قام عاد بادشاه ؤ ـ دې دَ جنت ذکر واورېدلو، په خپله ئې دَ جنت دَ جوړولو فېصله وکړله ـ لېکن چې کله د دې تعمیر مکمَّل شو، نو د دې لیدلو نه مخکښې الله دا او د دې ټول فوغ هلاک کړلو او د دې خلقو شاندار محلات یې هم هلاک کړل ـ

## قصّه هود علیه السَّلام

سُوْرَة هود ١١، آیت: ٥٠ تا ٥٥

| |
|---|
| وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ |
| او (مونږ لېږلے ؤ) قام عاد ته د هغوي ورور هود علیه السلام، هغه اوئیل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ |
| مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۚ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا مُفْتَرُوْنَ ٠٠٥٠ يٰقَوْمِ |
| تاسو لپاره له هغه نه غېر هېڅ حق معبود نشته، نه ئې وئ تاسو مګر دروغ تړونکي ـ اے زما قامه! |
| لَآ اَسْــَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى الَّذِيْ فَطَرَنِيْ ۚ |
| زۀ له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې څۀ مزدوري نۀ غواړم، زما اجر نۀ دے مګر په هغۀ ذات چې زۀ یې پېدا کړے یم، |
| اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ٠٠٥١ وَيٰقَوْمِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ |
| آیا نو تاسو له عقل نه کار نۀ اخلئ ـ او اے زما قامه! له خپل رب نه مغفرت اوغواړئ، بیا هغۀ ته رجوع وکړئ، |
| يُرْسِلِ السَّمَاۗءَ عَلَيْكُمْ مِّدْرَارًا وَّيَزِدْكُمْ قُوَّةً اِلٰى قُوَّتِكُمْ |
| هغه به په تاسو باندې باران راخوشې کړي، چې په شېبو شېبو به وریدونکے وي او ستاسو قوت ته به (نور) قوت ور زیات کړي |
| وَلَا تَتَوَلَّوْا مُجْرِمِيْنَ ٠٠٥٢ قَالُوْا يٰهُوْدُ |
| او تاسو (له ایمان او توبې نه) مخ مۀ ګرځوئ، په دې حال کښې چې مجرمان ئې وئ ـ هغوی اوئیل: اے هوده! |
| مَا جِئْتَنَا بِبَيِّنَةٍ وَّمَا نَحْنُ بِتَارِكِيْٓ اٰلِهَتِنَا عَنْ قَوْلِكَ وَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ٠٠٥٣ |
| تا مونږ ته څه واضح دلیل نۀ دے راوړے اوستا د وینا له وجې مونږ هېڅ کله هم خپل خدایان پرېښودونکي نۀ یو |
| اِنْ نَّقُوْلُ اِلَّا اعْتَرٰىكَ بَعْضُ اٰلِهَتِنَا بِسُوْۗءٍ ۚ |
| او هېڅ کله هم مونږ په تا ایمان راوړونکي نۀ یو ـ (ستا په باره کښې) مونږ یواځې هم دا وایو چې تا ته زمونږ ځینې خدایانو څۀ ضرر در رسولے دے، |
| قَالَ اِنِّىْٓ اُشْهِدُ اللّٰهَ وَاشْهَدُوْٓا اَنِّىْ بَرِيْۗءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ٠٠٥٤ |
| هغۀ اوئیل: بېشکه زۀ الله ګواه کوم او تاسو (هم) ګواه شئ چې یقینًا زۀ له هغو (خدایانو) نه بېزاره یم چې تاسو یې شریکان کوئ ـ |
| مِنْ دُوْنِهٖ فَكِيْدُوْنِيْ جَمِيْعًا ثُمَّ لَا تُنْظِرُوْنِ ٠٠٥٥ |
| غېر له هغه (الله) نه، نو تاسو ټول ما ته تدبیرونه جوړ کړئ، بیا ما ته مهلت مۀ راکوئ ـ |

# اَهمي نكتي

# قصّه نوح عليه السلام

## سُوْرَة هود۱۱، آیت:۵۶ تا ۶۰

| |
|---|
| اِنِّیۡ تَوَکَّلۡتُ عَلَی اللّٰہِ رَبِّیۡ وَ رَبِّکُمۡ ؕ مَا مِنۡ دَآبَّۃٍ |
| بېشکه ما په الله باندې توکل کړے دے چې زما رب دے او ستاسو رب دے، نشته هيڅ يو ژونده سرے |
| اِلَّا ہُوَ اٰخِذٌۢ بِنَاصِیَتِہَا ؕ اِنَّ رَبِّیۡ عَلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۵۶﴾ |
| مگر هم دغه (الله) د هغۀ وچولي (د تندي وېښتانو) لره نيونکے دے، بېشکه زما رب په نېغه لار دے ـ |
| فَاِنۡ تَوَلَّوۡا فَقَدۡ اَبۡلَغۡتُکُمۡ مَّاۤ اُرۡسِلۡتُ بِہٖۤ اِلَیۡکُمۡ ؕ |
| نو که تاسو مخ واړوئ، نو يقيناً ما تاسو ته هغه (پېغام) در ورسولو چې زۀ په هغۀ سره تاسو ته رالېږلے شوے ووم، |
| وَ یَسۡتَخۡلِفُ رَبِّیۡ قَوۡمًا غَیۡرَکُمۡ ۚ وَ لَا تَضُرُّوۡنَہٗ شَیۡئًا ؕ |
| او زما رب به له تاسو نه غېر بل قام ستاسو په ځاے راولي او تاسو به هغه (الله) ته هيڅ ضرر و نۀ رسولے شئ، |
| اِنَّ رَبِّیۡ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ حَفِیۡظٌ ﴿۵۷﴾ وَ لَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا |
| بېشکه زما رب په هر شي باندې ښۀ نگران او ساتونکے دے ـ او کله چې زمونږ حکم (عذاب) راغے |
| نَجَّیۡنَا ہُوۡدًا وَّ الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَہٗ بِرَحۡمَۃٍ مِّنَّا ۚ |
| (نو) مونږ هود عليه السلام ته او هغو کسانو ته چې له هغۀ سره يې ايمان راوړے ؤ له خپل طرف نه په رحمت سره نجات ورکړو |
| وَ نَجَّیۡنٰہُمۡ مِّنۡ عَذَابٍ غَلِیۡظٍ ﴿۵۸﴾ وَ تِلۡکَ عَادٌ ۟ۙ جَحَدُوۡا بِاٰیٰتِ رَبِّہِمۡ |
| او مونږه دوی له ډېر سخت عذاب نه خلاص کړل ـ او دغه عاديان دي چې د خپل رب له اياتونو نه يې انکار کړے ؤ |
| وَ عَصَوۡا رُسُلَہٗ وَ اتَّبَعُوۡۤا اَمۡرَ کُلِّ جَبَّارٍ عَنِیۡدٍ ﴿۵۹﴾ |
| او د هغه (الله) د رسولانو نافرماني يې کړې وه او د هر سرکشه عنادي د حکم تابع شوي وو ـ |
| وَ اُتۡبِعُوۡا فِیۡ ہٰذِہِ الدُّنۡیَا لَعۡنَۃً وَّ یَوۡمَ الۡقِیٰمَۃِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ عَادًا |
| او په دوی پسې په دې دنيا کښې لعنت ولگولے شو او د قيامت په ورځ هم، خبردار شئ! بېشکه عاديان |
| کَفَرُوۡا رَبَّہُمۡ ؕ اَلَا بُعۡدًا لِّعَادٍ قَوۡمِ ہُوۡدٍ ﴿۶۰﴾ |
| په خپل رب سره کافران شوي دي، خبردار شئ چې (د الله له رحمت نه) لرې والے دے، عاديانو ته چې د هود عليه السلام قام دے ـ |

**عملي خبره**: مونږ لره دَ استغفار او توبې په کثرت سره اهتمام کول پکار دي ـ په دې دنيا کښې به هم په رزق کښې خېر و برکت او خوشحالي راځي چې د دې دَ تولو نه لويه فائده داده چې الله سُبْحَانَهٗ وَتَعَالیٰ د دې بنده نه راضي شي ـ

## اَهمي نكتي

## قصّه نوح علیه السلام

### سُوْرَة الشعراء ۲۶، آیت:۱۲۳تا۱۳۱

| |
|---|
| كَذَّبَتْ عَادُ ۨالْمُرْسَلِيْنَ ۝۱۲۳ۚ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝۱۲۴ۚ |
| عادیانو د رسولانو تکذیب وکړو ـ کله چې دوی ته د دوی ورور هود عَلَيْهِ السَّلَامُ اوئیل: آیا تاسو نهٔ ویرېږئ! ـ |
| اِنِّىْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝۱۲۵ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۲۶ۚ |
| بېشکه زهٔ تاسو ته امانتګر رسول یم ـ نو تاسو له الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ |
| وَمَآ اَسْـَٔـلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۲۷ۭ |
| او زهٔ له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر (عوض) نهٔ غواړم، زما اجر نهٔ دے مګر په رب العلمین باندې ـ |
| اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ۝۱۲۸ |
| آیا تاسو په هر اوچت ځاے یوه نښه (لوړه ودانۍ) جوړوئ، په داسې حال کښې چې عبثیات کوئ ـ |
| وَتَتَّخِذُوْنَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ۝۱۲۹ۚ وَاِذَا بَطَشْتُمْ |
| او تاسو پاخهٔ عمارتونه جوړوئ، ښایي چې تاسو به (په دنیا کښې) تل اوسېږئ ـ او کله چې تاسو نیول کوئ |
| بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ۝۱۳۰ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۳۱ۚ |
| (نو) نیول کوئ، په داسې حال کښې چې ظلم کونکي ئې وئ ـ نو تاسو له الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ |

### سُوْرَة الشعراء ۲۶، آیت:۱۳۲تا۱۴۰

| |
|---|
| وَاتَّقُوا الَّذِیْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ۝۱۳۲ |
| او تاسو له هغه ذات نه ویریږئ چې تاسو مدد یې کړے دے په هغه څۀ سره چې تاسو پرې پوهه ئې وئ ـ |
| اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِیْنَ ۝۱۳۳ وَجَنّٰتٍ وَّعُیُوْنٍ ۝۱۳۴ اِنِّیْٓ اَخَافُ عَلَیْكُمْ |
| هغه ستاسو مدد کړے دے په څارویو او زامنو سره ـ او باغونو او چینو سره ـ بېشکه زۀ په تاسو باندې |
| عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ۝۱۳۵ قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَیْنَآ اَوَعَظْتَ |
| د ډېرې لویې ورځې د عذاب ویره کوم ـ هغوی اوئیل: مونږ ته یو شان ده، اٰیا کۀ ته نصیحت (وعظ) کوې، |
| اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِیْنَ ۝۱۳۶ اِنْ هٰذَآ اِلَّا خُلُقُ الْاَوَّلِیْنَ ۝۱۳۷ |
| یا تۀ نۀ کېږې له وعظ کونکو نه ـ نۀ دے دا ستا (وعظ کول) مګر عادت د پخوانو خلقو ـ |
| وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِیْنَ ۝۱۳۸ فَكَذَّبُوْهُ فَاَهْلَكْنٰهُمْ ۝ ا |
| او مونږ له سره په عذاب کښې مبتلا کېدونکي نۀ یو ـ نو دوی د هغۀ تکذیب وکړو، نو مونږه دوی هلاک کړل، |
| اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۝۱۳۹ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ |
| بېشکه په دې کښې خامخا نښه ده او د دوی اکثره مؤمنان نۀ وو ـ او بېشکه ستا رب خامخا هم هغه |
| الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ۝۱۴۰ |
| ښۀ غالب، بې حده رحم کونکے دے ـ |

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ دَ حق په لاره روانو باندي مختلف الزامات لګولے شي لیکن هغوي په غټې حوصلې او همَّت سره دَ حق خبره خلقو ته رسوله ـ (سُوْرَۃ الاعراف، آیت :۶۶تا۶۸ )

۲ ـ دَ انبیاءکِرام عَلَیْہِم السَّلَام اتباع کولے شي مونږ لره هم په مشکل وخت کښې دَ دعوت حق په خاطر دَ ثابت قدمی مظاهره کول پکار دي ـ (سُوْرَۃ الاعراف، آیت:۶۶،سُوْرَۃ هود، آیات:۵۳،۵۴ )

۳ ـ انبیاءکرام عَلَیْہِم السَّلَام قامونو طرف ته د دې د پاره لېږلے شوې وو چې هغوي خلق دَ الله سُبْحَانَہُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه ویروي ـ (سُوْرَۃ الاعراف، آیت:۶۵سوره الشعراء، آیت:۱۲۶)

۴ ـ دَالله سُبْحَانَہُ وَتَعَالیٰ په نعمتونو باندي شکر ادا کول، د دې صحیح استعمال کول او په فضول کارونو کښې نۀ ضائع کول په دنیا او آخرت کښې دَ کامیابی ذریعه ده ـ (سُوْرَۃ الاعراف، آیت :۶۹، سُوْرَۃ الشعراء، آیات:۱۳۲تا۱۳۴ )

۵ ـ مونږ لره پخپله دننه خپل ځان کښې اخلاص کېښودل پکار دي او دَ حق دین اشاعت او په دعوت باندي دَ اجر امېد صرف دَ الله سُبْحَانَہُ وَتَعَالیٰ نه لرل پکار دي ـ (سُوْرَۃ هود آیت:۵۱ سُوْرَۃ الشعراء، آیت:۱۲۷ )

۶ ـ په ګناهونو باندي په معافي غوښتلو باندي الله سُبْحَانَہُ وَتَعَالیٰ معافي هم کوي او په دنیا کښې نور زیات نعمتونه هم ورکوي ـ (سُوْرَۃ هود، آیت:۵۲)

۷ ـ مونږ لره دَ دین دَ مخالفت کونکو دَ چلونو نه ویرېدل نۀ دي پکار، بلکه دَ الله سُبْحَانَہُ وَتَعَالیٰ په مدد باندي کامله بهروسه لرل او دَ دین په لاره باندي روانېدل پکار دي ـ (سُوْرَۃ هود، آیت:۵۵تا۵۶ )

۸ ـ امانت داري دَ رسولانو دَ اعلیٰ صفاتو نه یو دے ـ مونږ لره په هره معامله کښې دغه اختیارول پکار دي ـ (سُوْرَۃ الشعراء آیت:۱۲۵ )

۹ ـ دَ دنیا هر څیز فاني دے ـ آخرت باقي دے ـ مونږ لره آخرت ښائسته کول پکار دے ـ (سُوْرَۃ الشعراء، آیت:۱۲۸،۱۲۹ )

۱۰ـ دَ هود عَلَیْہِ السَّلَام دَ انکار دَ وجې نه ټول قام هلاک شو ـ د دې دَ انجام نه دا سبق حاصل شو چې دَ نبي کریم ﷺ اطاعت او اتباع کولو والا دَ هلاکت نه بچ شو ـ (سُوْرَۃ الشعراء، آیت:۱۳۹)

## پوهه شئ او حل یې کړئ

١ــ خالی ځایونه ډک کړئ:

(١) هود عَلَیْهِ السَّلام د -------------------- دَ زوے ---------- ---- نسل نه ؤ ـ

(٢) دَ قام عاد سردارانو هود عَلَیْهِ السلام ته اوئیل چې ستا سره -- ------ دي مونږ تاسو------ نهٔ منو ـ

(٣) په قام عاد باندې-------------- په صورت کښې------------- - راغلے ـ

(٤) دَ ﷲ سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب تېزه هوا-----------ورځو او---- ------- شپو پورې مسلسل چلېدله ـ

(٥) تیزې هوا ---------- لره اوچت کړلو داسې وغورځول لکه ---- ---------------وي ـ

## ٢. دَ لاندې لیکلے شوو سوالونو جوابونه ورکړئ

١ ــ دَ هود عَلَیْهِ السَّلام په باره کښې یو درې٣ خبرې ولیکئ ـ

٢ ــ قام عاد لره په بل کوم نوم سره بللے شي؟

٣ ــ هود عَلَیْهِ السَّلام خپل قام ته څهٔ دعوت ورکولو او دَ کومې خبرې نه یې منعه کول؟

٤ ــ دَ قام سردارانو دَ هود عَلَیْهِ السَّلام دَ دعوت څهٔ جواب ورکولو؟

٥ ــ دَ عذاب نه بچ شوي مؤمنان چرته آباد وو؟

۳ـ دَ كالم (الف) هره جمله دَ كالم (ب) د صحيح جملې سره كرښه وكړئ:

| كالم (الف) | كالم (ب) |
|---|---|
| ❖ هود عَلَيْهِ السَّلام لره<br>❖ قام عاد<br>❖ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى ټول ايمان والا لره<br>❖ دَ قام عاد جرم<br>❖ دَ قام عاد علاقه | ❖ دَ نوح عَلَيْهِ السَّلام دَ قام نه وروسته راغلے دے ـ<br>❖ شرک او دَ نبی نه انكار كول<br>❖ احقاف وه ـ<br>❖ قام عاد طرف ته لېږلے شوے ؤ ـ<br>❖ دَ عذاب نه بچ كړل ـ |

۴. د لاندې ليكلے شوو جملو په باره كښې اوښائې چې دا د چا قول دے:

| شمېره | جملې | دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى | دَ هود عليه السلام | دَ قام |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | زۀ تاسو ته دَ خپل رب پېغامات رسوم ـ | | | |
| ۲ | زمونږ نه غټ قوّت او طاقت والا څوک دے؟ | | | |
| ۳ | او مونږ دوی ته دَ سخت عذاب نه نجات وركړے ؤ ـ | | | |
| ۴ | دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى (نافرمانی) نه ويرېږئ او زما اطاعت وكړئ | | | |
| ۵ | تا لره زمونږ په معبودانو كښې چا په خرابی كښې مبتلا كړے يې ـ | | | |

راځئ!!! مونږ خپله جائزه واخلو:

| شمېره | اعمال | آوجي | کافي حده پوري | دَ کوم حده پوري | اراده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ نعمتونو دَ شکر ادا کولو کوشش کوو؟ | | | | |
| ۲ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په نعمتونو باندې دَ سرکشی نه بچ یې وو؟ | | | | |
| ۳ | آیا مونږ نېک اعمال دَ دې د پاره کوو چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ راضي شي؟ | | | | |
| ۴ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ خفګان والا دَ کارونو نه بچ یې وو؟ | | | | |
| ۵ | آیا مونږ په نیک کارونو کښې دَ نورو سره شریک کېږو؟ | | | | |
| ۶ | آیا مونږ دَ دروغو نه بچ یې وو؟ | | | | |
| ۷ | آیا مونږ دَ صبر سره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مدد انتظار کوو؟ | | | | |
| ۸ | آیا مونږ دَ خپل ځان سره نورو لره یقین ورکولے شو چې چا ته هم الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ ورکړلے شوي قدرت او اختیار نه بغېرمونږ ته نفع او نقصان نهٔ شي رارسولے ـ | | | | |
| ۹ | آیا مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نعمتونه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مرضی مطابق استعمالوو؟ | | | | |
| ۱۰ | آیا مونږ دَ خلقو د پاره دَ ښائسته مثال جوړېدلو کوشش کوو؟ | | | | |

معلوم کړئ: دَ عاد وئیلو وجه، دَ هود عَلَيْهِ السَّلام دَ وروړولی دَ فرد وئیلو وجه، لغت، په وعظ او نصیحت کښې دَ فرق وضاحت دَ خپلو اساتذه کِرامو نه معلوم کړئ ـ

۶. دَ هود عَلَيْهِ السَّلام دَ قصې سره متعلق لاندې ليکلي شوي الفاظ په لاندې خانو کښې وليکئ:

دَ سام نسل، پنځهٔ ورځې او اووهٔ شپې، احقاف، دَ استغفار حکم، اوګد او غټ جسم ، دَ اولاد کثرت، دَ وريځ په ليدلو ژړل، قام ارم، دَ بوتانو تعظيم، دَ وروکي قد والا خلق، دَ قام تږوقي کول، په عراق کښې آباديدل.

احقاف



سوچ وکړئ!!! هودﷺ دَ خپل قام په نافرمانيانو باندې دَ استغفار کولو تلقين وکړلو او د دې فائدې يې ذکر کړلې ـ که

## کورنی هله زله

- ❖ هودﷺقام ته دعوت ورکړلو چې"دَ يو الله تعالٰي عبادت وکړئ، دَ هغهٔ دَ نافرمانۍ نه بچ شئ او زما اطاعت وکړئ، دا الفاظ په يو چارټ باندې په خوشخطۍ سره وليکئ او رنګ يې کړئ ـ
- ❖ دَ تيزې سيلۍ خاکه جوړه کړئ يا دَ قام عاد دَ کنډراتو څو تصويرونه تلاش کړئ او په چاټ يې ولګوئ ـ لاس
- ❖ زمونږ دَ خوږ نبيﷺ دَ امانتدارۍ څه قصّه دَ خپل کور والو نه

# قصّه صالح عَلَيْهِ السَّلام

## دَ صالح عَلَيْهِ السَّلام او دَ قام ثمود تعارف (پېژندګلو)

دَ صالح عَلَيْهِ السَّلام تعلق دَ نوح عَلَيْهِ السَّلام دَ نسل سره دے ـ صالح عَلَيْهِ السَّلام دَ عربو دَ مشهور قبيله ثمود نه دے ـ دَ قام ثمود آغاز دَ قام عاد دَ هغه خلقو نه شوے دے چې په هود عَلَيْهِ السَّلام باندې ايمان راوړے ؤ او چې کوم الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ تيزې سيلۍ دَ عذاب نه بچ کړي وو ـ قام ثمود ته "عادِ ثاني" هم وائي ـ دا قبيله دَ حجاز او شام په يو درميان علاقه "الحجر" کښې آباده شوله د دې وجې نه دې ته "اصحاب الحجر" هم وايي ـ دا ځاے نن هم دَ "الحجر" په نوم باندې موجود دے ـ دې ته "مدائنِ صالح" هم وئيلے شي ـ دوي به غرونه تراشل او شاندار محلات به يې جوړول ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دوي ته څاروي، زامن، باغونه او دَ چينو پشانته بهترين نعمتونه ورکړي وو ـ

## دَ قام ناشکري او شرک

قام ثمود دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ د دې عظيم نعمتونو باندې دَ شکر ادا کولو دَ عبادت کولو په ځاے کفر، شرک او سرکشي اختيار کړله ـ دوي په خپل طاقت او دَ نعمتونو په کثرت باندې سرکشي او تکبر وکړلو ـ

## دعوتِ توحيد

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ قام ثمود ته دَ سيدها لارې ښودلو د پاره صالح عَلَيْهِ السَّلام رسول راولېږلو ـ صالح عَلَيْهِ السَّلام دَ يو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ طرف ته دَ عبادت کولو دعوت ورکړلو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په ورکړے شوو نعمتونو باندې دَالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ شکر ادا کولو نصيحت وکړلو ـ صالح عَلَيْهِ السَّلام دوي دَ شرک کولو او دَ بتانو دَ تعظيم او عبادت کولو نه منع کول ـ

## دَ قام ردِّ عمل

قام ثمود دَ صالح عَلَيْهِ السَّلام مخالفت وکړو او دَ دعوتِ توحيد نه يې انکار وکړلو ـ دې خلقو په صالح عَلَيْهِ السَّلام باندې مختلف اعتراضونه کول شروع کړل ـ د دې قام کافرانو سردارانو خپل قام ګمراه کړلو او غريبان مؤمنان يې دَ سيدها لارې نه دَ خطا کولو ډېر کوشش وکړلو ـ

## دَ قام مطالبه

قام ثمود دَ صالح عَلَيْهِ السَّلام نه يو داسې مطالبه کوله چې دَ هغې پوره کول ناممکن په نظر راتلل ـ دوي صالح عَلَيْهِ السَّلام ته اوئيل که چرته ته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رښتونے رسول يې، نو څۀ نښانه راوړه ـ دَ دوي دا مطالبه وه چې دَ سترګو مخامخ دَ غر نه څۀ يو ژوندی اوښه راوباسه چې بچے پېدا کړي، نو بيا به صالح عَلَيْهِ السَّلام دَالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رسول اومني ـ

## دَ صالح عَلَيْهِ السَّلام معجزه

صالح دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نه دعا وغوښتله، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ هغۀ ته دغه معجزه ورکړه، دغۀ رنګې دَ هغۀ خلقو مطالبه هم پوره وليدلے شوه او دَ غر نه يوه ژوندی اوښه راووتله چې په قرآنِ حکيم کښې ورته "د الله اوښه (ناقة الله)" وائي ـ دا اوښه د دوي د پاره دَ يو ازمائښ په بناء راليږلے شوې وه چې په دومره لويه معجزه ليدلو باندې ايمان راوړي او که نه ـ مګر د دې معجزې دَ ليدلو نه وروسته هم دَ قام يو څو خلقو په صالح باندې ايمان راوړلو ـ

## قام ته نصيحت

صالح عَلَيْهِ السَّلام قام لره ويرولو ورته وې فرمائل چې دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښه ده ـ تاسو خلق دې ته نقصان مۀ رسوئ ـ که تاسو دې ته نقصان ورسوئ، نو په تاسو به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب نازل شي ـ دَ قام ثمود د پاره دَ اوبو ځاے يو کوهے ؤ چې د دغۀ ځاے خلقو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښې اوبۀ څښکلې ـ صالح عَلَيْهِ السَّلام دَ قام او دَ اوښې په مابېن کښې يوه ورځ مقرر کړله ـ صالح عَلَيْهِ السَّلام اوفرمائل چې يوه ورځ دَ قام او يوه ورځ دَ دوي دَ څاروو څښکلو د پاره او يوه ورځ دَ الله دَ اوښې د پاره ده ـ

## دَ اوښې سره دَ قام سلوک

دَ قام خلقو د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښه دَ يو څو ورځو د پاره برداشت کړله ليکن بيا دې کافرانو په خپل مېنځ کښې مشوره وکړه چې دا اوښه مړه کړو ـ بيا دَ دوي نه يو غل□ انسان د دې اوښې شپې کټ کړلې اوښې چغې کړې او په زمکه پرېوتله او مړه شوه ـ

## په کافرانو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب

مهلت دے، تاسو چې څه مزې کوی هغه وکړئ، بيا به دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب تاسو حيصار کړي ـ درې ورځې وروسته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب يو تيز آواز او دَ زلزلې په صورت کښې راغلے چې ټول کافر يې هلاک کړل ـ په خپل طاقت او سرکشۍ او غرور کولو والا دا

خلق په خپل کورونو کښې انتهائي دَ بې وسی په حالت کښې مړهٔ پراتهٔ وو ـ

## دَ قام ثمود دَ عالی شان محلاتو حال

دَ قام ثمود شائسته کورونه او عالی شان محلات چې په کومو باندې دوي ناز او نخرې کولې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په عذاب سره کنډرات او وران شول، ګويا چې پهٔ دې کښې څوک نهٔ وو اوسېدلي ـ دَ قام ثمود دَ عمارتونو کنډرات دَ "الحِجر" په علاقه کښې په زراوو ايکړه رقبه باندې نن هم موجود دي چې دَ خلقو د پاره دَ عبرت نشان دے ـ دَ غزوه تبوک په موقع باندې چې کله دَ نبیﷺ تيرېدل دَ"الحِجر" په مقام باندې وشو، نو نبیﷺ صحابه کِرامو ته اوفرمائل چې دا هغه کلے علاقه ده چې په کوم باندې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عذاب نازل کړے وُ، نهٔ دلته قيام اوکړئ او نهٔ دلته د دې دَ څيزونو نه فائده واخلئ او مخې ته څئ په بل ځاے کښې قيام وکړئ ، هسې نهٔ چې تاسو په څهٔ مصيبت کښې مبتلا شئ ـ
(مسند احمد)

## په ايمان والو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رحمت

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په خپل خاص رحمت او فضل سره صالح عَلَيْهِ السَّلام او دَ هغهٔ سره ټول ايمان والا د دې عذاب نه بچ کړل ـ
صالح عَلَيْهِ السَّلام په خپل هلاک شوي قام باندې افسوس وکړلو او وې فرمائل چې" يقيناً ما تاسو ته دَ خپل رب پېغام ورسولو او ما ستاسو خيرخواهي کوله ليکن تاسو خيرخواهان نهٔ خوښوئ ـ

### آيا تاسو پوهېږئ؟

قام ثمود ته ورکړے شوې دَ الله اوښه، عامه اوښه نهٔ وه بلکې دومره دَ غټ جسم والا وه چې کله به په زنګل کښې ګرځېدله، نو نور ځناور به ترې ويرېدل او تښتېدل به ـ هغې به په خپل نمبر کښې چې کله دَ کوهي اوبهٔ څښکلې، نو خالي کولو به يې ـ ګويا د دې غېر معمولي طريقې سره دَ پېدائش په شانته خوراک

## د دې قيصې نه حاصل شوے سبق

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نافرمانې کونکې، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رسول صالح عَلَيْهِ السَّلام نه انکار او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ ورکړلے شوو نعمتونو قدر نهٔ کولو والا، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ غضب او عذاب مستحق شو ـ مونږ لره پکار دي چې دَ داسې خلقو دَ غل□ انجام نه سبق حاصل کړو ـ

## مدائن صالح عَلَيْهِ السَّلام



# قصَّه صالح عَلَيْهِ السَّلام

## سُوْرَة الاعراف۷، آيت: ۷۳تا ۷۴

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ....بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ ــ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهايت رحم کولو والا دے ــ |
| وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ |
| او ثموديانو ته مو دَ هغوی ورور صالح ﷺ (لېږلے ؤ)، هغۀ اوئيل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ، |
| مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۭ قَدْ جَاۗءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۭ |
| تاسو لپاره له هغۀ نه سېوا (بل) هېڅ حق معبود نشته، يقيناً تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره معجزه راغلې ده |
| هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِيْٓ اَرْضِ اللّٰهِ |
| دا د الله اوښه ده ستاسو لپاره، چې نښه ده، نو تاسو دا پرېږدئ چې د الله په زمکه کښې خوراك کوي |
| وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْۗءٍ فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۷۳ وَاذْكُرُوْٓا |
| او دې ته تکليف مۀ رسوئ (ګنې) نو تاسو لره به ډېر دردونکے عذاب ونيسي. او تاسو هغه وخت ياد کړئ |
| اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاۗءَ مِنْۢ بَعْدِ عَادٍ وَّبَوَّاَكُمْ فِي الْاَرْضِ |
| چې هغه (الله) تاسو له عاديانو نه پس خليفه ګان (ځاے ناستي، نائبان) جوړ کړئ او تاسو ته يې په زمکه کښې ځاے درکړو، |
| تَتَّخِذُوْنَ مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا وَّتَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ بُيُوْتًا ۚ |
| چې تاسو د دې (زمکې) په نرمو هوارو ځايونو کښې هسکې ماڼۍ جوړوئ او تاسو غرونه د کورونو لپاره توږئ (کنئ)، |
| فَاذْكُرُوْٓا اٰلَاۗءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۷۴ |
| نو تاسو د الله نعمتونه ياد کړئ او په زمکه کښې وراني کونکي مۀ ګرځئ، چې فسادیان شئ. |

# قصّه صالح عَلَيْهِ السَّلام

## سُوْرَة الاعراف۷، آيت:۷۵تا۷۹

| |
|---|
| قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ |
| د هغۀ په قام کښي تکبر کونکو مشرانو هغو کسانو ته اوئيل چي کمزوري کړے شوي وو، هغه چا ته |
| آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُرْسَلٌ مِنْ رَبِّهِ ۚ |
| چي له دوی څخه يي ايمان راوړے ؤ، أيا تاسو پوهيږئ چي بېشکه صالح د خپل رب له جانبه راليږل شوے (رسول) دے؟ |
| قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ۷۵ |
| هغو (کمزورو) اوئيل: بېشکه مونږ په هغۀ څۀ ايمان لرونکي يو چي په هغۀ سره هغه (صالح) راليږل شوے دے. |
| قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنْتُمْ بِهِ كَافِرُونَ ۷۶ |
| تکبر کوونکو کسانو اوئيل: بېشکه مونږ په هغۀ څه چي تاسو پري ايمان راوړے دے، کفر کونکي يو. |
| فَعَقَرُوا النَّاقَةَ وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا يَا صَالِحُ |
| نو هغوی د اوښي پرکي پري کړل او د خپل رب له حکم نه يي سرکشي وکړه او وي وئيل: اے صالحه! |
| ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ۷۷ |
| پۀ مونږ راوله هغه (عذاب) چي تۀ مونږ په هغۀ سره ويروي، که چري تۀ له رسولانو څخه يي. |
| فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ۷۸ |
| نو دوی سختي زلزلي ونيول، نو شول دوی په خپلو کورونو کښي پرمخي مرۀ پراتۀ. |
| فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِنْ |
| اے زما قامه! يقينًا ما تاسو ته د خپل رب پېغام در ورسولو او ستاسو خېرخواهي مي وکړه او ليکن |
| لَا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ ۷۹ |
| تاسو نصيحت (خېرخواهي) کونکي نۀ خوښوئ. |

## اَهمي نـكـتـي

## قصّه صالح عَلَيْهِ السَّلام

### سُوْرَة هود ۱۱، آيت: ۶۱تا ۶۳

| |
|---|
| وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا ۚ قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ |
| او (مونږ لېږلے ؤ) ثموديانو ته د هغوی ورور صالح، هغهٔ (دوی ته) اوئيل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ، |
| مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ |
| ستاسو لپاره له هغهٔ نه غيږ (بل) هيڅ حق معبود نشته، هم هغهٔ تاسو له زمکې نه پېدا کړي ئې وئ |
| وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ ۚ |
| او په دې کښې يې تاسو اوسولي ئې وئ، نو تاسو له دهٔ نه مغفرت اوغواړئ، بيا تاسو دهٔ ته رجوع وکړئ، |
| إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ۰۰۶۱ قَالُوا يَا صَالِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا |
| بېشکه زما رب ډېر نزدې دے، د دعا قبلونکے دے . دوي اوئيل: اے صالحه، تهٔ په مونږ کښې |
| مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَا ۖ أَتَنْهَانَا أَن نَّعْبُدَ مَا |
| مخکښې له دې (دعوي د نبوت) نه اميد کړے شوے وې، آيا تهٔ مونږ د هغو (بتانو) له عبادت نه منع کوې |
| يَعْبُدُ آبَاؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ |
| چې زمونږ پلارانو به يې عبادت کولو او بېشکه مونږ د هغه (توحيد) په باره کښې چې تهٔ مونږ هغهٔ ته بلې، |
| مُرِيبٍ ۰۰۶۲ قَالَ يَا قَوْمِ أَرَأَيْتُمْ |
| يقينًا په اضطراب اچونکي (پرېشانه کونکي) شك کښې يو . هغهٔ اوئيل: اے زما قامه! تاسو ما ته خبر راکړئ! |
| إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَآتَانِي مِنْهُ رَحْمَةً |
| که زهٔ د خپل رب له طرفه په ښکاره دليل باندې يم او هغه له خپله طرفه ما ته رحمت (نبوت) راکړے وي، |
| فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ اللَّهِ إِنْ عَصَيْتُهُ ۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيْرَ تَخْسِيرٍ ۰۰۶۳ |
| نو له الله نه به ما ثوك خلاص کړي، که زهٔ د هغهٔ نافرماني وکړم، نو تاسو به ما ته ذَ نقصان نه غيږ (بل څه) زيات نهٔ کړئ . |

# اَهمي نكتي

## قصَّه صالح عَلَيْهِ السَّلام

### سُوْرَة هود ۱۱، آيت: ۶۴ تا ۶۸

| |
|---|
| وَيٰقَوۡمِ هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ لَكُمۡ اٰيَةً فَذَرُوۡهَا تَاۡكُلۡ فِيۡۤ اَرۡضِ اللّٰهِ |
| اے زما قامه! دا د الله اوښه ده چې ستاسو لپاره لويه نښه ده، نو تاسو دا پريږدئ چې د الله په زمکه کښې خوراك (څر) کوي |
| وَلَا تَمَسُّوۡهَا بِسُوۡٓءٍ فَيَاۡخُذَكُمۡ عَذَابٌ قَرِيۡبٌ ۰۰۶۴ فَعَقَرُوۡهَا |
| او دي ته هيڅ تکليف مهٔ رسوئ (ګڼي) نو ډير نزدي عذاب به مو ونيسي . نو دوی د هغې پړکي پرې کړل (او مړه يې کړه) |
| فَقَالَ تَمَتَّعُوۡا فِيۡ دَارِكُمۡ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ وَعۡدٌ |
| نو هغهٔ (ورته) اوئيل: تاسو په خپلو کورونو کښې درې ورځې فائده واخلئ، دا داسې وعده ده |
| غَيۡرُ مَكۡذُوۡبٍ ۰۰۶۵ فَلَمَّا جَآءَ اَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صٰلِحًا وَّالَّذِيۡنَ |
| چې هيڅ دروغ پکښې نشته . نو کله چې زمونږ (د عذاب) حکم راغلے، مونږ صالح عليه السلام ته او هغو کسانو ته |
| اٰمَنُوۡا مَعَهٗ بِرَحۡمَةٍ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍ ؕ |
| چې له هغهٔ سره يې ايمان راوړے ؤ په خپل رحمت سره خلاصے ورکړو او د هغې ورځې (د قيامت) له رسوايۍ نه (هم خلاصے وکړو) |
| اِنَّ رَبَّكَ هُوَ الۡقَوِيُّ الۡعَزِيۡزُ ۰۰۶۶ وَاَخَذَ الَّذِيۡنَ ظَلَمُوا الصَّيۡحَةُ |
| بېشکه ستا رب، هم هغه قوي، ډير غالب دے . او هغه کسان چې ظلم يې کړے ؤ چغې ونيول، |
| فَاَصۡبَحُوۡا فِيۡ دِيَارِهِمۡ جٰثِمِيۡنَ ۙ ۰۰۶۷ كَاَنۡ لَّمۡ يَغۡنَوۡا فِيۡهَا ؕ |
| نو سحر مهال په خپلو کورونو کښې پړمخې پراتهٔ شول . ګويا کښې دوی په دې (کورونو) کښې له سره اوسېدلي نهٔ وو، |
| اَلَاۤ اِنَّ ثَمُوۡدَا۟ كَفَرُوۡا رَبَّهُمۡ ؕ اَلَا بُعۡدًا لِّثَمُوۡدَ ۰۰۶۸ |
| خبردار شئ! بېشکه ثموديان په خپل رب سره کافران شوي وو، اګاه شئ! د ثموديانو لپاره (د رحمت نه) لرې والے دے . |

عملي خبره: کفر او شرک دَ ټولو خرابو جړ او دَ تباهۍ باعث دے ـ د دې وجې په توحيد او رسالت باندې ايمان دَ هر خېر بنياد او دَ نجات ذريعه ده ـ

## اَهمـي نـكـتـي

# قصَّه صالح عَلَیْهِ السَّلام

## سُوْرَة الشعراء ۲۶، آیت: ۱۴۱تا۱۵۰

| |
|---|
| كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ الْمُرْسَلِيْنَ ۝۱۴۱ اِذْ قَالَ لَهُمْ اَخُوْهُمْ صٰلِحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝۱۴۲ |
| ثمودیانو د رسولانو تکذیب وکړو . کله چې دوی ته د دوی وروړ صالح ﷺ اوئیل: آیا تاسو نه وېرېږئ . |
| اِنِّىْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝۱۴۳ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۴۴ |
| بېشکه زۀ تاسو ته امانتګر رسول یم . نو تاسو له الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ . |
| وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِىَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝۱۴۵ |
| او زۀ له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر نۀ غواړم، زما اجر نۀ دے مګر په رب العلمین باندې . |
| اَتُتْرَكُوْنَ فِىْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ۝۱۴۶ |
| آیا تاسو به په پرېښودل شئ په هغو څیزونو کښې چې دلته دي، په امن (او بې غمې) سره . |
| فِىْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ۝۱۴۷ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيْمٌ ۝۱۴۸ |
| په باغونو او چینو کښې . اوپه فصلونو او داسې کجورو کښې چې د هغو وږي (شګوفې) ډېر نرمې پستې وي . |
| وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ۝۱۴۹ |
| او تاسو په غرونو کښې کورونه توږئ (کنئ) په داسې حال کښې چې ښۀ ماهران ئې وئ . |
| فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝۱۵۰ |
| نو تاسو له الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ . |

نقشه

دَ صالح عَلَیْهِ السَّلام او دَ قام ثمود مقام
دا د حجاز او دَ شام په درمیانه علاقه مدائنِ کښې صالح عَلَیْهِ السَّلام آباد ؤ ـ

## قصّه صالح عَلَيْهِ السَّلام

### سُوْرَة الشعراء ۲۶، آیت: ۱۵۱تا ۱۵۹

| |
|---|
| وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ۝۱۵۱ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ |
| او تاسو د اسراف کونکو (له حد نه تېرېدونکو کافرانو) حکم مهٔ منئ ـ هغه چې په زمکه کښې فساد کوي |
| وَلَا يُصْلِحُونَ ۝۱۵۲ قَالُوٓا۟ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ۝۱۵۳ |
| او اصلاح نهٔ کوي ـ هغوی اوئیل: بېشکه همدا خبره ده چې تهٔ له جادو کړے شوو کسانو ځینې یې ـ |
| مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ۝۱۵۴ قَالَ |
| تهٔ نهٔ یې مګر زمونږ په مثل بشر، نو تهٔ کومه معجزه راوړه! کهٔ تهٔ له رښتینو ځینې یې ـ او هغهٔ اوئیل: |
| هَـٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ۝۱۵۵ |
| دا اوښه ده، د دې لپاره د اوبو وار دے او تاسو لپاره د مقررې ورځې د اوبو وار دے ـ |
| وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ۝۱۵۶ |
| او تاسو دې ته هېڅ تکلیف مهٔ رسوئ، (ګنې) نو تاسو به د ډېرې لویې ورځې عذابونیسي ـ |
| فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا۟ نَـٰدِمِينَ ۝۱۵۷ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ |
| نو دوی د هغې پړکي پرې کړل، بیا دوی پښېمانه شول ـ نو دوی عذاب ونیول، بېشکه په دې کښې |
| لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ۝۱۵۸ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝۱۵۹ |
| خامخا لویه نښه ده او د دوی اکثره مؤمنان نهٔ وو ـ او بېشکه ستا رب خامخا هم هغه ډېر غالب، بې حده رحم کونکے دے ـ |

فرمانِ نبوی صلی الله علیه وسلم: " دَ یو انسان دَ بدوالي د پاره دا خبره کافي ده چې دا خپل مسلمان ورور سپک (ذلیل) وګڼي ـ (صحیح مسلم)

## دَ علم او عمل خبرې

۱ ـ انبیاءکِرام عَلَيْهِم السَّلام دَ پاکیزه سیرت او کردار په اعتبار باندې دَ ماشوموالي نه په خپل قام کښې ممتاز مقام لرلو ـ (سُوْرَة هود، آیت: ۶۲)

۲ ـ دَ رسولانو او دَ هغوي دَ معجزاتو نه انکار کولو والا به په

## پوهه شئ او حل يې کړئ:

١ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:

کالم (الف)

- دَ صالح معجزه
- دَ قام عاد نه وروسته
- دَ قام ثمود جرم
- قام ثمود
- صالح عَلَيْهِ السَّلَام خپل قام لره

کالم (ب)

- شرک کول او پېغمبرﷺ دروغژن کول
- لوے لوے محلات يې جوړول
- دَ عذاب نه مخکښې درې ورځې مهلت ورکړو
- اوښه وه
- قام ثمود راغلے

لو په ... دَ

| شمېره | جملې | دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى | دَ صالح عليه السلام | دَ قام |
|---|---|---|---|---|
| ١ | دا دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى اوښه ده (چې) ستاسو د پاره يوه نښانه (ده) ـ | | | |
| ٢ | يقيناً تاسو دَ دې نه مخکښې زمونږ دَ امېدونو مرکز وې ـ | | | |
| ٣ | بيا چې کله زمونږ حکم (عذاب) راغلے (نو) مونږ صالح (عَلَيْهِ السَّلَام) ته نجات ورکړو ـ | | | |
| ۴ | مونږ دَ هغو عبادت کوو چې دَ چا عبادت زمونږ پلار او نيکۀ کولو ـ | | | |
| ۵ | تاسو دې اوښې ته نقصان مۀ رسوئ ورنه په تاسو به عذاب نازل شي ـ | | | |

**معلوم کړئ:** انسانان دَ زمکې نه پېدا کېدل، په زمکه باندې آبادېدل، دَ يو کس جرم دَ ټول قام جرم ګرځول، دَ شک او کفر وضاحت دَ خپلو اساتذه کرامو نه معلوم کړئ ـ

## ۳ ـ دَ لاندي ليکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ دَ صالح عَلَیْهِ السلام په باره کښې درې خبرې ولیکئ ـ

______________________________

۲ ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه قام ثمود ته ورکړلے شوي درې نعمتونه بيان کړئ ـ

______________________________

۳ ـ صالح عَلَیْهِ السَّلام په خپل هلاک شوي قام باندي دَ افسوس اظهار په کوم الفاظو کښې کړے ؤ؟

______________________________

## ۴ـ خالي ځايونه ډک کړئ:

(۱) دَ قام ثمود يو غټ بدبخته انسان دَ اوښې ------------- کټ کړې او هلاکه يې کړه ـ

(۲) دَ صالح عَلَیْهِ السَّلام قام دَ حجاز او----------------- په درميانه علاقه کښې آباد وو ـ

(۳) قام ثمود ته عادِ ثاني او----------------- هم وئيلے شي ـ

(۴) دَ قام ثمود----------------- نن هم دَ عبرت د پاره موجود دي ـ

(۵) دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ اطاعت سره --------------- اطاعت هم ضروري دے ـ

## ۵ ـ په لاندي ليکلے شوي الفاظو باندي صحيح ـ ـ يا غلط ـ ـ
[illegible]

| شمېره | جملې | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | قام ثمود دَ يو نهر نه اوبۀ حاصلولې ـ | | |
| ۲ | قام ثمود نۀ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ شکر ادا کړو او نۀ يې د الله عبادت کولو ـ | | |
| ۳ | په قام ثمود باندي دَ دوي دَ نافرمانيانو او دَ رسول عَلَیْهِ السَّلام دَ انکار کولو دَ وجې نه دَ زلزلې عذاب راغلے ـ | | |
| ۴ | دَ قام ثمود ګنډرات موجود نۀ دي ـ | | |
| ۵ | قام ثمود دَ نوح عَلَیْهِ السَّلام دَ قام نه په بچ شوو کسانو باندي مشتمل دے ـ | | |

## دَ شکته جملو سره په جوړو شوو خانو کښې دَ قیصې دَ ترتیب په

- صالح عَلَيْهِ السَّلام قام ویرولو چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ اوښې ته نقصان مهٔ رسوئ ـ
- قام ثمود دَ غر نه دَ ژوندی اوښې دَ راوتلو مطالبه وکړله ـ
- الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ صالح عَلَيْهِ السَّلام او ایمان والا دَ عذاب نه بچ کړل ـ
- صالح عَلَيْهِ السَّلام دَ اوښې دَ اوبو څښکلو ورځ مقرر کړې وه ـ
- الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ صالح عَلَيْهِ السَّلام دَ قام ثمود طرف ته رسول لېږلے ؤ ـ
- قام ثمود دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ سره شرک کړے ؤ ـ
- دَ قام ثمود اوچت محلات کنډرات جوړ شو ـ
- دَ قام ثمود یو غټ بدبخته انسان اوښه هلاکه کړه ـ
- په قام ثمود باندې درې ورځې وروسته عذاب راغلے ـ
- صالح عَلَيْهِ السَّلام قام ته درې ۳ ورځې مهلت ورکړو ـ

سوچ وکړئ!!! که چرته یو خوا بل خوا یو داسې غل کار وینئ چې دَ هغې دَ وجې نه خلقو ته نقصان رسیږي، مثلا چا په لاره کښې کچراه غورځولې دہ، نو په دې صورت کښې به تاسو څه کوئ؟

### کورنی سرگرمي

- الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ صالح عَلَيْهِ السَّلام ته دَ اوښې معجزه ورکړله ـ دَ خپل کور والو سره په خبرو اترو دَ کښې دَ درې۳ پېغمبرانو نومونه او هغوي ته ورکړے شوې معجزات ولیکئ ـ
- دَ زلزلې په تباکاریانو باندې څو تصویرونه جمع کړئ او په چارټ باندې ولګوئ او معلوم کړئ چې په دې موقع باندې مونږ لره څهٔ کول پکار دي ـ
- اوښ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په نعمتونو کښې یو نعمت دے ـ په لاندې ورکړے شوو خانو کښې دَ خپل کور والو په مدد سره

| ایوه کول | وړی | غوښه |
| --- | --- | --- |
| | | |




د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

# قصّه شعیب عَلَیْهِ السَّلام

## شعیب عَلَیْهِ السَّلام او دَ مَدیَن پېژندګلو (تعارف)

دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلام تعلق دَ قبیلې مدین سره ؤ ــ د دې زمانه دَ لوط عَلَیْهِ السَّلام نۀ څه لږه موده وروسته وه ــ دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلام قام دَ بحیره احمر په غاړه ملکِ اردن ته نزدې په مدین کښې آباد وو ــ
دا قام دَ شرک نه علاوه په نورو جرمونو کښې هم مبتلا ؤ ــ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مدین والا دَ اصلاح او هغوي ته دَ سیدها لارې ښودلو د پاره شعیب عَلَیْهِ السَّلام رسول رالیږلو ــ دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلام دَ بعثت نه وروسته دې خلقو ته "دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلام قام" وائي ــ شعیب عَلَیْهِ السَّلام قام ته دَ وعظ او نصیحت په دوران انتهائي زړۀ راښکونکے انداز اختیار کړلو، د دې وجې نه دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلام لقب" خطیب الانبیاء" دے ــ

## په مدین والو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ انعامات

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ مدین والو ته ډېر زیات نعمتونه ورکړي وو ــ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دوي ته ابشارونه، نهرونه، ګڼ باغونه او ځنګلې ورکړې وې، د دې وجې نه دې قام ته "اَصۡحٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ" یعنې ځنګل والو هم وائي ــ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ د دوي په تجارت کښې هم برکت اچولے ؤ ــ دَ مدین علاقه دغه زمانې کښې په بین الاقوامی شاهراه باندې واقع کیدلو باندې ډېر زیات خوشحاله وو ــ

## د قام جرمونه

دې قام دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ شکر ادا کولو په ځاے ډېره ناشکري وکړله او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ سره یې شرک هم وکړلو ــ دا خلق په تجارت کښې دَ ښۀ فائدو ګټلو باوجود په ناپ تول کښې کمے زیاتے کولو چې سامان به یې بل لره تللو، نو کم به یې ورکولو او چې دَ بل نه به یې اخستلو، نو دَ حق نه دَ زیات کوشش به ئې کولو ــ د دې نه علاوه به دې خلقو تجارتي قافلې او په لاره تیرېدونکي لوټ کول ــ

## دعوتِ توحید او نصیحت

دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلام سره دَ خپل قام په دې نافرمانیانو باندې سخت غم ؤ ــ هغۀ قام ډېر پوهه کړلو چې صرف دَ یو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عبادت کوی، دَ شرک او نافرمانۍ نه بچ شئ، زما تابعداري کوئ، په ناپ تول کښې کمے مۀ کوئ، په زمکه کښې فساد مۀ کوئ او دَ خلقو مالونه مۀ لوټ کوئ ــ شعیب عَلَیْهِ السَّلام دوي ته دَ الله سُبْحَانَهُ

وَتَعَالىٰ دَ شکر ادا کولو او استغفار وئیلو نصیحت هم کولو ــ ګویا شعیب عَلَيْهِ السَّلَام دَ دوي هر قسم خېرخواهي وکړه ــ په دوي باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ حاصل شوي برکتونه او دَ خېر یاد وکړلو او دَ تولو غلطو کارونو نه ئې منعه کړل ــ

## دَ قام ردِّ عمل

قام په شعیب عَلَيْهِ السَّلَام پسې مذاق او ټوقې شروع کړې چې مونږ ته پته ده چې تهٔ ډېر هوښیار ئې ــ آیا تا ته ستا مونځ دا حکم کوي چې مونږ دَ بتانو تعظیم پرېږدو چې دَ کومو عبادت (تعظیم) به زمونږ پلارانو او نیکونو کولو؟
آیا مونږ په خپلو مالونو کښې په خپلې مرضى نهٔ چلیږو؟ شعیب عَلَيْهِ السَّلَام قام دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب نه ویرولو ــ شعیب عَلَيْهِ السَّلَام دوي ته اوفرمائل که چرته تاسو داسې نهٔ کوئ، نو دَ بدو اعمالو دَ وجې نه به په تاسو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه هېبتناک عذاب راشي ــ یاد لرئ چې ستاسو نه مخکښې دَ نوح عَلَيْهِ السَّلَام په قام، قام ثمود او دَ لوط عَلَيْهِ السَّلَام په قام باندې عذاب راغلے وۀ ــ دَ شعیب عَلَيْهِ السَّلَام دَ خبرې منلو په ځاے قام شعیب عَلَيْهِ السَّلَام ته دَ سنګسارولو او دَ کلي نه دَ ویستلو دهمکیانې ورکولې ــ دوي شعیب عَلَيْهِ السَّلَام ته اوئیل که چرته مونږه ستا دَ خاندان خیال نهٔ ساتلے، نو مونږ به ته وژلے وے ــ شعیب عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائل چې آیا زما خاندان ستاسو په نزد دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نه زیات غلبې والا او عزتمند دے او تاسو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ مو دَ خپلو شاه ګانو نه آخوا غورځولے دے ــ

## په کافرانو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ عذاب

دا ګډوډ او خراب قام چې کله دَ ګناهونو نه واپس نهٔ شو، نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ عذاب لره دَ وریځې په شکل کښې دې طرف ته ولېږلو ــ خلقو چې وریځې لره خپل طرف ته په راتلو ولیدله، نو خوشحالي ئې مناووله ــ دوي خوشحاله وو چې اوس به باران وشي،ګرمي به ختمه شي او باغونه به شنهٔ او دَ مېوو نه ډک شي ــ لیکن دوي نهٔ پوهېدل چې دا وریځ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ رحمت نهٔ دے بلکې دوي ته عذاب راوړي، نو د دې وجې نه یو تیزې چغې او زلزلې دا نافرمانه هلاک کړل ــ دَ دوي کلے، علاقه داسې شوله لکه چې هیڅکله دا خلق دلته نهٔ وو اوسېدلي ــ

فرمانِ نبوی صلی الله علیه وسلم: چې کوم قام په ناپ تول کښې کمے کوي، نو دا به په قحط، مصیبتونو او دَ بادشاهانو (حکمرانانو) په ظلم او ستم کښې مبتلا کیږي (سنن ابن ماجه)

## په ایمان والو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ رحمت

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ شعیب عَلَیْهِ السَّلَام او ایمان والا دَ دې عذاب نه بچ کړل ۔ شعیب عَلَیْهِ السَّلَام په خپل هلاک شوې قام باندې دا اظهار وکړلو: " اے زما قامه ! ما تاسو ته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ احکامات رسولي دي او د دې عذاب نه مخکښې تاسو ویرولے شوي وئ لیکن تاسو نصیحت والا نهٔ خوښوئ ۔

## د دې قیصې نه حاصل شوے سبق

مونږ لره حلال رزق ګټل پکار دے او دَ مالِ حرام نه بچ کیدل پکار دي ۔ مونږ لره دَ لین دین په معاملاتو کښې بې ایماني نهٔ کول پکار دي او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په نعمتونو باندې د هغهٔ شکر ادا کړو، دَ هغهٔ تابعداري کول پکار دي او دَ هغه بد انجام نه عبرت حاصل کړو، ټول معاملات دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسولﷺ دَ احکاماتو مطابق سرانجام کول پکار دي ۔

## شعیب عَلَیْهِ السَّلَام او دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلَام دَ قام مقام

نقشه

شعیب عَلَیْهِ السَّلَام او دَ شعیب عَلَیْهِ السَّلَام دَ قام مقام

دا خلق دَ بحیره احمر په غاړه دَ ملکِ اردن نزدې دَ مدین په علاقه کښې آباد دي ۔

**ملي خبره:** دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ عبادت په مونږ کولو پورې محدود نهٔ دے ۔ مونږ په پوره زندګی کښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عبادت یادول یادوي ۔ مونږ لره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ مکمَّل عبادت د پاره په هر وخت او هره معامله کښې د هغهٔ په حکم باندې عمل کول پکار دي او دَ نبی کریمﷺ مکمل اطاعت او تابعداري کول

## قصَّه شعیب عَلَیْهِ السَّلام

### سُوْرَة الاعراف۷، آیت: ۸۵تا ۸۷

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ... بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ |
| زهٔ د الله په پناه کښې راځم د شیطان رټلي شوي نه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے ـ |
| وَاِلٰی مَدْیَنَ اَخَاهُمْ شُعَیْبًا ۗ قَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَکُمْ |
| او (لېږلے ؤ مونږ) مدین ته د هغوی وَرور شعیب، هغهٔ اوئیل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ، **تاسو لپاره** |
| مِّنْ اِلٰهٍ غَیْرُهٗ ۖ قَدْ جَآءَتْکُمْ بَیِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّکُمْ فَاَوْفُوا الْکَیْلَ وَالْمِیْزَانَ |
| **له هغهٔ نه سیوا (بل) هیڅ حق معبود نشته، یقینًا تاسو ته د خپل رب له جانبه ښکاره دلیل راغلے دے،** نو تاسو پېمانه او تول پوره کوئ |
| وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْیَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا ۚ ذٰلِکُمْ |
| او خلقو ته د هغوی شیان کم مهٔ ورکوئ او په زمکه کښې ورانے مه کوئ، د هغې له اصلاح نه پس، دا تاسو لپاره |
| خَیْرٌ لَّکُمْ اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۝۸۵ وَلَا تَقْعُدُوْا بِکُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ |
| ډیر غوره دي،که چرې تاسو ایمان راوړونکي ئې وئ ـ او تاسو په هره لار کښې مه کېنئ، چې تاسو (خلق) وېروئ |
| وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ |
| او تاسو د الله له لارې نه هغه خوک منع کوئ چې په هغهٔ (الله) ایمان راوړي او تاسو په هغې کښې کوږوالے لټوئ |
| وَاذْکُرُوْا اِذْ کُنْتُمْ قَلِیْلًا فَکَثَّرَکُمْ ۖ وَانْظُرُوْا کَیْفَ کَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِیْنَ ۝۸۶ |
| او تاسو هغه وخت یاد کړئ کله چې تاسو ډیر لږ وئ، نو هغهٔ تاسو ډیر کړئ او تاسو وګورئ چې د وران کارو انجام څنګه ؤ؟ |
| وَاِنْ کَانَ طَآئِفَةٌ مِّنْکُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِیْٓ اُرْسِلْتُ بِهٖ |
| او که په تاسو کښې یوه ډله داسې ده چې په هغهٔ شي یې ایمان راوړے دے چې زهٔ ورسره رالېږلے شوے یم او بلې ډلې |
| وَطَآئِفَةٌ لَّمْ یُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰی یَحْکُمَ اللّٰهُ بَیْنَنَا ۚ وَهُوَ خَیْرُ الْحٰکِمِیْنَ ۝۸۷ |
| ایمان نهٔ دے راوړے، نو تاسو صبر کوئ تر دې چې الله زمونږ په مینځ کښې فېصله وکړي او هغه تر ټولو بهتر فېصله کوونکے دے ـ |

**آیا تاسو پوهېږئ**

قبیله مَدیَن دَ ابراهیم عَلَیْهِ السَّلام دَ زوئ "مدین" دَ نسل نه ده چې دَ ابراهیم عَلَیْهِ السَّلام بی بی "قطورا" نه پېدا ؤ ـ دَ ابراهیم عَلَیْهِ السَّلام دې خاندان ته بنی قطورا وائي ـ په کومه علاقه کښې چې دوي اوسېدل د دغې علاقې نوم هم دَ قبیلې په نوم "مدین" شو ـ

## قصّه شعيب عَلَيْهِ السَّلام

### سُوْرَة الاعراف۷، آيت: ۸۸تا ۹۳

| |
|---|
| قَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ |
| د هغهٔ له قام څخه کبرجنو مشرانو اوئېل: اے شعېبه! خامخا لازمًا به مونږ تا او هغه کسان چې له تا سره يې ايمان راوړے دے |
| مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ۭ قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ۸۸ |
| له خپل کلي نه اوباسو، يا به تاسو خامخا لازمًا زمونږ دين ته راګرځئ، هغه اوئېل: آيا اګر که مونږ (دا) بد ګڼونکي يو ـ |
| قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ۭ |
| يقينًا مونږ به په الله باندې سخت دروغ تپلي وي که مونږ ستاسو دين ته در وګرځو وروسته له دې چې مونږ ته الله له هغه نه خلاصے راکړو |
| وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ اِلَّآ اَنْ يَّشَاۗءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ۭ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ۭ |
| او مونږ ته دا حق نشته چې هغه ته وګرځو مګر دا چې زمونږ رب الله (څه) وغواړي، زمونږ رب هر شے په (خپل) علم کښې راګېر کړے دے، |
| عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا ۭ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ۸۹ وَقَالَ الْمَلَاُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَىِٕنِ |
| خاص په الله باندې او تهٔ تر ټولو غوره فېصله کونکے يې ـ او د هغه له قامه کافرو مشرانو اوئېل: يقينًا که چرې |
| اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ۹۰ |
| تاسو د شعېب تابعداري وکړه، بېشکه تاسو به په دغه وخت کښې خامخا له تاوانيانو څخه ئې وئ ـ |
| فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ۹۱ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا |
| نو دوي زلزلې ونيول، نو دوي شول په خپلو کورونو کښې پړمخې (مړهٔ) پراتهٔ ـ هغه کسان چې شعېب يې دروغژن ګڼړلے ؤ، (داسې هلاك شول) |
| كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۚ اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا شُعَيْبًا كَانُوْا هُمُ الْخٰسِرِيْنَ ۹۲ |
| لکه چې دوي په دغو (کورونو) کښې بېخي اباد نهٔ وو، هغه کسان چې شعېب يې دورغژن ګڼړلے ؤ، هم هغوي تاوانيان وو ـ |
| فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ يٰقَوْمِ لَقَدْ اَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ |
| نو دے له هغوي نه وګرځېدهٔ او وې فرمايل: اے زما قامه! يقينًا ما تاسو ته د خپل رب پېغامونه در ورسول |
| وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰي قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ ۹۳ |
| او ستاسو خېرخواهي مې وکړه، نو زهٔ څنګه په کافر قام باندې افسوس وکړم ـ |

# اَهمي نـكتـي

## قصَّه شعيب عَلَيْهِ السَّلام

### سُوْرَة هود ۱۱، آيت : ۸۴تا ۸۸

| |
|---|
| وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ |
| او (لېږلے ؤ مونږ) مدين ته د هغوي ورور شعيب، هغه اوئېل: اے زما قامه! تاسو د الله عبادت کوئ، |
| مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ وَلَا تَنْقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيْزَانَ اِنِّيْٓ اَرٰىكُمْ بِخَيْرٍ |
| تاسو لپاره له هغه نه غير (بل) هيڅ حق معبود نشته او تاسو پېمانه او تله مۀ کموئ، بېشکه زۀ تاسو په خير (ښۀ حال) وينم |
| وَّاِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيْطٍ ۰۰۸۴ وَيٰقَوْمِ اَوْفُوا الْمِكْيَالَ |
| او بېشکه زۀ پۀ تاسو باندې د چاپېرېدونکي ورځې له عذاب نه وېرېږم ـ او اے زما قامه! تاسو پېمانه |
| وَالْمِيْزَانَ بِالْقِسْطِ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۰۰۸۵ |
| او تله په انصاف سره پوره ورکوئ اوخلقو ته د هغوي څيزونه مۀ کموئ او په زمکه کښې ورانے کوونکي مۀ ګرځئ ـ |
| بَقِيَّتُ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ۰۰۸۶ |
| دالله باقي پاتې کړے (رزق) تاسو لپاره ډېر غوره دے که تاسو مؤمنان ئې وئ اوزۀ پۀ تاسو باندې څۀ نګران خو نۀ يم ـ |
| قَالُوْا يٰشُعَيْبُ اَصَلٰوتُكَ تَاْمُرُكَ اَنْ نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَآ |
| قام ئې اوئيل اے شعېبه! آيا ستا مونځ تا ته د دې حکم کوي چې مونږ هغه (څيزونه) پرېږدو چې زمونږ پلارانو به يې عبادت کولو |
| اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ اَمْوَالِنَا مَا نَشٰٓؤُا ؕ اِنَّكَ لَاَنْتَ الْحَلِيْمُ |
| يا دا چې په خپلو مالونو کښې چې مونږ څه کول غواړو (هغه پرېږدو) بېشکه هم تۀ يقينًا ډېر تحمل والا، |
| الرَّشِيْدُ ۰۰۸۷ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كُنْتُ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّيْ |
| ډېر پوهه يې ـ هغه اوئېل: اے زما قامه! تاسو ما ته خبر راکړئ! که زۀ يم په ښکاره دليل باندې د خپل رب له طرفه |
| وَرَزَقَنِيْ مِنْهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ |
| او ما ته يې له خپله طرفه ډېر ښکلے رزق راکړے وي (نو زۀ يې ولې نافرماني وکړم) او زۀ نه غواړم چې ستاسو مخالفت وکړم |
| وَمَآ اُرِيْدُ اَنْ اُخَالِفَكُمْ اِلٰى مَآ اَنْهٰىكُمْ عَنْهُ ؕ اِنْ اُرِيْدُ اِلَّا الْاِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ؕ |
| (او راشم) هغه کار ته چې تاسو له هغه نه منع کوم، زۀ يواځې اصلاح کول غواړم، څومره چې زما وس وي |
| وَمَا تَوْفِيْقِيْٓ اِلَّا بِاللّٰهِ ؕ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ۰۰۸۸ |
| او زما توفيق يواځې د الله په مدد سره دے، خاص په هغۀ باندې ما توکل کړے دے او خاص هغۀ ته رجوع کوم ـ |

# اَهمي نـكـتـي

## قصّه شعیب عَلَیْهِ السَّلام

سُوْرَة هود ١١، آیت: ٨٩تا ٩٥

| |
|---|
| وَيٰقَوْمِ لَا يَجْرِمَنَّكُمْ شِقَاقِيْٓ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مِّثْلُ مَآ |
| او اے زما قامه! زما سره دښمني دې تاسو د دې حقدار و نۀ گرځوي چې تاسو ته په مثل د هغه (عذاب) |
| اَصَابَ قَوْمَ نُوْحٍ اَوْ قَوْمَ هُوْدٍ اَوْ قَوْمَ صٰلِحٍ ۭ وَمَا قَوْمُ لُوْطٍ مِّنْكُمْ بِبَعِيْدٍ ٨٩ |
| ورسېږي چې د نوح قام یا د هود قام یا د صالح قام ته رسېدلے ۇ او له تاسو نه د لوط قام ډېر لرې نۀ دے ـ |
| وَاسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ ۭ اِنَّ رَبِّيْ رَحِيْمٌ وَّدُوْدٌ ٩٠ |
| او تاسو له خپل رب نه مغفرت وغواړئ، بیا هغۀ ته رجوع وکړئ، بېشکه زما رب ډېر مهربان، بې حده مینه کونکے دے ـ |
| قَالُوْا يٰشُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَقُوْلُ وَاِنَّا لَنَرٰىكَ فِيْنَا |
| دوي اوئېل: اے شعېبه! مونږ په ډېرو هغو خبرو نۀ پوهېږو چې تۀ یې وایې او بېشکه مونږ خو تا په مونږ کښې |
| ضَعِيْفًا ۚ وَلَوْلَا رَهْطُكَ لَرَجَمْنٰكَ ۡ |
| کمزورے وینو او که چرې ستا دا خپلوان نۀ وے (چې مونږ سره په کفر کښې شریکان دي) نو مونږ به تۀ خامخا سنگسار کړے وے |
| وَمَآ اَنْتَ عَلَيْنَا بِعَزِيْزٍ ٩١ قَالَ يٰقَوْمِ اَرَهْطِيْٓ اَعَزُّ عَلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ ۭ |
| او تۀ په مونږ باندې هیڅ عزتناك نۀ یې ـ هغه اوئېل: اے زما قامه! آیا زما خپلوان په تاسو باندې له الله نه ډېر عزتناك (مخور) دي |
| وَاتَّخَذْتُمُوْهُ وَرَاۗءَكُمْ ظِهْرِيًّا ۭ اِنَّ رَبِّيْ بِمَا |
| او تاسو دا (الله) گرځولے دے خپل وروسته، شا ته غورځول شوے، بېشکه زما رب په هغو کارونو |
| تَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ ٩٢ وَيٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰي مَكَانَتِكُمْ |
| چې تاسو یې کوئ ښۀ احاطه کونکے دے ـ او اے زما قامه! تاسو په خپل ځاے (طریقې) عمل کوئ، |
| اِنِّىْ عَامِلٌ ۭ سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ |
| یقینًا زۀ هم عمل کونکے یم، زر به تاسو وپېژنئ هغه څوك چې دۀ ته به داسې عذاب راځي چې هغه به رسوا کوي |
| وَمَنْ هُوَ كَاذِبٌ ۭ وَارْتَقِبُوْٓا اِنِّىْ مَعَكُمْ رَقِيْبٌ ٩٣ |
| او هغه څوك چې دروغژن دے او تاسو انتظار کوئ بېشکه زۀ (هم) له تاسو سره انتظار کونکے یم ـ |
| وَلَمَّا جَاۗءَ اَمْرُنَا نَجَّيْنَا شُعَيْبًا وَّالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ |
| او کله چې زمونږ حکم (د عذاب) راغے (نو) مونږ شعېب ته او هغو کسانو ته چې له هغه سره یې ایمان راوړے ۇ خلاصے ورکړو په رحمت سره له |
| مِّنَّا وَاَخَذَتِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوا الصَّيْحَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دِيَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ٩٤ |

| |
|---|
| خپل طرف نه او هغه کسان چې ظلم یې کړے ؤ چغې ونیول، نو شول په خپلو کورونو کښې پړمخې مړهٔ پراتهٔ ـ |
| كَاَنْ لَّمْ يَغْنَوْا فِيْهَا ۗ اَلَا بُعْدًا لِّمَدْيَنَ كَمَا بَعِدَتْ ثَمُوْدُ ۝٩٥ |
| ګویا کښې دوي په دې (کورونو) کښې نهٔ وو اوسېدلي، اګاه شئ (د الله له رحمت نه) لرې والے دے مدین ته لکه څنګه چې ثمودیان لرې (او هلاك) شول ـ |

## قصّه شعیب عَلَیْهِ السَّلام

سُوْرَة الشعراء ۲۶، آیت: ۱۷۶تا ۱۸۴

| |
|---|
| كَذَّبَ اَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝١٧٦ۚۖ اِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝١٧٧ۚ |
| د ونو ځنګل والو د رسولانو تکذیب وکړو ـ کله چې دوي ته شعیب اوئېل: آیا تاسو نهٔ وېرېږئ! ـ |
| اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ۝١٧٨ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝١٧٩ۚ |
| بېشکه زهٔ تاسو ته امانتګر رسول یم ـ نو تاسو له الله نه وېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ـ |
| وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝١٨٠ۭ |
| او زهٔ له تاسو نه په دې (تبلیغ) باندې هېڅ اجر نهٔ غواړم، زما اجر نهٔ دے مګر په رب العلمین باندې ـ |
| اَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُخْسِرِيْنَ ۝١٨١ۚ وَزِنُوْا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيْمِ ۝١٨٢ۚ |
| تاسو پېمانه پوره ورکوئ او تاسو له کم ورکونکو څخه مهٔ کېږئ ـ او تاسو په برابرې تلې سره تول کوئ ـ |
| وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝١٨٣ۚ |
| او تاسو خلقو ته د هغوي څیزونه مهٔ کموئ او مهٔ ګرځئ په ورانې سره په زمکه کښې، په دې حال چې فساد کونکې ئې وئ ـ |
| وَاتَّقُوا الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٨٤ۭ |
| او تاسو له هغه ذات نه وېرېږئ چې تاسو او ړومبني خلق یې پېدا کړي دي ـ |

## قصّه شعيب عَلَيْهِ السّلام

### سُوْرَة الشعراء ۲۶، آيت: ۱۸۵تا ۱۹۱

| |
|---|
| قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ۙ۱۸۵ وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا |
| هغوي اوئېل: بېشکه همدا خبره ده چې تهٔ له جادو کړے شوو څيني يې ـ او تهٔ نهٔ يې مگر زمونږ په شان بشر |
| وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۚ۱۸۶ فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَاۗءِ |
| او يقينًا مونږ خامخا تا لره دروغ ويونکو څخه گڼو ـ نو تهٔ په مونږ باندي له اسمانه ټوټې راوغورځوه، |
| اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۗ۱۸۷ قَالَ رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۱۸۸ |
| کهٔ تهٔ له رښتينو څيني يې ـ هغه اوئېل: زما رب ښهٔ عالم دے په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ ـ |
| فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۱۸۹ |
| نو دوي د هغه تکذيب وکړو، پس دوي د سيوري د ورځې عذاب ونيول، بېشکه دغه (عذاب) د ډېرې لويې ورځې عذاب ؤ ـ |
| اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ۭ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۱۹۰ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۱۹۱ |
| بېشکه په دې کښې خامخا لويه نښه ده او د دوي زياتره مؤمنان نهٔ وو ـ او بېشکه ستا رب خامخا هم هغه ډېر غالب، بې حده رحم کونکے دے ـ |



## دَ علم او عمل خبرې

۱ ــ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ ورکړ لے شوے حلال رزق دَ هغه مال نه بهتر دے چې په ناجائزه طریقه سره وګټلے شي ــ (سُوْرَة هود، آیت:۸۶،۸۵)

۲ ــ په ناپ تول کښې کمے کول او خلقو ته دَ نقصان رسولو نه الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ منع کړې ده ــ (سُوْرَة هود، آیت:۸۵،۸۴) ــ

۳ ــ په ناپ تول کښې کمے کول او خلقو ته دَ هغوي څیزونه کمولو دَ وجې نه په زمکه کښې فساد او خرابوالے پېدا کیږي ــ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۸۶)

۴ ــ خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ لارې نه بندول او په دین کښې کوږوالے لټول سخته ګناه ده ــ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۹۴)

۵ ــ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه خلق په سختو او ازمائشونو کښې د دې وجې نه مبتلا کولے شي چې دوي الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ طرف ته رجوع وکړي ــ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۹۴)

۶ ــ ایمان والو لره دَ مشکلاتو نه ویرېدل نهٔ دي پکار ځکه الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ تابعدارو او دَ نافرمانو په خپله فېصله کوي ــ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۸۷ ،۸۹، سوره هود، آیت:۹۳،۹۲)

۷ ــ غلط خلق غواړي چې ښهٔ خلق هم غلط کار اختیار کړي ــ مونږ لره دَ غلطو خلقو خبره منل نهٔ دي پکار ــ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۸۹،۸۸)

۸ ــ په دین باندې عمل او د دې په دعوت ورکولو کښې ازمائشونه هم راځي، په دې حوالې سره دَ انبیاء کِرامو دَ سیرت نه لارښود (راهنمائي) حاصلول پکار دي ــ (سُوْرَة الاعراف۷، آیت:۸۸، سُوْرَة هود، آیت:۹۱)

۹ ــ زمونږ په قول او فعل کښې تضاد نهٔ دے کول پکار ــ دَ کومو خبرو نه چې مونږ نور منع کوو مونږ لره هم د دې نه منع کېدل پکار دي ــ (سُوْرَة هود، آیت:۸۸)

۱۰ ــ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ بندګانو نه ښهٔ خبردار دے ــ دَ بندګانو دَ ټولو اعمالو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ ته علم دے ــ (سُوْرَة الشعراء، آیت:۱۸۸)

۱۱ــ دَ شعیب عَلَيْهِ السَّلَام نه انکار کول او دَ هغهٔ په تعلیماتو عمل نهٔ کول، دَ مدین والو دَ هلاکت بنیادي وجه وه ــ (سُوْرَة الشعراء، آیت:۱۵۴،۱۵۳)

## پوهه شئ او حل ئې کړئ

دَ لاندې ليکلي شوو جملو په باره کښې اوشائې چې دا دَ چا قول دے:

| شمېره | جملې | الله تَعَالَى | شعيبؑ | قام |
|---|---|---|---|---|
| ١ | ما تاسو ته دَ خپل رب پېغامات ورسول او ما ستاسو خېرخواهي اوکړله ـ | | | |
| ٢ | آيا ستا مونځ تا ته حکم کوي چې مونږ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ نه سېوا نور معبودان پرېږدو؟ | | | |
| ٣ | بې شکه دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلَام رب يقينًا ډېر غالب نهايت رحم کولو والا دے ـ | | | |
| ٤ | په ناپ تول کښې کمے مۀ کوئ او دَ خلقو نه هغوَ څيزونه مۀ کموئ ـ | | | |
| ٥ | که ستا خاندان نۀ وے نو مونږ به تۀ هلاک کړے وے ـ | | | |

٢ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملې سره کرښه ولګوئ:

کالم (الف)

- دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلَام دَ قام يو بل نوم
- دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلَام دَ قام علاقه
- دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلَام دَ قام يو جرم
- الله تَعَالىٰ دَ شعيبؑ دَ قام

کالم (ب)

- مدين ؤ ـ
- ګڼ باغونه ورکړے شوي وو ـ
- "اصْحابُ لَئَيْكَة " دے ـ
- دَ عذاب نه ئې ويرولي وو ـ
- په ناپ تول کښې کمے هم کولو ـ

٣ ـ په لاندې ليکلي شوي جملو باندې صحيح ✓ يا غلط ☐ (X) نښه ولګوئ:

| شمېره | جملې | صحيح | غلط☐ |
|---|---|---|---|
| ١ | قام شعيب عَلَيْهِ السَّلَام لره دَ کلي نه ويستلو ـ | | |
| ٢ | دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلَام قام په طوفان کښې ډوب شولو ـ | | |
| | دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلَام قام به دَ نورو خلقو مال | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | سپکولو ـ | | |
| ۴ | شعيب عَلَيْهِ السَّلام قام ته نهه سوه پنځوس (۹۵۰) کاله دعوت ورکړے ؤ ـ | | |
| ۵ | دَ شعيب عَلَيْهِ السَّلام دَ قام نه ظالمان زوردارې چغې ونيولو | | |

**راځئ!!! مونږه خپله جائزه واخلو:**

| شمېره | عملونه | جي او | کافي حده پوري | دَ کوم حده پوري | اراده ده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | آيا مونږه نورو لره دَ هغوي حق پوره پوره ورکوو؟ | | | | |
| ۲ | آيا مونږ دَ نورو دَ نقصان رسولو نه بچ ئي وو؟ | | | | |
| ۳ | آيا مونږ دَ نورو د پاره هغه څه خوښوو چې کوم دَ ځان د پاره خوښوو؟ | | | | |
| ۴ | آيا مونږ دَ مظلوم سره ئي وو؟ | | | | |
| ۵ | آيا مونږ خلقو لره په نورو باندې دَ زياتي کولو نه منع کوو؟ | | | | |

**معلوم کړئ:** دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په لاره کښې کوږوالے تلاش کول، شعيب عَلَيْهِ السَّلام دَ خپل قام په انجام افسوس نۀ کول، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ ورکړے شوي فائدې او رزق وضاحت دَ خپلو اساتذه کِرامو نه معلوم کړئ ـ

**کړئ:**

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ ،فساد، ناپ، رجم، معبودان ، اطاعت، اصلاح، خاندان، تول

۱. شعيب عَلَيْهِ السَّلام خپل قام ته اوفرمائيل تاسو---------- او ---------- مۀ کموئ
۲. قام اوئيل اے شعيب! آيا ستا----------تا ته دا حکم کوي چې مونږ خپل---------- پرېږدو ـ
۳. قام شعيب عَلَيْهِ السَّلام ته اوئيل که چرته ---------- نۀ وے نو مونږ به تۀ ------ کړے وے ـ
۴. شعيب عَلَيْهِ السَّلام قام ته اوفرمائيل تاسو د---------- نۀ ويرېږئ او زما----------اوکړئ ـ
۵. شعيب عَلَيْهِ السَّلام قام ته اوفرمائيل تاسو په زمکه کښې د دې نه------ نه وروسته ---------- مۀ کوئ ـ

### ۶. دَ لاندې ليکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ په حديث شريف کښې په ناپ تول کښې په کمي کولو باندې کومه سزا ښودلې شوې ده؟

۲ ـ مدين قبيله څوک وو؟

۳ ـ خلقو لره په ازمائشونو کښې ولې مبتلا کړلے شو؟

۴ ـ حلال مال دَ کوم مال نه بهتر دے؟

۵ ـ قام شعيب عَلَيْهِ السَّلام ته کومې دهمکيانې ورکولې؟

سوچ وکړئ!!! تاسو خپله عيدي په خپله مرضى باندې خرچ کول غوښتل، چې په هغه باندې ستاسو دَ کور والا دغه عيدي لره دَ هغو دَ مرضى مطابق خرچ کولو اوئيل، نو په دې کښې به تاسو څۀ کوئ؟

## کورنی سرګرمي

- ❖ په لاره باندې روانو ته به مونږ ځنګه فائده رسوو د دې څه درې۳ صورتونه ولیکئ ـ
- ❖ دَ یوعالم نه په ناپ تول کښي دَ کمي وسیع (پراخه) مقصد معلوم کړئ د دې نه کم ازکم پنځهٔ صورتونه ولیکئ چي دَ کوم نه مونږه لره بچ کېدل پکار دي ـ
- ❖ ځنګلو نه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ نعمتونو یو نعمت دے ـ دَ خیل کور والا په مدد سره دَ ځنګلو نه په حاصلیدونکو

فرنیچر

شړه زمکه

سیل او تفریح

**صحت ورکونکے ماحول**

ګنده ماحول

غنم او حاصل



دَ اور د بلولو

دَ سیلاب بندید

غذا

ښختي اوسیمنټ

په باران کښي

اکسیجن

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

## قصّه یونس عَلَیْهِ السَّلَام

## تعارف (پېژندګلو)

يونس بن متّٰى عَلَيْهِ السَّلام دَ هود عَلَيْهِ السَّلام دَ نسل نه دے ـ په قرآنِ حكيم كښې دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام ذكر"ذوالنون" او" صَاحِبِ اَلْحُوْتِ" يعني دَ مهي والا په لقب سره شوے دے ـ يونس عَلَيْهِ السَّلام ته دا لقب د دې وجې نه وركړے شو چې يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ مهي په خېټه كښې ژوندے او سلامت ؤ او په دې دوران كښې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ تسبيح وئيله ـ دَ قرآنِ حكيم لسم سورت "سُوْرَة يونس" دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام په نوم باندې دے ـ دَ سُوْرَة يونس آيت:۹۸ كښې دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام ذكر راغلے دے ـ دَ سُوْرَة يونس نه علاوه سُوْرَة النِّسَاء (آيت:۱۶۳)، سُوْرَة الانعام (آيت:۸۶)،سُوْرَة الانبياء (آيت:۸۷و۸۸)، سُوْرَة الصّٰفّٰت (آيت:۱۳۹تا۱۴۸) او سُوْرَة القلم (آيت:۴۸تا۵۰) كښې هم دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام ذكر راغلے دے ـ

## دَ نينوىٰ ښار حالت

[illegible] ته رسول جوړ كړو او وې لېږلو ـ دَ ښار آبادي دَ يو لاكهه نه زياته وه ـ نينوىٰ د درياے دجله په غاړه يو غټ لوے او روښانه ښار ؤ ـ د دې ښار كهنډرات دَ موجوده عراق موصل ښار قريب موندلے شي ـ

## دَ قام دَ كفر او دَ نۀ منلو حال

[illegible] وو ـ يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ ځو كالو پورې هغوي ته دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ پېغامات ورسول، مګر په هغوي باندې ئې هيڅ اثر نۀ كولو او هغوي دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام انكار او مخالفت كولو ـ

## قام ئې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب نه ويرولو

دَ پوخ انكار كېدلو په وجه چې كله په اهلِ نينوىٰ باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ عذاب نازلېدلو فېصله وشوه، نو يونس عَلَيْهِ السَّلام خپل قام خبر كړو چې اوس دَ درې۳ ورځو نه وروسته په تاسو باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ عذاب راځي ـ چې كله دَ عذاب په وعده پوره كېدلو كښې څۀ وخت پاتې شو، نو يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ خپل قام په كفر او نافرمانۍ باندې ناراضه شو او دَ خپل نينوىٰ ښار نه جدا لاړے، چې كله دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه دَ خپل قام پرېښودل او تللو تراوسه باقاعده اجازت نۀ ؤ وركړے شوے ـ په داسې موقع باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ سنت دا وي چې رسول په خپله مرضى باندې خپل كلے نۀ پرېږدي ترڅو چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه باقاعده دَ هجرت حكم نۀ وي شوے، مګر دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ سره دَ مضبوط تعلق په بناء باندې يونس عَلَيْهِ السَّلام دا امېد كولو جلد لاړلے چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه اجازت مېلاو شوے دے ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ داسې هجرت كولو په وجه باندې د دې قام په معامله كښې نرمي وكړه ـ

## په قام باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عذاب سېورے

دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ تګ نه وروسته په قام باندې دَ عذاب آثار په نظر راغلل ـ په نينوىٰ ښار باندې توره وريځ راغله او تور لوګے د دې قام کورونو طرف ته ورمخکښې کيدلو ـ خلقو چې دَ عذاب آثار وليدلو، نو ويريدل ـ په دې وخت دوي دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام تالاش شروع کړلو او چې کله هغه ميلاو نۀ شو، نو اهلِ نينوىٰ سخت پرېشانه شو ـ هغوي ته يقين وشو چې دا خلق دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په عذاب ګرفتارېدونکي دي دَ کوم نه چې يونس عَلَيْهِ السَّلام ويرول ـ

## دَ قام اجتماعي توبه

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب سيورے ئې چې وليدلو، نو دَ ښار ټول خلق دَ خپلو بچو، ښځو او څاروو سره بهر مېدان ته راووتل ـ دوي دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په حضور کښې دَ خپلو ګناهونو اقرار اوکړلو او دَ عذاب نه ئې پناه وغوښتله ـ پوره قام په الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ باندې ايمان راوړلو او ټولو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ مخې ته دومره وژړل چې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ دوي توبه قبوله کړله او دَ دوي نه عذاب وروسته شو ـ

## يونس عَلَيْهِ السَّلام په کشتۍ کښې

يونس عَلَيْهِ السَّلام خپل قام دَ الله دَ عذاب نه ويرولو، دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ طرف نه دَ واضح اجازت ميلاويدلو نه مخکښې ئې هجرت وکړلو دَ ښار نه بهر راغلے ـ د دې دا خيال ۇ چې په دې اقدام باندې به مونږ په دۀ تنګي را نۀ ولو ـ هغه دا هم غوښتله چې دَ عذاب دَ مقام نه جدا شي ـ هغه په يوه ډکه کشتۍ کښې سور شو ـ کشتۍ څه وخته پورې په درياب کښې په آرام سره روانه وه مګر بيا په درياب کښې طوفان راغلو او په غټو چپو کښې دَ مسافرو نه ډکه کشتۍ په بَدَه طريقه اولټه کېدله ـ سخته انديښنه پېدا شوله چې پوره کشتۍ دَ ټولو مسافرو سره په درياب کښې ډوبه شي ـ دې کشتۍ والا دَ خپلې تجربې په بنياد باندې مسافرو ته اووئيل چې په دې کشتۍ کښې دَ خپل آقا (مالک) نه څوک راتښتېدلے غلام دے تر څو چې دا په درياب کښې وا نۀ ارچولے شي، تر هغه وخته پورې دا کشتۍ نۀ شي بچ کېدلے ـ په دې باندې خلقو په مشوره سره درې ځله قرعه اندازي وکړه (خسنړے) او درې ځله قرعه (خسنړے) دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام په نوم راووتلو ـ دَ خلقو دَ نۀ غوښتلو باوجود بالاخر يونس عَلَيْهِ السَّلام پخپله خپل ځان درياب ته واچولو د دې د پاره چې باقي خلق بچ شي ـ

## يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ مهي په خېټه کښې

الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ هم غټ مهي ته حکم وکړلو چې يونس عَلَيْهِ السَّلام بغېر دَ نقصان نه تېر کړي ـ مهي يونس عَلَيْهِ السَّلام په حفاظت سره

په خپله خېټه کښې کېښودلو او یونس عَلَیْهِ السَّلام ئې د دریاب په ویخ کښې ګرځولو ـ

## دَ یونس عَلَیْهِ السَّلام کېفیت او آواز

دَ مهي په خېټه کښې یونس عَلَیْهِ السَّلام دَ ډیرو غمونو سره مخامخ شو ـ دَ قام دَ ایمان نهٔ راوړلو غم، د دې تولو پرېشانو او غمونه دَ نجات واحد صورت یونس عَلَیْهِ السَّلام ته دغه په نظر راغلے چې یونس عَلَیْهِ السَّلام دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ تسبیح اووائي او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په حضور کښې استغفار اووائي، نو دَ مهي په خېټه کښې او دَ دریاب په ژورو تیارو کښې یونس عَلَیْهِ السَّلام الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په دې الفاظبانډي یاد کړو:۔ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٨٧﴾
(اے الله!) نشته هیڅ لائق دَ عبادت مګر تهٔ یې، تهٔ پاک یې، بېشکه هم زهٔ له نقصان والو څخه یم ـ (سُوْرَة الانبیاء۲۱، آیت:۸۷)

## دَ غم نه نجات

یونس عَلَیْهِ السَّلام د مهي په خېټه کښې څو ورځې ؤ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ هغهٔ دعا قبوله کړله او یونس عَلَیْهِ السَّلام ته ئې نجات ورکړلو ـ که چرته یونس عَلَیْهِ السَّلام داسې تسبیح نهٔ کولے، نو دَ قیامت دَ ورځې پورې به دَ مهي په خېټه کښې وے ـ

## یونس عَلَیْهِ السَّلام په هموار مېدان بانډي

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په حکم بانډي مهي یونس عَلَیْهِ السَّلام دَ یو هموار مېدان په کناره (غاړه) بانډي اوغورځولو ـ یونس عَلَیْهِ السَّلام دَ مهي په خېټه کښې دَ اوسیدلو دَ وجې نه بې حده کمزورے شوے ؤ ـ په کوم ځاے ئې چې یونس عَلَیْهِ السَّلام وغورځولو، هغه یو هموار مېدان ؤ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ معجزانه طور بانډي هلته دَ یو کدو بوټے پېدا کړو چې دَ یونس عَلَیْهِ السَّلام د پاره غذا، شفا او دَ آرام ذریعه جوړه شوه ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په خپل خاص رحمت او فضل سره یونس عَلَیْهِ السَّلام جلت جلت صحت مند کړو ـ

## یونس عَلَیْهِ السَّلام خپل قام طرف ته واپس راتلل

یونس عَلَیْهِ السَّلام چې کله صحت مند شو. نو الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ ویلم ځل دغه قام یعني اهلِ نینوئ طرف ته دَ لېږلو حکم وکړو ـ دَ نینوئ والو دَ یونس عَلَیْهِ السَّلام په واپس راتللو بانډي ډېر زیات خاشحاله شو ـ پوره قام په یونس عَلَیْهِ السَّلام بانډي ایمان راوړلو او بیا هغه خلق دَ یونس عَلَیْهِ السَّلام په هدایت بانډي دَ عمل کولو والا شو او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په تابعداری کښې زندګي تېرولو والا شو ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ یو مقرر وخته پورې دوي ته دَ ژوند سازوسامان مهیَّا کړلو ـ

## دَ یونس عَلَیْهِ السَّلام په قیصه کښې زمونږ د پاره سبق

دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسولانو تابعداري کولو والا او دَ توبې او استغفار کولو والا دَ عذاب نه بچ کېږي ـ مونږ لره هم همېشه د پاره دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ او دَ هغهٔ دَ رسول خاتم الانبياء سيدنا مُحَمَّد مصطفیٰ ﷺ اطاعت پکار دے. چې کوم خلق د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ په بارګاه کښې رښتوني توبه اوباسي، نو هغه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ دَ عذاب نه بچ کېږي ـ البته دَ اجتماعي عذاب نه دَ بچ کېدلو د پاره اجتماعي توبه ضروري ده ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ تسبيح او تقديس او دَ هغهٔ ذکر او په صبر کولو سره دَ انسان پرېشانی جدا او مشکلات حل کولے شي ـ مونږ لره هم دَ انبياءکِرام عَلَيْهِم السَّلام تابعداري کول په خوشحالی او تکليف دواړو حالتونو کښې همېشه دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ يادول پکار دي او په مشکلات باندې صبر کول پکار دي ـ

> **آيا تاسو پوهيږئ**
>
> په انساني تاريخ کښې دَ يونس عَلَيْهِ السَّلام قام واحد قام دے، چې دَ اجتماعي توبې او اِستغفار په وجه په دې قام باندې لېږلے شوے عذاب بند شولو ـ

## یونس عَلَیْهِ السَّلام او دَ یونس عَلَیْهِ السَّلام دَ قام مقام

نقشه

## سُوْرَة الصّٰفّٰت

سُوْرَة الصّٰفّٰت ۳۷،ټول آیاتونه:۱۸۲،ټولې رکوع ګانې:۵

تعارف (پېژندګلو): سُوْرَة الصّٰفّٰت مکي سُوْرَة دے چې د دې په شروع کښې الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ ملائکو قِسمونه بیان کړي دي ـ په دې سُوْرَة کښې دَ توحید دلائل، دَ وحې حفاظت او دَ آخرت متعلق دَ کافرانو سوالونو جوابونه ذکر دي ـ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ تابعدارو بندګانو د پاره دَ جنت نعمتونه او دَ نافرمانو د پاره دَ جهنَّم دَ

مختلفو عذابونو بیان دے — په دې سُوْرَة کښې دَ اتۀ (۸) انبیاءکِرام عَلَيْهِمِ السَّلام واقعات ذکر دي — دَ سُوْرَة په آخر کښې دَ جنّاتو (پیرانو) او ملائکو دَ اصل مقام بیان دے، دَ سُوْرَة په اختتام باندې دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ غالب کېدلو بشارت او دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ عظمت بیان دے —

| |
|---|
| اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.... بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| زۀ د الله په پناه کښې راځم د شېطان رټلي شوي نه — — — — — — — خاص دَ الله په نوم شروع کوم چې لوے مهربان او نهایت رحم کولو والا دے — |
| وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ۙ۰۰۱ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۙ۰۰۲ |
| قسم دے (د ملائکو) په صف جوړونکو ډلو باندې، صف جوړول — بیا (شېطانانو لره) په شړونکو (ملائکو دے) سخت شړل — |
| فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۙ۰۰۳ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ؕ۰۰۴ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ |
| بیا د ذکر په لوستونکو باندې —چې بېشکه ستاسو معبود یقینًا یو دے — چې د اسمانونو او زمکې رب دے |
| وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ؕ۰۰۵ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا |
| او د هغۀ څۀ چې د دواړو په مېنځ کښې دي او د مشرقونو رب دے — بېشکه مونږ (زمکې ته) زیات نزدې اسمان |
| بِزِيْنَةِ اِۨلْكَوَاكِبِ ۙ۰۰۶ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ۚ۰۰۷ |
| په زینت سره ښایسته کړے دے، چې ستوري دي او له هر سرکشه شېطان نه مو ښۀ ساتلے دے — |
| لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ۖۗ۰۰۸ دُحُوْرًا |
| دغه (شېطانان) تر تولو لوړ مجلس ته غوږ نۀ شي نیولے او دوي له هره طرفه ویشتل شي د شړلو لپاره |
| وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۙ۰۰۹ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۰۰۱۰ |
| او د دوي لپاره همېشنے عذاب دے — غېر له هغۀ (شېطان) نه چې وتښتوي یو کرت تښتونه، نو په دۀ پسې شي لمبه رڼا کوونکې — |
| فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ا |
| نو تۀ له دوي نه پوښتنه وکړه چې آیا دوي د تخلیق په لحاظ ډېر سخت دي، یا هغه چې مونږ پېدا کړي دي؟ |
| اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ۰۰۱۱ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ۰۰۱۲ |
| بېشکه مونږ دوي له سرېښناکې خټې نه پېدا کړي دي — بلکې تۀ (د دوي په انکار) تعجب کوې، په داسې حال کښې چې دوي (په تا پورې) مسخرې کوي — |
| وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ۰۰۱۳ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ۰۰۱۴ |
| او کله چې دوي ته نصیحت وکړے شي، دوي پند (نصیحت) نۀ اخلي — |

| |
|---|
| او کله چې دوي کومه (نښه دلیل) ووینې، (نو ورپورې) ډېرې مسخرې کوي ـ |
| وَقَالُوۡٓا اِنۡ هٰذَآ اِلَّا سِحۡرٌ مُّبِيۡنٌ ۰۰۱۵ ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا |
| او وائي چې نهٔ دے دا (چې مونږ ولیدهٔ) مګر ښکاره جادو ـ آیا کله چې مونږ مړهٔ شو او خاورې او هډوکي شو، |
| ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ۰۰۱۶ اَوَاٰبَآؤُنَا الۡاَوَّلُوۡنَ ۰۰۱۷ قُلۡ |
| آیا په رښتیا به مونږ خامخا بیا ژوندي راپاڅول کېږو؟ ـ او آیا زمونږ ړومبني پلارونه هم؟ـ تهٔ (دوي ته) اووایه |
| نَعَمۡ وَاَنۡتُمۡ دَاخِرُوۡنَ ۰۰۱۸ فَاِنَّمَا هِيَ زَجۡرَةٌ وَّاحِدَةٌ |
| هو! په داسې حال کښې چې تاسو به ذلیل هم ئې وئ ـ پس همدا خبره ده چې هغه (قیامت) خو یوه چغه ده، |
| فَاِذَا هُمۡ يَنۡظُرُوۡنَ ۰۰۱۹ وَقَالُوۡا يٰوَيۡلَنَا هٰذَا يَوۡمُ الدِّيۡنِ ۰۰۲۰ هٰذَا يَوۡمُ الۡفَصۡلِ |
| نو ناڅاپه به دوي ګورې ـ او دوي به وائي: اے زمونږ هلاکته! دا د بدلې ورځ ده ـ دا د فېصلې ورځ ده، |
| الَّذِيۡ كُنۡتُمۡ بِهٖ تُكَذِّبُوۡنَ ۰۰۲۱ اُحۡشُرُوا الَّذِيۡنَ |
| هغه ورځ چې تاسو به د دې تکذیب کولو ـ الله تعالٰي به ملائکو ته اووائي:) تاسو راټول کړئ هغه کسان |
| ظَلَمُوۡا وَاَزۡوَاجَهُمۡ وَمَا كَانُوۡا يَعۡبُدُوۡنَ ۰۰۲۲ |
| چې ظلم (شرک) ئې کړے دے او د دوي جوړې (د عقیدې ملګري) او هغهٔ چې دوي به یې عبادت کولو ـ |
| مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ فَاهۡدُوۡهُمۡ اِلٰى صِرَاطِ الۡجَحِيۡمِ ۰۰۲۳ وَقِفُوۡهُمۡ اِنَّهُمۡ |
| له الله نه غېر، نو تاسو دوي د دوزخ په لاره روان (او برابر) کړئ ـ او دوي ودروئ، بېشکه له دوي نه |
| مَّسۡـُٔوۡلُوۡنَ ۰۰۲۴ مَا لَكُمۡ لَا تَنَاصَرُوۡنَ ۰۰۲۵ بَلۡ هُمُ الۡيَوۡمَ مُسۡتَسۡلِمُوۡنَ ۰۰۲۶ |
| پوښتنې کول شي ـ په تاسو څهٔ دي چې یو له بله سره مرسته نهٔ کوئ؟ ـ بلکې دوي نن ورځ (پخپله) تسلیمېدونکي دي ـ |
| وَاَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ يَّتَسَآءَلُوۡنَ ۰۰۲۷ قَالُوۡٓا |
| او د دوي ځینې به ځینو نورو ته مخ ور واړوي، یو تر بله به پوښتنې کوي ـ و به وائي (کشران مشرانو ته) |
| اِنَّكُمۡ كُنۡتُمۡ تَاۡتُوۡنَنَا عَنِ الۡيَمِيۡنِ ۰۰۲۸ قَالُوۡا بَلۡ لَّمۡ تَكُوۡنُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ۰۰۲۹ |
| بېشکه هم تاسو وئ چې مونږ ته به په زور سره راتللئ ـ و به وائي (مشران په جواب کښې) بلکې تاسو پخپله ایمان راوړونکي نهٔ وئ ـ |
| وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيۡكُمۡ مِّنۡ سُلۡطٰنٍ ۚ بَلۡ كُنۡتُمۡ قَوۡمًا طٰغِيۡنَ ۰۰۳۰ |
| او زمونږ لپاره په تاسو باندې هېڅ زور (تسلط) نهٔ ؤ، بلکې تاسو پخپله سرکشه قام وئ ـ |

| |
|---|
| فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ إِنَّا لَذَآئِقُونَ ٣١ |
| نو په مونږه باندې زمونږ د رب خبره ثابته شوه، یقینًا مونږ خامخا (عذاب لره) څښکونکي يو ـ |
| فَأَغْوَيْنَٰكُمْ إِنَّا كُنَّا غَٰوِينَ ٣٢ |
| نو مونږ تاسو ګمراه کړئ، بېشکه مونږ (پخپله هم) ګمراهان وو ـ |

## اَهمي نکتي

| |
|---|
| پس بېشکه دوی په دغه ورځ په عذاب کښې سره شریکان دي ـ بېشکه مونږ له مجرمانو سره هم داسې کوو ـ |
| إِنَّهُمْ كَانُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ٣٥ |
| بېشکه دوی (داسې)وو چې کله به دوی ته اوئیل شول چې له الله نه غیر هېڅ لایق د عبادت نشته (نو) دوی به تکبر کولو ـ |
| وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓا۟ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍۭ ٣٦ |
| او دوی وایې چې آیا یقینًا مونږ په رښتیا سره د یو لېوني شاعر له وجې نه خپل معبودان (خدایان) پرېښودونکي یو ـ |

| |
|---|
| بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ۰۰۳۷ اِنَّكُمْ |
| (داسي نۀ ده) بلكې دغه (نبي) حق (دين) راوړے دے او د رسولانو تصديق يې كړے دے ـ بېشكه تاسو |
| لَذَآىِٕقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ۚ۰۰۳۸ وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۙ۰۰۳۹ |
| خامخاډېر دردونكي عذاب لره څښكونكي ئې وئ ـ او تاسو ته بدله نۀ دركولے كېږي مګر د هغو عملونو چې تاسو به كول ـ |
| اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۰۰۴۰ اُولٰٓىِٕكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ۙ۰۰۴۱ فَوَاكِهُ ۚ |
| لېكن د الله غوره كړے شوي بندګان ـ دغه كسان چې دي، د دوی لپاره معلومه روزي ده ـ چې (رنګارنګ) مېوي دي، |
| وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ۙ۰۰۴۲ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۙ۰۰۴۳ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ۰۰۴۴ |
| په داسي حال كښې چې دوی به عزتمند كړے شوي وي ـ د نعمتونو په باغونو كښې ـ (چې ناست به وي) په تختونو يو بل ته مخامخ ـ |
| يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَاْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۙ۰۰۴۵ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚۖ۰۰۴۶ |
| په دوی به د روانو صافو شرابو جامونه ګرځولے شي ـ چې تك سپين به وي، د څښكونكو لپاره به خوندور وي ـ |
| لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ۰۰۴۷ وَعِنْدَهُمْ |
| نۀ به په هغو كښې سر خوږی وي او نۀ به دوی د دغو (شرابو) په وجه نشه كولے شي ـ او له دوی سره به |
| قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ۙ۰۰۴۸ كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ۰۰۴۹ |
| د (خپل) نظر رامنع كونكې غټو سترګو والا حورې وي ـګويا كښې دوی پټې ساتل شوې هګۍ دي ـ |
| فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ۰۰۵۰ قَالَ قَآىِٕلٌ مِّنْهُمْ |
| نو د دغو (جنتيانو) ځينې به ځينو نورو ته مخ راوګرځوي، چې سره تپوس به كوي ـ په دوی كښې يو ويونكی به ووايي: |
| اِنِّيْ كَانَ لِيْ قَرِيْنٌ ۙ۰۰۵۱ يَّقُوْلُ اَىِٕنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ۰۰۵۲ ءَاِذَا مِتْنَا |
| بېشكه زما يو دوست ؤ ـ وئيل به يې: آيا يقينًا تۀ خامخا له تصديق كونكو ځينې يې؟ـ آيا كله چې مونږ مړۀ شو |
| وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ۰۰۵۳ قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ۰۰۵۴ |
| او خاورې او هډوكي شو، آيا بېشكه مونږ ته به خامخا جزا راكولے شي ـ وبه وايي: آيا تاسو كتونكي ئې وئ؟ـ |
| فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ۰۰۵۵ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ۙ۰۰۵۶ |
| نو وبه ګوري، نو هغه به (د دوزخ)په مېنځ كښې ووينې ـ و به وايي (كتونكی):قسم په الله! بېشكه شان دا ؤ چې تۀ نزدې وې |
| وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ۰۰۵۷ |
| چې ما هلاك كړې ـ او كه زما د رب نعمت نۀ وی (نو) خامخا زۀ به له حاضر كړی شوو څخه ووم ـ |

| |
|---|
| اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ۙ۵۸ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ۵۹ |
| آيا نو مونږ مړۀ کېدونکي نۀ يو ـ زمونږ له ړومبي مرگ نه غېږ او مونږ په عذاب کړې شوي نۀ يو ـ |
| اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۶۰ |
| بېشکه دا يقينًا هم دغه ډېر لوے برى دے ـ |

## اَهمې نکتې

| |
|---|
| لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ٠٠٦١ اَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا اَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّوْمِ ٠٠٦٢ |
| د دغو (نعمتونو) مثل لپاره دې عمل کونکي عمل وکړي ـ آیا دغه د مېلمستیا په لحاظ غوره دي، یا د زقوم ونه ـ |
| اِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِيْنَ ٠٠٦٣ اِنَّهَا شَجَرَةٌ |
| بېشکه مونږ دغه (ونه) د ظالمانو (مشرکانو) لپاره فتنه (او عذاب) ګرځولې ده ـ بېشکه دغه داسې ونه ده |
| تَخْرُجُ فِيْٓ اَصْلِ الْجَحِيْمِ ٠٠٦٤ طَلْعُهَا كَاَنَّهٗ رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ٠٠٦٥ فَاِنَّهُمْ |
| چې د دوزخ په بېخ کښې راوخي ـ د دغې وږي، ګویا کښې هغه د شېطانانو سرونه دي ـ پس بېشکه دوی به |
| لَاٰكِلُوْنَ مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ٠٠٦٦ ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ |
| خامخا له هغې نه خوړونکي وي، نو له هغې نه به د خپلو خېټو ډکونکي وي ـ بیا بېشکه دوی ته به |
| عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ٠٠٦٧ ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ٠٠٦٨ |
| د هغې له پاسه د ایشول شوو اوبو ګډون وي ـ بیا بېشکه د دوی ورتله خامخا لمبې وهونکي اور ته دي ـ |
| اِنَّهُمْ اَلْفَوْا اٰبَاۗءَهُمْ ضَاۗلِّيْنَ ٠٠٦٩ فَهُمْ عَلٰٓي اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُوْنَ ٠٠٧٠ |
| بېشکه دوی خپل پلارونه ګمراه موندلي دي ـ نو دوی د هغوی په قدمونو پسې په ډېرې تېزۍ سره منډې وهي ـ |
| وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ اَكْثَرُ الْاَوَّلِيْنَ ٠٠٧١ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا فِيْهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ٠٠٧٢ |
| او یقینًا له دوی نه مخکښې د ړومبنو خلقو اکثره ګمراه شوي دي ـ او یقینًا مونږ په دوی کښې وېرونکي پېغمبران لېږلي وو ـ |
| فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِيْنَ ٠٠٧٣ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ٠٠٧٤ |
| نو ته وګوره چې د وېرول شوو انجام څنګه ؤ؟ ـ لېکن د الله غوره کړي بندګان (له عذاب نه خلاص دي) ـ |
| وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ٠٠٧٥ وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ |
| او یقینًا مونږ ته نوح اواز وکړو، نو (مونږ) ښۀ جواب ورکونکي یو ـ او مونږ هغۀ ته او د هغۀ کورنۍ ته |
| مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ٠٠٧٦ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ٠٠٧٧ |
| له ډېر لوے غم نه نجات ورکړو او مونږ د هغۀ اولاده، بس هم هغه باقي پاتې کېدونکي وګرځوله ـ |
| وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ٠٠٧٨ سَلٰمٌ عَلٰي نُوْحٍ فِي الْعٰلَمِيْنَ ٠٠٧٩ |
| او مونږ په دۀ باندې په وروستنیو خلقو کښې (مدح او ثنا) پرېښودله ـ په عالمونو کښې دې په نوح سلام وي ـ |
| اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ٠٠٨٠ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ٠٠٨١ |
| بېشکه مونږ نېکانو ته هم داسې بدله ورکوو ـ بېشکه هغه زمونږ د |

| |
|---|
| مؤمنو بندګانو څخه ؤ ـ |
| ثُمَّ اَغۡرَقۡنَا الۡاٰخَرِيۡنَ ٠٠٨٢ وَاِنَّ مِنۡ شِيۡعَتِهٖ لَاِبۡرٰهِيۡمَ ۘ ٠٠٨٣ |
| بيا مونږ هغه نور (کافر) خلق غرق کړل ـ او بېشکه د هغهٔ له ملګرو څيني خامخا ابراهيم دے ـ |
| اِذۡ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلۡبٍ سَلِيۡمٍ ٠٠٨٤ اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ وَقَوۡمِهٖ |
| (ياد کړه) کله چې هغهٔ خپل رب ته په ډېر روغ زړهٔ سره راغے ـ کله چې هغهٔ خپل پلار او خپل قوم ته اوئيل: |
| مَاذَا تَعۡبُدُوۡنَ ۚ ٠٠٨٥ اَئِفۡكًا اٰلِهَةً دُوۡنَ اللّٰهِ تُرِيۡدُوۡنَ ؕ ٠٠٨٦ |
| څه شے دے چې تاسو يې عبادت کوئ؟ ـ أيا تاسو د دروغو (او باطلو) لپاره له الله پرته معبودان غواړئ؟ ـ |
| فَمَا ظَنُّكُمۡ بِرَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ٠٠٨٧ فَنَظَرَ نَظۡرَةً فِى النُّجُوۡمِ ۙ ٠٠٨٨ فَقَالَ اِنِّىۡ سَقِيۡمٌ ٠٠٨٩ |
| نو په رب العالمين مو ستاسو څه ګمان دے ـ نو په ستوريو کښې نظر يې واچوه، يو نظر ـ نو وې وئيل: بېشکه زهٔ ناجوړه يم ـ |

آيا تاسو پوهيږئ

دَ مفسِّرينو دَ يو رائے مطابق آزر دَ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام دَ پلار نوم ؤ ـ څهٔ مؤرِّخينو وئيلي دي چې دَ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام دَ پلار نوم تارخ او دَ هغهٔ لقب آزر ؤ ـ چې کله دَ مفسِّرينو دَ يو جماعت مطابق دَ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلام دَ پلار نوم تارخ شو، نو دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ توحيد قائل ؤ او دَ ترهٔ نوم يې آزر ؤ چې په شرک کښې مبتلا شوے ؤ او ترهٔ ته په عربی محاوره کښې پلار وائي ـ

اَهمې نکتې

| |
|---|
| فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِيْنَ ٩٠ فَرَاغَ إِلٰى اٰلِهَتِهِمْ |
| نو دوی له هغه نه وګرځېدل، په داسې حال کښې چې شا کونکي وو ـ نو د دوی معبودانو (بتانو) ته پټ راغے، |
| فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ٩١ مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ٩٢ |
| نو وې وئيل: آيا تاسو (دا خوراکونه) نۀ خورئ؟ـ په تاسو څۀ شوي دي چې تاسو خبرې نۀ کوئ؟ـ |
| فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ٩٣ |
| نو په مهارت سره يې په دوی باندې راباندې کړل، په داسې حال کښې چې په ښي لاس سره وهونکے ؤ ـ |
| فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ يَزِفُّوْنَ ٩٤ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا |
| نو هغوی (مشرکانو) دۀ ته متوجه شول، چې ورپسې منډې يې وهلې ـ دۀ اوئيل: آيا تاسو د هغۀ څۀ عبادت کوئ |
| تَنْحِتُوْنَ ٩٥ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ٩٦ |
| چې تاسو يې (پخپله) تراشئ ـ حال دا چې الله تاسو او هغه عملونه چې تاسو يې کوئ، پېدا کړي دي ـ |
| قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ٩٧ |
| دوی اوئيل: د دۀ لپاره يوه ودانۍ جوړه کړئ، بيا تاسو دا په لمبې وهونکي اور کښې واچوئ ـ |
| فَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ٩٨ وَقَالَ |
| نو دوی له دۀ سره د فريب اراده وکړه، نو مونږ هم دوی تر ټولو زيات ذليله کړل ـ او دۀ (ابراهيم) اوئيل: |
| اِنِّيْ ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّيْ سَيَهْدِيْنِ ٩٩ رَبِّ هَبْ لِيْ |
| بېشکه زۀ خپل رب ته تلونکے يم، زر به هغه ما ته لاره اوښائي ـ اے زما ربه! تۀ ما ته (زوے) راکړې، |
| مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ١٠٠ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ١٠١ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ |
| چې له صالحانو څخه وي ـ نو مونږ دۀ ته د ډېر حلم والا هلك زېرے ورکړو ـ نو کله چې هغه (هلك) له د (خپل پلار) سره منډې وهلو ته ورسېدۀ، |
| قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْٓ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْٓ اَذْبَحُكَ |
| وې وئيل: اے زما خوږه زويه! بېشکه زۀ په خوب کښې وينم داسې چې بېشکه زۀ تا ذبحه کوم، |
| فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰى قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ |
| نو تۀ وګوره چې ستا څۀ رايه ده؟ هغۀ اوئيل: اے زما پلار جانه! تۀ هغه کار وکړه چې تا ته يې امر کول شي، |
| سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ١٠٢ فَلَمَّآ اَسْلَمَا |

| |
|---|
| زر ده چې که الله وغواړي، ته به ما له صبر کونکو څخه ومومې ـ نو کله چې دواړو غاړه کېښوده |
| وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا ا |
| او هغه یې په اړخ څملاوه ـ او مونږ ده ته اواز وکړو، داسې چې اے ابراهیمه ـ یقیناً تا خوب رښتیا کړو، |
| إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ |
| بېشکه مونږ نیکي کوونکو ته هم داسې بدله ورکوو ـ بېشکه دا، یقیناً هم دغه ښکاره ازمېښت ؤ ـ |
| وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ |
| او مونږ ده (اسماعیل) ته په ډېرې لویې ذبیحې سره خلاصے ورکړو ـ |

فرمانِ نبوی ﷺ: "(عید الاضحیٰ) د قربانۍ په ورځ د ابنِ آدم هیڅ یو عمل د څاروي د وینې تویه ولو نه زیات (د الله په نزد) خوښ نهٔ دے ـ (جامع ترمذی)

## اَهمې نکتې

عمل کول پکار دي ـ پکار ده چې د دې د پاره خپل محبوب ترین څیز ولې قربان نهٔ کړے شي ـ

| |
|---|
| وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ۝١٠٨ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ۝١٠٩ |
| او مونږ باقي پرېښود په دۀ باندې وروستنيو خلقو کښې ـ دا چې سلام دې وي په ابراهيم ـ |
| كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝١١٠ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١١١ |
| نېکانو ته مونږ هم داسې بدله ورکوو ـ بېشکه هغه زمونږ له مؤمنو بندګانو ځينې دے ـ |
| وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝١١٢ وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ |
| او مونږ دۀ ته د اسحاق زېرے ورکړو، په داسې حال کښې چې نبي ؤ، له صالحانو نه ـ او برکت اچولے ؤ مونږ په دۀ (اسمٰعيل) باندې |
| وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ۭ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ۝١١٣ |
| او په اسحاق باندې، او د دې دواړو په اولاد کښې څوک نېکي کونکے دے او څوک په خپل ځان باندې ښکاره ظلم کونکے دے ـ |
| وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰي مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۝١١٤ وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝١١٥ |
| او يقينًا يقينًا مونږ په موسیٰ او هارون احسان وکړو ـ او مونږ دغو دواړو ته او د دغو دواړو قام ته له ډېر لوے غم نه نجات ورکړو ـ |
| وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ۝١١٦ وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ۝١١٧ |
| او مونږ د دوی مدد وکړو، نو هم دوی غالبه شول ـ او مونږ دغو دواړو ته ډېر واضحه کتاب ورکړے ؤ ـ |
| وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝١١٨ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ۝١١٩ |
| او مونږ دغو دواړو ته نېغه لاره ښودلې وه ـ او مونږ په دواړو باندې په وروستنيو خلقو کښې باقي پرېښوده ـ |
| سَلٰمٌ عَلٰي مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۝١٢٠ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۝١٢١ |
| دا چې سلام دې وي په موسیٰ او هارون ـ بېشکه مونږ نېکي کونکو ته هم داسې بدله ورکوو ـ |
| اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ۝١٢٢ وَاِنَّ اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝١٢٣ |
| بېشکه دغه دواړه زمونږ د مؤمنو بندګانو ځينې دي ـ او بېشکه الياس خامخا له رسولانو ځينې دے ـ |
| اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ۝١٢٤ اَتَدْعُوْنَ بَعْلًا وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخٰلِقِيْنَ ۝١٢٥ |
| (ياد کړه)، هغه وخت چې دۀ خپل قام ته اوئېل: ولې تاسو نۀ وېرېږئ! ـ آيا تاسو بعل (بت) بولئ او تر ټولو ښۀ پيدا کونکے ذات پرېږدئ ـ |
| اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَاۗىِٕكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ۝١٢٦ فَكَذَّبُوْهُ |
| چې الله دے، چې ستاسو رب دے او ستاسو د ړومبنو پلارانو رب دے ـ نو هغوی د دۀ تکذيب وکړو، |
| فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ۝١٢٧ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ۝١٢٨ |

| |
|---|
| نو بېشکه هغوی به خامخا حاضرولے شي ـ د الله له خالص کړے شوو بندګانو نه غېر (چې دوی د هغه تکذیب و نهٔ کړو) |
| وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ۝١٢٩ سَلَامٌ عَلَىٰ إِلْ يَاسِينَ ۝١٣٠ إِنَّا |
| او باقي پرېښود مونږ په دهٔ باندې په وروستنیو خلقو کښې ـ چې په الیاسین دې سلام وي ـ بېشکه مونږ |
| كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۝١٣١ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ۝١٣٢ وَإِنَّ لُوطًا |
| نېکي کونکو ته هم داسې بدله ورکوو ـ بېشکه هغه زمونږ له مؤمنو بندګانو څینې دے ـ او بېشکه لوط |
| لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ۝١٣٣ إِذْ نَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ۝١٣٤ |
| له رسولانو څینې دے ـ (یاد کړه) هغه وخت چې مونږ دهٔ ته او د دهٔ کورنۍ ته، ټولو ته نجات ورکړو ـ |
| إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ۝١٣٥ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ۝١٣٦ |
| غیر له یوې بوډۍ نه چې په باقي پاتې کېدونکو کښې وه ـ بیا مونږ نور (ټول) خلق هلاك کړل ـ |
| وَإِنَّكُمْ لَتَمُرُّونَ عَلَيْهِمْ مُصْبِحِينَ ۝١٣٧ وَبِاللَّيْلِ ۗ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝١٣٨ |
| او بېشکه تاسو په دوی تېرېږئ، په دې حال کښې چې سبا کونکي ئې وئ ـ او په شپه کښې هم، آیا نو تاسو عقل نهٔ کاروئ ـ |
| وَإِنَّ يُونُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ۝١٣٩ إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ۝١٤٠ |
| او بېشکه یونس خامخا له رسولانو څینې دے ـ (یاد کړه) هغه وخت چې هغه ډکې کشتۍ ته وتښتېدهٔ ـ |
| فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ ۝١٤١ فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ |
| نو دهٔ قرعه واچوله، نو شو (په قرعه کښې) له مغلوب کړے شوو څینې ـ نو ښوے تېر کړو هغهٔ لره مهي (کب) |
| وَهُوَ مُلِيمٌ ۝١٤٢ فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ ۝١٤٣ |
| په دې حال کښې چې هغه (د خپل ځان) ملامت کونکے ؤ ـ نو که دا خبره نهٔ وے چې بېشکه هغه له تسبیح ویونکو څخه ؤ ـ |
| لَلَبِثَ فِي بَطْنِهِ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ۝١٤٤ |
| (نو) خامخا دا به د هغه (کب) په خېټه کښې تر هغې ورځې پورې پاتې ؤ چې دوی به بیا ژوندي راپاڅولے شي ـ |
| فَنَبَذْنَاهُ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ سَقِيمٌ ۝١٤٥ وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِنْ يَقْطِينٍ ۝١٤٦ |
| نو مونږ هغه په ډاګه مېدان کښې وغورځولو، په دې حال کښې چې ناروغ ؤ ـ او مونږ په دهٔ باندې د یو کدو ونه را زرغون کړه ـ |
| وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ۝١٤٧ فَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ إِلَىٰ حِينٍ ۝١٤٨ |
| او مونږ دې لېږلے ؤ سل زرو خلقو ته بلکې دوی زیات وو ـ نو دوی ایمان راوړو، نو مونږ دوی ته تر یو وخته پورې نفع ورکړه ـ |
| فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ۝١٤٩ |

| |
|---|
| نو ته له دوی نه پوښتنه وکړه، آیا ستا د رب لپاره لونه دي او د دوی لپاره زامن دي؟ ـ |
| اَمۡ خَلَقۡنَا الۡمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمۡ شٰهِدُوۡنَ ۰۰۱۵۰ اَلَاۤ اِنَّهُمۡ |
| یا که مونږ ملائك ښځې پیدا کړي دي، په داسې حال کښې چې دوی حاضر وو ـ خبردار! بېشکه دوی |
| مِّنۡ اِفۡكِهِمۡ لَيَقُوۡلُوۡنَ ۙ۰۰۱۵۱ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمۡ لَكٰذِبُوۡنَ ۰۰۱۵۲ |
| له خپلو بدترو دروغو څخه خامخا (داسې) وایي ـ الله اولاد زیږولے دے او بېشکه دوی یقینًا دروغژن دي ـ |
| اَصۡطَفَى الۡبَنَاتِ عَلَى الۡبَنِيۡنَ ؕ۰۰۱۵۳ مَا لَكُمۡ ۟ |
| آیا هغه (الله د ځان لپاره) لونه غوره کړي دي په زامنو باندې ـ په تاسو څه شوي دي، څرنګه تاسو |
| كَيۡفَ تَحۡكُمُوۡنَ ۰۰۱۵۴ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ۚ۰۰۱۵۵ اَمۡ لَكُمۡ سُلۡطٰنٌ مُّبِيۡنٌ ۙ۰۰۱۵۶ |
| (دا) فېصله (او حکم) کوئ؟ ـ آیا تاسو نصیحت نهٔ اخلئ ـ آیا تاسو لپاره څه واضحه دلیل شته؟ ـ |
| فَاۡتُوۡا بِكِتٰبِكُمۡ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ۰۰۱۵۷ وَجَعَلُوۡا بَيۡنَهٗ |
| نو تاسو خپل کتاب راوړئ، که چرې تاسو رښتیني ئې وئ ـ او دوی د هغه (الله) په مینځ کښې |
| وَبَيۡنَ الۡجِنَّةِ نَسَبًا ؕ وَلَقَدۡ عَلِمَتِ الۡجِنَّةُ اِنَّهُمۡ لَمُحۡضَرُوۡنَ ۙ۰۰۱۵۸ |
| او د پېریانو په مېنځ کښې نسب (د خپلوۍ نسبت) مقرر کړو او یقینًا یقینًا پېریان په دې پوهه شوي دي چې بېشکه دوی به خامخا حاضر کړے شي ـ |
| سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوۡنَ ۙ۰۰۱۵۹ اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ۰۰۱۶۰ |
| الله لپاره پاکي ده له هغو (خبرو) نه چې دوی یې وایي ـ لېکن د الله خالص (غوره) کړے شوي بندګان (له دغو خبرو نه بچ دي) ـ |
| فَاِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ ۙ۰۰۱۶۱ مَاۤ اَنۡتُمۡ عَلَيۡهِ بِفٰتِنِيۡنَ ۙ۰۰۱۶۲ |
| پس بېشکه تاسو او هغه چې تاسو یې عبادت کوئ ـ نهٔ ئې وئ تاسو په دې (بت پرستۍ) سره ګمراه کونکي (په فتنه کې اچوونکي د هیچا) ـ |
| اِلَّا مَنۡ هُوَ صَالِ الۡجَحِيۡمِ ۰۰۱۶۳ وَمَا مِنَّاۤ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعۡلُوۡمٌ ۙ۰۰۱۶۴ |
| غېر له هغهٔ چا نه چې هغه په دوزخ کښې ننوتونکے دے ـ او په مونږ کښې هیڅوك نشته مګر د هغه لپاره معلوم ځاے دے ـ |
| وَّاِنَّا لَنَحۡنُ الصَّآفُّوۡنَ ۚ۰۰۱۶۵ وَاِنَّا لَنَحۡنُ الۡمُسَبِّحُوۡنَ ۰۰۱۶۶ وَاِنۡ كَانُوۡا لَيَقُوۡلُوۡنَ ۙ۰۰۱۶۷ |
| او بېشکه خامخا مونږ صف تړونکي یو ـ او بېشکه مونږ خامخا تسبیح ویونکي یو ـ او بېشکه چې خامخا دوی به وئېل ـ |
| لَوۡ اَنَّ عِنۡدَنَا ذِكۡرًا مِّنَ الۡاَوَّلِيۡنَ ۙ۰۰۱۶۸ لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الۡمُخۡلَصِيۡنَ ۰۰۱۶۹ |
| که چرې مونږ سره د پخوانیو خلقو (له کتابونو) نه کوم ذکر (کتاب) وے ـ (نو) خامخا مونږ به د الله خالص (او غوره) کړے شوي بندګان وو ـ |

| |
|---|
| فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ١٧٠ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ١٧١ |
| نو دوی په دغه (قرآن) سره کافر شول، نو زر ده چې دوی به پوهه شي ـ او یقینًا زمونږ خبره زمونږ د لېږل شوو (رسولانو) بندګانو لپاره صادر شوې ده ـ |
| اِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ١٧٢ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ١٧٣ |
| چې بېشکه دوي، خامخا هم دوی مدد کړے شوي دي ـ او بېشکه زمونږ لښکر، خامخا هم دوی غالب راتلونکي دي ـ |
| فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ١٧٤ وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ١٧٥ |
| نو تهٔ له دوی نه مخ وګرځوه، تر یو وخته پورې ـ او دوی ته ګوره، نو زر ده چې دوی به (خپل انجام) وویني ـ |
| اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ١٧٦ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ١٧٧ |
| اَیا نو دوی زمونږ د عذاب تلوار کوي ـ نوکله چې هغه د دوی په مېدان کښې نازل شي،نو د وېرول شوو سبا به بد وي ـ |
| وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ١٧٨ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ١٧٩ سُبْحٰنَ رَبِّكَ |
| او تهٔ له دوی نه مخ وګرځوه تر یو وخته پورې ـ او تهٔ ګوره، نو زر ده چې دوی به وویني ـ ستا رب لره پاکي ده |
| رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ١٨٠ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ١٨١ |
| چې د عزت (او غلبې) مالك دے، له هغو خبرو نه چې دوی (مشرکان) یې بیانوي ـ او سلام دې وي په رسولانو باندې ـ |
| وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ١٨٢ |
| او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د عالمونو ښهٔ پالونکے دے ـ |

## دَ علم او عمل خبرې

١ ــ ملائک دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ د پاره عاجزي کوي او همېشه دَ هغهٔ په احکاماتو باندې عمل کوي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:١تا٣)
٢ ــ دَ کافرو سرداران او دَ هغوي پېروي کولو والا به دَ قيامت په ورځ په خپل مېنځ کښې جګړې کوي او دَ خپلې ګمراهۍ الزام به په يو بل باندې لګوي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:٢٧تا٢٩)
٣ ــ دَ غلطو خلقو دوستانه دَ تباهۍ او هلاکت ذريعه ده ــ د دې وجې نه مونږ لره دَ غلطو خلقو دَ دوستۍ نه بچ کېدل پکار دي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت: ٥٠ تا٥٧)
٤ ــ دَ مرګ نه بعد دوباره ژوند او دَ حساب کتاب نه انکار کولو والا ټهکانه به په جهنم کښې وي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:٥٣ تا٥٥)
٥ ــ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ به ايمان والو ته او نيکو بندګانو ته په دنيا او آخرت دواړو کښې بهترينه بدله ورکړي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:٧٩تا٨١)
٦ ــ بُتْ او دَ دروغو معبود خپل ځان دَ نقصان نه نهٔ شي کولے، نو مشرکين به څهٔ بچ کړي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت: ٨٥ تا٩٨)
٧ ــ مونږ لره خپل محبوب ترين څيز دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ په لاره کښې دَ قربانولو د پاره تيريدل پکار دي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:٩٩تا١١١)
٨ ــ دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ تسبيح و تقديس او دَ هغه ذکر کولو نه دَ انسان پريشانۍ جدا او مشکلات حل کيږي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:١٤١تا١٤٥)
٩ ــ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ خپل غوره رسولان يواځې نهٔ پرېږدي دَ هغوي ضرور مدد کوي ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:١٧٢،١٧١)
١٠ــ په ټولو انبياءکِرام عَلَيْهِم السَّلَام باندې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالىٰ دَ طرف نه دَ سلامتۍ وعده ده ــ (سُوْرَة الصّٰفّٰت، آيت:١٨١)

## ځان پوهه کړئ او حل ئي کړئ

۱ـ دَ کالم (الف) هره جمله دَ کالم (ب) د صحيح جملي سره کرښه ولګوئ:

کالم (الف)

کالم (ب)

- يونس عَلَيْهِ السَّلَام
- يونس عَلَيْهِ السَّلَام قام لره
- مهي يونس عَلَيْهِ السَّلَام لره
- اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ دَ يونس عَلَيْهِ السَّلَام د پاره
- "ذالنون" او "صاحب الحوت"

- دَ يونس عَلَيْهِ السَّلَام لقب دے ـ
- يوه دَ کدو ونه رازرغون کړله ـ
- قام ئي دَ اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ دَ عذاب نه ويرولے ؤ ـ
- دَ عذابِ اِلٰهی آثار ئي وليدل، نو توبه ئي ويستله

۲ ـ دَ لاندي جملو په باره کښي اوښائي چي دا دَ چا قول دے.

| شمېره | جملي | اللہ تعالٰي | يونس عليه السلام | ملائک | کفار |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بيا مونږ هغه په هموار مېدان باندي وغورځولو په داسي حال کښي چي هغه بيمار ؤ ـ | | | | |
| ۲ | **ستا نه سېوا بل معبود نشته دے، تهٔ پاک** ئې، يقينًا زهٔ دَ نقصان کونکو نه يم ـ | | | | |
| ۳ | او يقينًا مونږ صف تړونکي ولاړ ئي وو ـ | | | | |
| ۴ | که چرته زمونږ سره دَ اولنو خلقو څهٔ دَ نصيحت (کتاب) وے، نو يقينًا مونږ به دَ اللہ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ دَ خالص بندګانو نه وے ـ | | | | |
| ۵ | تا رشتيا خوب ليدلے دے مونږ نيکو خلقو لره دغه شان بدله ورکوو ـ | | | | |

۳ ـ په لاندي ليکلي شوي جملو باندي صحيح (✓) يا غلط (X) نښه ولګوئ:

| شمېره | جملي | صحيح | غلط |
|---|---|---|---|
| ۱ | دَ عراق په ښار نينوىٰ کښي دَ آبادي دوو لاکهو نه زياته وه ـ | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ | یونس عَلَیْهِ السَّلام د مهي په خېټه کښې د اوسېدلو د وجې نه بې حده کمزورے شوے ؤ ـ | | |
| ۳ | مهي چې په کوم ځاے کښې یونس عَلَیْهِ السَّلام غورځولے ؤ هغه یو آباد کلے ؤ ـ | | |
| ۴ | په نینوېٰ ښار باندې توره ورېځه راغله او تور لوګے د دې قام د کورونو طرف ته تللو ـ | | |
| ۵ | د عذابِ الٰهي سېورې لیدلو سره د ښار ټول خلق د خپل اهل وعیال سره مېدان ته اووتل ـ | | |

## ۴ ـ خالي ځایونه ډک کړئ :

(۱) یونس بن متی عَلَیْهِ السَّلام د نسل نه ؤ ـ

(۲) د یونس عَلَیْهِ السَّلام د تګ نه وروسته ------------- آثار په نظر راغلل ـ

(۳) یونس عَلَیْهِ السَّلام د مهي په خېټه کښې ----------------- کول ـ

(۴) د نینوېٰ ښار آبادي ------------------ نه زیاته وه ـ

(۵) نینوېٰ --------------------- په غاړه یو روښانه ښار ؤ ـ

**معلوم کړئ:** "بعل، اِل یاسین، د ملائکو وهل، د څه مشرقونو او د پاک زړۀ وضاحت د خپلو اساتذه کِرامو نه معلوم کړئ.

**د لاندې لیکلي شوو جملو سره په جوړو شوو خانو کښې د قیصو د ترتیب په لحاظ سره نمبر ورکړئ:**

- ○ یو غټ مهي د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په حکم سره یونس عَلَیْهِ السَّلام بغېر د څه نقصان رسولو نه تېرکړلو ـ
- ○ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ یونس عَلَیْهِ السَّلام ته دوباره اهلِ نینوېٰ طرف ته د تللو حکم وکړلو ـ
- ○ یونس عَلَیْهِ السَّلام د څو کالو پورې د نینوېٰ خلقو ته د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ پېغام ورسولو ـ
- ○ د نینوېٰ والو د الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰی په حضور کښې د خپلو ګناهونو اقرار وکړو د عذاب نه ئې پناه وغوښتله ـ
- ○ د نینوېٰ خلقو د خپل رسول عَلَیْهِ السَّلام انکار او مخالفت وکړلو ـ
- ○ د یونس عَلَیْهِ السَّلام د تګ نه بعد د عذاب آثار په نظر راغلل ـ

- دَ مهي په خېټه کښې يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ تسبيح او استغفار کولو ـ
- يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ عراق ښار نينوىٰ مشرکانو طرف ته رسول ليږلے شوے ؤ ـ
- يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ عذاب دَ مقام نه دَ لرې کيدلو په اراده باندې يوې ډکې کشتۍ ته سور شو ـ
- يونس عَلَيْهِ السَّلام دَ خپل قوم په کفر باندې دَ هغوي نه ناراضه شو او دَ نينوىٰ ښار نه جدا لاړلے ـ

دَ لاندې ليکلي شوو سوالونو جوابونه ورکړئ:

۱ ـ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ مونږه دَ کوم قسم خټې نه پيدا کړي وو؟

۲ـ چې کله کافرانو ته اووئيلے شي چې دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ نه سېوا بل معبود نشته، نو هغوي څه وائي؟

۳ ـ دَ جهنم دَ ونې زقوم په باره کښې چې کومې خبرې بيان شوي دي دَ هغو نه دوه وليکئ؟

۴ ـ کافر چې کله دَ الله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ يوه نشانه ويني، نو دَ دوي څۀ رويه وي؟

۵ ـ په دې سُوْرَة کښې دَ اتۀ (۸) انبياءکِرام عَلَيْهِم السَّلام واقعاتو ذکر راغلے دَ هغو نومونه وليکئ؟

سوچ وکړئ!!! تاسو دَ کور والو نه دَ تحفې فرمائش وکړئ او دغه تحفه تاسو ته میلاو شي ــ اوس که چرته دغه تحفه ستاسو ډیر نزدي دوست ستاسو نه اوغواړي، نو په دې صورت کښې به تاسو څه

## کورنۍ سرګرمي

- دَ خپل کور والو نه معلوم کړئ دَ شپږو ملائکو نومونه او دَ هغوي نومونه ولیکئ ــ
- دَ یو عالم نه معلوم کړئ چې مونږ دَ خپلې قربانۍ اجر او ثواب دَ ضائع کېدو نه دَ بچ کېدو د پاره دَ کومو خبرو خیال ساتل پکار دي او د دې نه درې۳ خبرې ولیکئ؟
- دَ ...

د استاد لاس لیک سره د تاریخ ________ د مور پلار لاس لیک/د مشر لاس لیک سره د تاریخ ________

تمّت بحمدالله سُبْحَانَهُ وَتَعَالیٰ بتاریخ:۱۴۴۴/ ۱۳ربیع الثاني بمطابق ۷نومبر/ ۲۰۲۲یوم الاثنین صباحًا احقر رضاءالله بن الحاج خان بادشاه باجوري